# پښتني

لیکوال

ډاکتر بسم الله امیر

ویانا - استریا

۱۹۹۱ ع

Download from; aghalibrary.com

# پښتني

PROPERTY OF ACKU
6677

لیکوال

ډاکټر بسم الله امیر

ویانا ـ استریا

۱۹۹۱ع

Download from; aghalibrary.com

## اهداء

هغه چا ته چې پښتو وایي او پښتو لیکي

# پېژندنه

ماخو بل تحقیقي کار درلود، نوي او زاړه پښتو کتابونه مې اړول را اړول په دې منځ منځ کې مې پام شو چې په تاریخ کې ډېرې داسې پښتنې تېرې شوې دي چې یو وخت یې توري او مړانې، ننګ او غیرت ته آسمان حیران و لکه بي بي شمسو، شاه بوړۍ او داسې نورې درواخلئ، خو زیات کسان یې له کارنامو لا نه دي خبر. نو مې له ځان سره وویل، راځه چې د پښتنو مېرمنو لنډ ژوند لیکونه سره راغونډ کم او چې راغونډ او برابر مې کړه، نو دغه کتاب ترې جوړ شو.

دا مجموعه دوه ښېګڼې لري، یو به د "نوم ښود" په توګه د هغو کسانو په کار شي چې په خپله لور یا کومه بله خپلوانه باندې پښتو یا د بهوی پښتنې نوم ایښودل غواړي، بل به دې کې د ډېرو داسې پښتنو مېرمنو نومونه او د ژوند لنډکي حالات شته چې ډېري کسانو ته به په زړه پوري وي.

د دې خبرې کول په کار دي چې له پخوا زمانو را هیسې، ان له هغو وختو را په دې خوا چې مونږ لیکلي او مدون آثار لرو، د ښځو نومونه لږ ثبت شوي دي. زه نور قومونه او اولسونه پرېږدم او یوازې د پښتنې ټولنې په باب وایم چې د پښتنې جامعې یو خصوصیت دا دی چې پښتنو نه غوښتل او نه غواړي د خویند و مېند و او لوڼو نومونه دې چا ته ښکاره وي. یوازې د هغو ښځو نومونه ضبط شوي دي چې یا پخپله واکمنې، شاعرانې او لیکوالې وې یا یې څه نور اجتماعي واک او قدرت درلود او یا د پاچایانو او نورو لویانو او مشرانو خویندې میندې او لوڼې کېدې، ډېر لږ پېښېږي چې چا دې د عادي ښځې نوم چېرې لیکلی وي. کله کله د لویانو ارتینې او خویندې میندې هم په اصلي نامه

(دوهم)

نه یاد یدی . بلکه خلکو به یې لقبونه اخیستل لکه مشرهاني . کشرهاني . توره ادي . . .
کله بیا د داسې یوې نیمې ښځې نوم چیرې لیکل شوی دی چې یو چاته خوا بدی تري
لیدلی ده لکه خوشحال چې له خپلو پورو وو ښځو ، مرجانی او توتیا ، سرټکوي
نومونه یې اخلی خو د نورو ارتینو نومونه چیري نه راوړي .
که له دغه پلوه پخوانی او وروستني پښتني ټولني سره پرتله کړو ، گورو چې له دې
موضوع سره پر و مینیو پښتنو له وروستنیو لږ حساسیت درلود . له متو او مهسو
(د ۱۰۰۴ ه شاوخوا) یې چې راونیسو او ښکته پسې راشو ، بیا د ادخیلو نو
او قومونو نومونو څخه وگورولکه فاطمه خیل ، مریم زی او د اسې نور ، نو د ښځو
بنا یسته یوزیات شمیر نومونه لاس ته راتلی شي ، خو په وروستیو وروکي داخبره
لا زیاته حساسه شوی او کوښښ شوی دی چې یوسړي ته د یې د چا د ښځې او خور
لور نوم نه وی ښکاره . که هغه د چا خبره له ځینو عصری کورنیو او تعلیمی مؤسسو
تیر شو ، نوان نن هم پښتنی ټولنی د اخصوصیت سا تلی دی او څوك چا ته د خپلو
ښځونومونه نه وړښیی .
سره له دومره قیود اتو او حساسیتونو ، بیا هم ښه ده چې که د اکثرونه دی
نو د یو شمیر پښتنو بیبیانو نومونه خو ضبط شوی دی . دا برسیره په خپل تاریخی
ارزښت ، یوه په زړه پوری موضوع هم ده . که سړی خبر شي چې مثلاً د خان کجو
مورڅه نومیده یا د شیخ رحمکار (ع) د مور نوم څه و .
ما د لته یوا زی د پښتنو میرمنو نومونه راوړی دی ، که یوه پښتانه څو ښځې
درلودي ، ما یې د هغې ارتینی نوم را اخیستی دی چې پښتنه وه ، نو که په
دې منځ کې تیروتلی یم او د کومې نه پښتنی نوم می راوړی وي ، راوړی به
می وي .

(دریم)

هو، په دې کې د یوشو مینځونو مونه راوړه شوی دی. ما ته نه ده ښکاره چې دغه مینځي پښتني وې او که نه؟ خو پښتو یې ژبه ده او د ځینو نارې هم راپاتې دي. ما که په یوه کتاب کې له یوه نامه سره د "بي بي" کلمه لیدلې ده، نو "بي بي" مې ورسره راوړې او چیرې چې نوم یوازې راغلی و، هغه مې یوازې راخیستی دی.

ما د هر مأخذ املاء ته کتلي دي او لاس مې نه دی پکې وهلی، له هر ځایه مې چې کومه توته راخیستې ده، لیکن د ودې مې هم هغه شان پرېښې دی.

تاسې ته به ښکاره وي چې سرې پښتو نسب نامې او شجرې پلتي، د نومونو او د هغه شان د نسبي سلسلو په برخه کې ډېر بیلو بیلو منابعو ترمنځ توپیرونه ګوري. نو ځکه چې زما کار د دغو اختلافونو څېړنه نه وه او خبره اوږده بده وه، سرسري ځني تیر شوی یم او که یو نیم ځای مې د غسې توپیرونه ښود لي وي، ښود لي به مې وي.

دا کتاب چې لومړی وار راووت، د چاپ شمیره یې لږ و او ډېر ژر ناپیدا شو. نو چې دوهم ځل چاپیده، ما سرتر پایه بیا وکوت، د یو شو نورو پښتنو بیبیانو ژوند لیکونه چې وروسته په لاس راغلي وو، هغه مې هم ورسره یو ځای کړه.

پوهاند ډاکټر بسم الله امیر
ویانا
اپریل ــ ۱۹۹۱

# په دې کتاب کې


| نوم | مخ |
| --- | --- |
| ١- آمنه | ١ |
| ٢- اسو | ١ |
| ٣- الائی | ١ |
| ٤- امانت بی بی | ٣ |
| ٥- امینه | ٣ |
| ٦- باجوړۍ | ٣ |
| ٧- بارخاتون | ٤ |
| ٨- بارکۍ | ٤ |
| ٩- بانو | ٤ |
| ١٠- ببوجانه | ٤ |
| ١١- بنبسۍ | ٥ |
| ١٢- ببسۍ | ٥ |
| ١٣- بخت بی بی | ٦ |
| ١٤- بدینه | ٦ |
| ١٥- بسکۍ | ٦ |
| ١٦- بسو | ٧ |
| ١٧- بسو | ٧ |
| ١٨- بسوۓ | ٨ |
| ١٩- بسۍ | ٨ |
| ٢٠- بصری | ٩ |
| ٢١- بله نسته | ٩ |
| ٢٢- بندۍ | ٩ |
| ٢٣- بیبن | ٩ |
| ٢٤- بیبو | ١٠ |
| ٢٥- بی بی | ١٢ |
| ٢٦- بی بی آیسه | ١٢ |
| ٢٧- بی بی امیره | ١٢ |
| ٢٨- بی بی انۍ غلجۍ | ١٢ |
| ٢٩- بی بی ایمنه | ١٣ |
| ٣٠- بی بی بائی | ١٥ |

| نوم | مخ | نوم | مخ |
|---|---|---|---|
| ۳۱- بي بي بسی | ۱٦ | ٤۸- بي بي ساره | ۲٦ |
| ۳۲- بي بي بصری | ۱٦ | ٤۹- بي بي ستاره | ۲٦ |
| ۳۳- بي بي بيگم | ۱٦ | ٥۰- بي بي سليم‌خاتون | ۲۷ |
| ۳٤- بي بي پياری | ۱۷ | ٥۱- بي بي سندو | ۲۷ |
| ۳٥- بي بي تاج | ۱۷ | ٥۲- بي بي شاهزاد گله | ۲۷ |
| ۳٦- بي بي حوره | ۱۸ | ٥۳- بي بي شمسو | ۲۹ |
| ۳۷- بي بي خالا | ۱۸ | ٥٤- بي بي شمسی خاتون | ۳۰ |
| ۳۸- بي بي خداونده | ۱۸ | ٥٥- بي بي شيخزادی | ۳۱ |
| ۳۹- بي بي خيرخاتون | ۱۹ | ٥٦- بي بي صاحبه | ۳۲ |
| ٤۰- بي بي رابعه | ۱۹ | ٥۷- بي بي صورت | ۳۲ |
| ٤۱- بي بي درياخاتون | ۲۰ | ٥۸- بي بي عائشه | ۳۳ |
| ٤۲- بي بي دور | ۲۰ | ٥۹- بي بي عائشه | ۳۳ |
| ٤۳- بي بي دويه | ۲۰ | ٦۰- بي بي فاطمه | ۳٤ |
| ٤٤- بي بي راجي | ۲۱ | ٦۱- بي بي فتح خاتون | ۳٤ |
| ٤٥- بي بي راستي | ۲۲ | ٦۲- بي بي فتحه | ۳٤ |
| ٤٦- بي بي زربانو | ۲۲ | ٦۳- بي بي کمال خاتون | ۳٥ |
| ٤۷- بي بي زينب | ۲۲ | ٦٤- بي بي گله | ۳٦٦ |

(د ری)


| نوم | مخ | نوم | مخ |
|---|---|---|---|
| ٦٥- بی بی گوهره | ٤١ | ٨١- تاروکه | ٤٨ |
| ٦٦- بی بی لاړو | ٤١ | ٨٢- تانو | ٤٨ |
| ٦٧- بی بی مبارکه | ٤١ | ٨٣- ترکۍ | ٤٩ |
| ٦٨- بی بی متو | ٤٢ | ٨٤- ترۍ | ٤٩ |
| ٦٩- بی بی مراد بخته | ٤٢ | ٨٥- ترینه | ٤٩ |
| ٧٠- بی بی مریمه | ٤٢ | ٨٦- تړکانۍ | ٤٩ |
| ٧١- بی بی مونده | ٤٣ | ٨٧- توتیا | ٥٠ |
| ٧٢- بی بی نورخاتون | ٤٣ | ٨٨- توتیا | ٥١ |
| ٧٣- بی بی نیکبخته | ٤٤ | ٨٩- توربیکۍ | ٥١ |
| ٧٤- بی بی یانه | ٤٥ | ٩٠- توره | ٥٢ |
| ٧٥- پائی | ٤٦ | ٩١- توره ادی | ٥٢ |
| ٧٦- پنجو | ٤٦ | ٩٢- تورۍ | ٥٢ |
| ٧٧- بی بیه | ٤٦ | ٩٣- جاریه | ٥٣ |
| ٧٨- تاج الحریرجوهر ملکه | ٤٦ | ٩٤- جمعیت بی بی | ٥٣ |
| ٧٩- تاج بی بی | ٤٧ | ٩٥- حره جلالی | ٥٣ |
| ٨٠- تاج بی بی | ٤٧ | ٩٦- حضرت بی بی | ٥٣ |

(څلور)


| نــوم | مــخ | نــوم | مــخ |
|---|---|---|---|
| ۹۷ــ حلیمه حافظه | ٥٤ | ۱۱۳ــ د رۍ | ٥۹ |
| ۹۸ــ خاتمه بي بي | ٥٥ | ۱۱٤ــ د نۍ | ٦۰ |
| ۹۹ــ خاتــونه | ٥٥ | ۱۱٥ــ د وړه | ٦۰ |
| ۱۰۰ــ خانو | ٥٥ | ۱۱٦ــ د ولتۍ | ٦۰ |
| ۱۰۱ــ ختوړ ه | ٥٦ | ۱۱۷ــ د هر ملکه | ٦۰ |
| ۱۰۲ــ خد ي | ٥٦ | ۱۱۸ــ را بعه | ٦۰ |
| ۱۰۳ــ خد یجه | ٥٦ | ۱۱۹ــ را بعه | ٦۱ |
| ۱۰٤ــ خنجا | ٥٦ | ۱۲۰ــ را بیا | ٦۱ |
| ۱۰٥ــ خوا بکانی | ٥۷ | ۱۲۱ــ را بیا خر وټــي | ٦۲ |
| ۱۰٦ــ خوا ره مشی | ٥۷ | ۱۲۲ــ را ټــۍ | ٦۳ |
| ۱۰۷ــ خو بی | ٥۷ | ۱۲۳ــ را ئی | ٦۳ |
| ۱۰۸ــ خیر خا تو نه | ٥۷ | ۱۲٤ــ رحمتی | ٦۳ |
| ۱۰۹ــ د تی | ٥۸ | ۱۲٥ــ رحیمه | ٦۳ |
| ۱۱۰ــ د ختر ه | ٥۸ | ۱۲٦ــ رضیه سلطا نه | ٦٤ |
| ۱۱۱ــ د رخانۍ | ٥۸ | ۱۲۷ــ رو ښا نه | ٦٤ |
| ۱۱۲ــ د ر د ا نه | ٥۹ | ۱۲۸ــ زخه | ٦٤ |

| نوم | مخ |
|---|---|
| ١٢٩– زربخته | ٦٥ |
| ١٣٠– زرغونه | ٦٥ |
| ١٣١– زرغونه ادی | ٦٦ |
| ١٣٢– زرغونه انا | ٦٦ |
| ١٣٣– زکیه | ٦٧ |
| ١٣٤– زلو | ٦٧ |
| ١٣٥– زلومغد ورزی | ٦٧ |
| ١٣٦– زلۍ | ٦٧ |
| ١٣٧– زلیخا | ٦٨ |
| ١٣٨– زلیخا | ٦٩ |
| ١٣٩– زینه | ٦٩ |
| ١٤٠– سایر | ٦٩ |
| ١٤١– سباکه | ٦٩ |
| ١٤٢– سپینه | ٧٠ |
| ١٤٣– ستاره | ٧١ |
| ١٤٤– سرداربی بی | ٧١ |
| ١٤٥– سرداربیگم | ٧٢ |
| ١٤٦– سرورسلطان | ٧ |
| ١٤٧– سنجتی | ٧٢ |
| ١٤٨– سنجره | ٧٢ |
| ١٤٩– سید بیگم | ٧٣ |
| ١٥٠– سیرۍ | ٧٣ |
| ١٥١– شاببینه | ٧٣ |
| ١٥٢– شاپا نهی | ٧٣ |
| ١٥٣– شاترینه | ٧٤ |
| ١٥٤– شارقه | ٧٧ |
| ١٥٥– شاه بانو | ٧٧ |
| ١٥٦– شاه بخته | ٧٧ |
| ١٥٧– شاه بوړۍ | ٧٧ |
| ١٥٨– شایسته | ٧٩ |
| ١٥٩– شکرخاتون | ٧٩ |
| ١٦٠– شمایله | ٨٠ |

| نوم | مخ |
|---|---|
| ١٦١— شمس‌خاتون | ٨٣ |
| ١٦٢— شمسو | ٨٣ |
| ١٦٣— شمسیه | ٨٣ |
| ١٦٤— شمو | ٨٣ |
| ١٦٥— شها | ٨٤ |
| ١٦٦— شهربانو | ٨٤ |
| ١٦٧— شهری | ٨٤ |
| ١٦٨— شهو | ٨٥ |
| ١٦٩— شیخزادۍ | ٨٥ |
| ١٧٠— شیربانو | ٨٥ |
| ١٧١— شیرۍ | ٨٦ |
| ١٧٢— شیرینو | ٨٦ |
| ١٧٣— شیرینه | ٨٨ |
| ١٧٤— شیرینه | ٨٩ |
| ١٧٥— شیرینه | ٨٩ |
| ١٧٦— ښایسته | ٨٩ |
| ١٧٧— صاحبجانه | ٩٠ |
| ١٧٨— صاحب‌خاتون | ٩٠ |
| ١٧٩— صاحبزادۍ | ٩٠ |
| ١٨٠— صاحبوعاجزه | ٩٠ |
| ١٨١— عالم‌خاتون | ٩١ |
| ١٨٢— عائشه | ٩١ |
| ١٨٣— عائشه | ٩١ |
| ١٨٤— عائشه | ٩٢ |
| ١٨٥— عایشه | ٩٢ |
| ١٨٦— عایشه | ٩٢ |
| ١٨٧— عجبه | ٩٢ |
| ١٨٨— عزیزبخته | ٩٣ |
| ١٨٩— عزیزه | ٩٣ |
| ١٩٠— علائی | ٩٣ |
| ١٩١— عوض‌بی‌بی | ٩٣ |
| ١٩٢— عینو | ٩٣ |

| نوم | مخ | نوم | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱۹۳– غازی ادی | ۹٤ | ۲۰۹– کظیفه | ۱۰۱ |
| ۱۹٤– فاطمه | ۹٤ | ۲۱۰– ککۍ | ۲۰۱ |
| ۱۹۵– فاطمه | ۹۵ | ۲۱۱– کوکۍ | ۱۰۱ |
| ۱۹٦– فاطمه | ۹۵ | ۲۱۲– ګګۍ | ۱۰۱ |
| ۱۹۷– فاطمه | ۹٦ | ۲۱۳– گل بشره | ۱۰۲ |
| ۱۹۸– فاطمه | ۹٦ | ۲۱٤– گل رو | ۱۰۳ |
| ۱۹۹– فرخنده | ۹٦ | ۲۱۵– گل غوټۍ | ۱۰۳ |
| ۲۰۰– فیروزبخته | ۹۷ | ۲۱٦– گلکۍ | ۱۰٤ |
| ۲۰۱– فیض‌بیگم | ۹۸ | ۲۱۷– گلنۍ | ۱۰٦ |
| ۲۰۲– قاشی | ۹۸ | ۲۱۸– گوهربیگم | ۱۰٦ |
| ۲۰۳– قدسی بیگم | ۹۸ | ۲۱۹– گوهره | ۱۰۷ |
| ۲۰٤– قندیفه | ۹۹ | ۲۲۰– گیلن | ۱۰۷ |
| ۲۰۵– قراری | ۹۹ | ۲۲۱– لابه ملکه | ۱۰۷ |
| ۲۰٦– قندهارۍ | ۱۰۰ | ۲۲۲– لابه وبی‌بی | ۱۰۹ |
| ۲۰۷– کانی | ۱۰۰ | ۲۲۳– لویه ادی | ۱۰۹ |
| ۲۰۸– کشرهانۍ | ۱۰۱ | ۲۲٤– لیلو | ۱۰۹ |

| نوم | مخ | نوم | مخ |
|---|---|---|---|
| ٢٢٥- مابي | ١١٠ | ٢٤١- مشره انۍ | ١١٦ |
| ٢٢٦- مامونۍ | ١١٠ | ٢٤٢- معصومه بيگم | ١١٦ |
| ٢٢٧- مانو | ١١٢ | ٢٤٣- مغلانۍ | ١١٦ |
| ٢٢٨- ماه ملکه | ١١٢ | ٢٤٤- ملاله | ١١٧ |
| ٢٢٩- مبارکه | ١١٢ | ٢٤٥- ملکه جبال | ١١٧ |
| ٢٣٠- متو | ١١٢ | ٢٤٦- ملکه خراسان | ١١٧ |
| ٢٣١- مرجانه | ١١٣ | ٢٤٧- ملکه گيلان | ١١٧ |
| ٢٣٢- مرجانه | ١١٣ | ٢٤٨- ملکه معزيه | ١١٨ |
| ٢٣٣- مرجانۍ | ١١٣ | ٢٤٩- موتيانۍ | ١١٨ |
| ٢٣٤- مرغۍ | ١١٤ | ٢٥٠- مولهه | ١١٨ |
| ٢٣٥- مريم | ١١٤ | ٢٥١- مهتاب بانو | ١١٩ |
| ٢٣٦- مريم خاتون | ١١٤ | ٢٥٢- مهر سلطانه | ١١٩ |
| ٢٣٧- مستوره | ١١٥ | ٢٥٣- مهۍ | ١١٩ |
| ٢٣٨- مستوره | ١١٥ | ٢٥٤- مهي | ١٢٠ |
| ٢٣٩- مستی | ١١٥ | ٢٥٥- ميمونه | ١٢٠ |
| ٢٤٠- مسري | ١١٦ | ٢٥٦- مينا | ١٢٠ |

| نوم | مخ | نوم | مخ |
|---|---|---|---|
| ۲۵۷- ناخه | ۱۲۰ | ۲۷۳- نیک زنه | ۱۲٦ |
| ۲۵۸- نازکو | ۱۲۱ | ۲۷٤- وزیری بی | ۱۲٦ |
| ۲۵۹- نازو | ۱۲۱ | ۲۷۵- وسیلی | ۱۲۷ |
| ۲٦۰- نازوتوخي | ۱۲۱ | ۲۷٦- ولی النساء بیگم | ۱۲۷ |
| ۲٦۱- نرمی | ۱۲۳ | ۲۷۷- ولی نعمته | ۱۲۷ |
| ۲٦۲- نظام بیگم | ۱٤٤ | ۲۷۸- ونسۍ | ۱۲۷ |
| ۲٦۳- نعمتخاتونه | ۱۲٤ | | |
| ۲٦٤- نندرکو | ۱۲٤ | | |
| ۲٦۵- نوابسکندر بیگم | ۱۲٤ | | |
| ۲٦٦- نوابسلطان جهان بیگم | ۱۲۵ | | |
| ۲٦۷- نوابشاهجهان بیگم | ۱۲۵ | | |
| ۲٦۸- نوابقدسیه بیگم | ۱۲۵ | | |
| ۲٦۹- نورۍ | ۱۲۵ | | |
| ۲۷۰- نوری | ۱۲۵ | | |
| ۲۷۱- نیازمنه | ۱۲٦ | | |
| ۲۷۲- نیک زنه | ۱۲٦ | | |

## لنډې نښې

| | |
|---|---|
| ارمغان | ارمغان خوشحال |
| پښتانه | پښتانه د تاریخ په رڼا کښې |
| پیښلیك | د افغانستان پیښلیك |
| تذکرة الابرار | تذکرة الابرار والاشرار |
| حیات | حیات افغانی |
| خلاصه | خلاصة الانساب |
| خورشید | تواریخ خورشید جهان |
| روښانیان | روښانیان د مغلو تاریکیان |
| طبقات | طبقات ناصری |
| مرصع | تاریخ مرصع |

بسم الله الرّحمن الرّحيم

PROPERTY OF ACKU 6677

## آمنه

د قاضي عبدالله ښځه او د میاروښان مور (وګورئ: بي بي ایمنه).

## اسو

د پرانګي په اولاده کي د اسحاق د زوی ملك یوسف د وه ښځي وې، پسوه کاکړه وه اسو (۱) نومیده چي نسو، ملك پهو او تاج دین یې زامن دي (۲) خو د وهمې ښځي په برخه کي یې اختلاف دی، ځیني وایي چي دا خیر و نومیده (۳)، په ځینو نورو ځایو کي خیرو یا چرو یا چر د یوسف زوی رلغلي دی. (٤)

## الائي

الائي د میاروښان د زوی جلال الدین د بي بي بصري ښځي لوروه (٥) او د شیخ عمر د زوی احداد ښځه کیده (٦)، د دې زوی عبدالقادر نومیده او لور یې دریا خاتون. (۷)

---

(۱) دا نوم د "تاريخ خانجهاني ومخزن افغاني" په ۸۰٥ مخ کي "اشو" دی.
(۲) مرصع، ٦١٦، ٦١۷ مخونه.
(۳) حیات، ۲۸۳ مخ.
(٤) خورشید، ۲۲۲ مخ. د نور تفصیل له پاره وګورئ: د تاریخ مرصع نوټونه ۱۳٦۹، ۱۳۷۰ مخونه.
(٥) حالنامه، ٤۷۰ مخ.
(٦) مرصع، ۲۰۲ مخ.
(۷) حالنامه، ٤٦۷ مخ.

د ۱۰۱۲ هـ په شاوخوا کې چې جلال الدین په غزني کې له هزارکانو سره په یوه جګړه کې ټپي شو ( ۸ ) ، نو چې مړ کېده ، مهریې له کوټي راوویست ، وصیت یې وکه چې دا مهر به احداد ته ورکوئ او خپله لور بي بي الائي یې هم ورمبارکه کړه احداد بیا په نکاح کړه . ( ۹ )

الائي ډېره ښایسته وه او خدای خوراښه خویونه ورکړي وو ، له احداده یې "خیر البیان" او "مقصود المؤمنین" له معنی سره لوستي وو ، یوه سخي او په خوارانو مهربانه مېرمن وه ( ۱۰ ) په احداد باندې زښته زیاته ګرانه وه او هېر کار به یې د دې په خوښه کاوه ( ۱۱ ) .

الائي د مغولو ضد مبارزه کې ستره برخه درلوده او د خپل مېړه احداد له مرګه وروسته یې هم د مغولو خلاف خپلو هڅوته دوام ورکه . احداد خو په کال ۱٦۱٦ ع ( ۱۰۲۵ هـ ) شهید شو ، نو د مغولو کومارلي مظفر چې د خیبر له لارې کابل ته وخوځېده ، الائي اورکزي ، اپریدي او خپل نور پلویان راټول کړه او د مغولو په لښکر ورتوییې شول ، پرته له یوې ښځې د مظفر کرد پوځ تار په تار او ووژل شو او په دې توګه بي بي الائي او زوی ته یې عبدالقادر ته یو د خدای ولجه په لاس ورغله او د پښتنو زور لا زیات شو . ( ۱۲ )

---

( ۸ ) په "روښانیان ، مخ ٤۷" کې راغلي دي چې جلال الدین په ۱۵۹۹ ع ( ۱۰۰۸ هـ ) کال په لوګر حمله وکړه او د هغه ځای ګور نو شریف یې له ښاره وویست . په "ارمغان مخ ۱۵" کې ویل شوي دي چې په کال ۱۵۹۲ ع ( ۱۰۰۱ هـ ) پاچاهي پوځونو . ۱٤۰۰۰ تاریکیان و نیوه ، جلال د غزني خواته لاړ او په هغه ښار یې حمله وکړه . په "پښتانه مخ ۷۰۵" کې هم په غزني د برید کال ۱۵۹۹ ع دی ، خو د غزني ګور نو شریف راوړی .

( ۹ ) حالنامه ، ۳۵۲ ، ۳۵۳ مخونه .

( ۱۰ ) همدغه کتاب ، د ٤۵٦ او ٤۵۷ ترمنځ مخ چې سهواً ٤۷۰ پرې لیکل شوی دی .

( ۱۱ ) مرصع ، ۲۰۲ مخ .

( ۱۲ ) روښانیان ، ٥٤ مخ .

کله چې عبدالقادر په خپل مرګ مړشو ، سید خان نائب الحکومه الائی او ورور یې عبدالرشید ، شاهجهان ته وروپیژندل ، شاهجهان بیا الائی ، عبدالرشید او څه نور روښانیان په درناوی د کن ته واستول او هلته یې ځکې ورکړې ( ۱۳ ) خو په "بایزید روښان" کې وایې چې الائی او عبدالقادر د مغولو خلاف وجنګېدل عبدالقادر یې له مور سره په چل ونیوا او د مغولو په لاس کې مړشو . ( ۱٤ )
په هند کې چې د بي بي الائی عمرپای ته ورسید ، خپلو لمسیانو قادرداد او مهدی داد ته یې وصیت وکه چې زما مړی به تیراته وړئ او د احداد له ځنګه به مې خښوئ ، بیا یې د دې مړی له وصیت سره سم تیرا ته ویوړ او د احداد تر څنګ یې خاورو ته وسپارله . ( ۱٥ ) دغه نوم د "دیوان کریمداد" په دیباچه کې "علائی" دی .

## امانت بي بي

د غلجیو د میرزاخیلو په ښځه کې او د نورالدین په اولاده کې د نواب غوث محمد ( ۱۲٤۲ هـ ) لور وه او د هندوستان په بوپال کې اوسیده . ( ۱٦ )

## امینه

د میاروښان مور ( وګورئ : بي بي ایمنه ) .

## باجوړه

د سنبل خان لور ( وګورئ : تړکا ښې ) .

---

( ۱۳ ) حالنامه ، ٤۷۱ مخ . روښانیان ، ٥٥ مخ .
( ۱٤ ) بایزید روښان ، ۳۰ مخ .
( ۱٥ ) حالنامه ، ٤۷۲ مخ .
( ۱٦ ) خورشید ، ۲۱۱ ، ۲۱۲ مخونه .

بارخاتون

د میارونبان یوه مرید ه وه . (١٧)

بارکۍ

د میارونبان یوه مرید ه وه . (١٨)

بانو

د ککی زوی شیتک د ری ښځی کړی وې چی یوه یی بانو نومیده (١٩) ، کیوی او سورانی د دې زامن دی . وایی چی د بانو اولاد ه د خپلی مور په نامه بنوچی (بنوڅی) یادیږی . (٢٠)

بیوجانه

بیوجانه د سید کمال محبوبه وه او سید کمال د کوزکونړ د شګې و ، د د وی د مینی د استان د دغی خوا په پښتنوکی شهرت لری . سید کمال د خپلی شهږ په مینه کی سوزناکه شعرونه ویلی د ی ، څنګه چی سید کمال د ١٢٥٠ او ١٣٥٠ ق کلونوترمنځ د وره کی راوړشوی دی ، نود بیوجانی د ژوند زمانه هم ددغو کلونوترمنځ ګڼل کیږی . (٢١)

---

(١٧) حالنامه ، ٨٩ مخ .
(١٨) هم دغه کتاب ، ٦٩ مخ .
(١٩) خورشید ، ٢٦٢ مخ : بنو .
(٢٠) حیات ، ٤١٦ او ٤٩٤ مخ .
(٢١) پښتانه شعراء ، ٢ ټوک ، ٦٠٩ مخ . د پښتو ادب تاریخ ، ١٠٤ مخ .

## ببسی

ببسی(٢٢) د فیروز لورکیده ، په ښته ترینه اود ښښین او کاکړستان د خواوو وه ، د ژوند زمانه یې نه ده ښکاره(٢٣) . د اد ګلمکی خورده چی سهیلی نومی ته یې ورکړی وه اود (موسی اوګلمکی) په نقل کی یی یاد ونه شوی ده(٢٤) .

## ببسی

بېی د میرویس لوروه اود مابی د مین ظریف خورکیده ، مورا وپلاریی چی مړه شول ، د وی یې تره خدري ته پاتی شول ، دغه وخت ظریف لوی و اود سود اګری له پاره هندوستان ته لاړ ، خو په بېی او بل ورور لال باندی یې تره زور زیاتی کاوه او بېی یې د ظریف پوه مریی سا ون ته ورکړه . کله چی ظریف د هندوستان له سفره راستون شو ، نوخپله نجل مابی خپله خور بېی اوخپل ورور لال یې د نور وله ظلمه راوویسته .

د " ظریف او مابی " په ستره (داستان) کی د ببسی ځینی ناري هم راغلی دی ، هغه وخت چی ظریف د هندوستان له سفره بیرته خپل وطن ته رارسیږی او په خپل کلی ننوزی ، نود ببسی سترګی پری لګیږی ، پری شکمنه کیږی اود اناره کوی :

(٢٢) په "ملی هنداره" کی راغلی دی چی : " څوك وایی نوم یې شا ببینه و " . څنګه چی د " ملی هنداری " دغه چاپ ډیری غلطۍ لری ، زه د دغه نامه په سم ضبط شکمن یم .

(٢٣) د " پښتانه شعراء " په لومړی ټوك کی د ٣٠٠ او ١٢٠٠ هـ تر منځ دوره کی راغلی ده .

(٢٤) پښتانه شعراء " ، ١ ټوك ، له ١٤٠ تر ١٤٤ مخه پوري . ملی هنداره ، ١ ټوك له ٧٠ تر ٩٤ مخه پوری .

که په وروځی د آس‌سپور په څه شان څنګه ورو وروځی (٢٥)
ما په خدای قسم درکړی تـه پـه اصل نسب څوک یی + های های په نسب څوک یی ؟

بخت بی بی

د کاله باغ په ملکانوکی د سرخ روحان د زوی ملک اعظم ښځه وه ، فتح خان او شیرخان د دی زامن دی.(٢٦)

بید یـنـه

د شیتك په اولاده کی د اعظم‌خان د زوی شاه‌بزرګ د بی بی ګوهری ښځی لور وه، څنګه چی شاه‌بزرګ د احمد شاه بابا (پاچاکید ل : ١١٦٠ هـ) معاصر دی (٢٧) نود دغی میرمنی د ژوند وخت هم د همدی کلونو شاوخوا ټاکل کیږی.

بسکی.

بسکی (٢٨) د آدم د مینی د رخانی د ترور لور وه ، ځای یی سوات واو د ژوند زمانه یی له ٩٥٠ هـ کاله را ورو سته ټاکل کیږی.
د رخانی خو قسم کړی وچی پرته له آدمه به پیاوی یا بل څوک میړه نه کم او

---

(٢٥) علی هنداره ، ٢ ټوک ، ٢٣ او ٢٤ مخ.
(٢٦) حیات ، ٦٤٩.
(٢٧) حیات ، ٦٦٠.
(٢٨) د "حیات افغانی" په ٢١٢ مخ کی د غه نوم "بسی" (بسی) د ی.

تر اوو پورې د ننه ناسته وه، خو د بسکې واده چې جوړ شو، نو بسکې خپلې
مور ته وویل چې ورشه د رخانۍ را وله څو زما واده وتیر کا، مور یې ورته
وویل چې هغه په ستر په خلوت کې ناسته ده. قسم یې کړې د باندې نه را وزي،
بسکې ویل له ما سره یې ژبه کړې د رسره راځي او که نه را تله یا یې پلار نه
د رسره کوله، نو ورته وو وایه که را نشي بسکې ځان وژني او خون به یې ستا له
غاړې وي. بیا د رخانۍ ورځي او هلته پټ مخ کیني، بیا هم دغه د بسکې کور
دی چې آدم ورځي، رباب ورته غږوي او د رخانۍ نژدې وه چې لوڅ سر
او بیلې پښې ورته را ووزي. (۲۹)

بســو

وایي د کند د زوې خبنې ارتینه وه مرجانه نومیده چې مندی او مک
د دې له نسه دې او ده مرجانې خوروه بسو یې نوم و، هغه هم را غله د
خبنې کره او سیده ه ورپسې متهزه شوه (۳۰) له هغې نه ترک پیدا شو (۳۱) .

بســو

په (خورشید جهان) کې کله چې د رامپور په روښا وو باندې غږېږي وایي
چې د کند د زوې عمر د وې بنځې وې، یوه بسو نومیده او بله مهېر. (۳۲)
زه تراوسه پورې د کند یوازې د وه زامن پیژنم، یو خبنې او بل غوریا.
عمر مې نظر ته نه دی راغلی، خو د دې خبرې کول په کار دي چې د خبنې د

---

(۲۹) ملي هنداره، ۲ توك، له ۵٦ تر ٦٧ مخه پورې.
(۳۰) د اتش پور روایت دی، د اچې د غه روایت سم دی که نا سم د ا پیله خبره ده.
(۳۱) مرصع، ۲۳۱ مخ. خورشید جهان، ۱۹۵ مخ. حیات، ۱۵۹ مخ.
تذکرة الابرار، ۴۷ مخ.
(۳۲) خورشید، ۱۸۹ مخ.

یوی ارتینی نوم (بسو) و .

بسوځ

د سیانی د لسی د اسمعیل د زوی مهپال بښځه وه ، اولاد ی ته یی (بسی) وایې (٣٣) . د ﻏﻪ نوم په بیلو بیلو ځایوکی په ول په ول راغلی دی ، لکه : پسنی پیسی ، هی ، مبنی ، بنی ، وبسی ، وه بسی . (٣٤)

بسی

د خلیلو د قبیلی وه ، کله چی اکبر مغول له لاهوره اټك ته راغی او په ښکاره بی د روښانیانو په برخه کی څه روغنیتی وښود ه ، جلال الدین ورغی او د روښان د کورنۍ ځینی غړی او څه نور روښانیان وروستل شول ، په د یو وکی یوه هم بسۍ وه . اکبر له بسۍ پوښتنه وکړه چی ته د کومی قبیلی یې ؟ هغی ځواب ورکه چی زه روښانۍ یم . اکبر ورته وویل چی زه پوهیږم ته روښانۍ یې ، خو پوښتنه کوم چی ته د کومی قبیلې یې ؟ دې ویل چی زما قبیله روښانۍ ده ، بل قوم او قبیله نلرم . د پاچا د اوینا په یره خوښه شوه او ورته وی ویل چی ستا قبیله دې روښانۍ وي ، بیانو د دې لقب " روښانۍ" شو او روښانۍ بلله کیده . (٣٥)

---

(٣٣) مرصع ، ٦١٦ مخ .
(٣٤) د زیاتو معلوماتو له پاره وګورئ : د تاریخ مرصع نوټونه ، ١٣٦٨ مخ .
(٣٥) حالنامه ، ٣٢٥ مخ .

## بصری

د فرید خان د زوی د رویښداد و ښځه وه ، د رویښداد و د میار وښان خلیفه و او د تیرا په مستوره کې اوسیده . د د رویښداد و د وه زامن وو او یوه لور ، زامن یې یو امیر محمد نومیده او بل شاه ولي او لور یې بي بي شا هزاد گله (۳٦) ، خونه د ه ښکاره چې د غه لور او زامن یې له همدې بي بي بصرۍ وو او که یې کومه بله ښځه هم وه .

## بله نسته

د آقا محمد لور وه ، د کندهار د زمیند اور په کردي باغران کې اوسیده او د شعر ویلو ذوق یې درلود ، د ژوند زمانه یې د ۱۳۰۰ هـ شا وخوا اټکل کیږي ، د دې یو څو بیته دادي :

بیا پر ما د بیلتا نه راغله غمونه نن بیا . چې یې کښینول پر زړه راته د لغونه نن بیا
ملا لي زرکي گرځي چې په غرو کښې په خوښه الوزي شیلو کښې
ما خو هم د رسره و اخله په چمبو کښې چې وګورم د لویو غرو سرونه نن بیا (۳۷)

## بنده ی

بنده ی د صوابۍ (۳۸) سیمې د (تورلا ندي) کلي د شاه محمد نومي لور وه او د شیر بانو د مین یوسف خا ن خور کیده . که د ا قصه د مغول اکبر په زمانه پوری اړه ولري ، نو د بنده ی د ژوند وخت د ۱۰۰۹ هـ (۱٦۰۰ ع) کال په شا وخوا کې اټکل کیږي ، (۳۹) .

## بیبن

د میار وښا ن مور ( وګورئ : بي بي ایمنه ) .

---

(۳٦) حالنامه ، ۲۲۵ ، ۲۲٦ ، ۲۲۸ مخونه .
(۳۷) پښتني میرمنې ، ۲٦ ، ۲۷ مخونه .
(۳۸) دا نوم په "عوامي قیصې" کې همدغه شان په "ص" لیکل شوی دی .
(۳۹) عوامي قیصې ، له ۲۹ تر ٤٤ مخه پوري .

بیبو

بیبو د علی محمد لور او د ښادی محبوبه وه . د وی د واړه د بکوا د تلخک
په کلی او سیدل او د ژوند زمانه یې له ۹۰۰ هـ مخکې اټکل کیږی(۴۰) . د
"بیبوا وښادی" داستان په "پښتانه شعراء" او "ملی هنداره"(۴۱)کې په
بشپړه توکه راغلی دی ، زه یې یوه برخه له "پښتانه شعراء" د لته را اخلم:
"وایی چه په پخوا زمانو کښې د وه وروڼه وه ، د بکوا د تلخک په کلی کښې
او سیدل یو ولی محمد او بل علی محمد نومیدی ، د ولی محمد زوی ښادی
او د علی محمد لور بیبو نومیده ، دا دوه تنه سره همزولی وه ، او هرکله
به یو ځای سره ملګری ګرځیدل ، چه لویان سول نو یوه ورځ په یوه ځنګله کښې وه
د بیبو پرتندی سپینی خولی راغلی ، نو ښادی خان چه پر بیبو مین و ، ددی
مخ ته وکتل ، مینی ئی د ځان ساتلو دانی ورونړوله او بیخوده سو ، بیبو ته
ئی د عشق او مینی اعلان وکړ او خوله ئی ځنی وغوښته !
مګر بیبو خو پښتنه ننګیالی پیغله وه ، پر د ې خپل پت او ناموس پر یرګران و ، نو
ئی ښادی ته وویل چه ته خو زما ګران مین یې ، مګر زه خو پښتنه یم ، ناموس
لرم ، پښتانه خو خپله لور وراره ته ورکوی ، نو ته هم ما ښا م زما پلار ته مرکه
وکه ، ما به په شرعی نکاح درکی ، نو به زه ستا یم او ته به زما ! دا خوښکاره ده
چه بیبو هم پر ښادی زړه بایللی و او تر ده یې بل څوک یو ښه مین او ملګری
نه درلود ، مګر د لته خو پښتنو اله او مینه سره راغله ، څرګند ه ده چه د پښتنو
د پښتنوالی احساس تر هر څه غالب دی ، نو ځکه بیبو خپل مین ته تسلیم نسوه .
تر دی واقعی وروسته موږ وینو چه هم بیبو او هم ښادی د عشق ځپو اخیستی

---

(۴۰) پښتانه شعراء ، ۱ ټوک ، ۱۱۶ مخ ، د تحفهٔ معصومی په استناد .
(۴۱) ملی هنداره ، ۱ ټوک ، له ۲۸ تر ۴۴ مخه پوری .

د ی، دوا ړه یو په بل پسې لیونې دي مګر قضا د وي ترمنځ بېلتون اچوي او ښادۍ د عشق، په سوی کې له وطنه ورکیږي، ځي اصفهان ته ... څه عمر وروسته د ښادي پلار ځي خپل زوی وطن ته راولي، د لته یو ه ګړۍ ښادي او بیبو سره وېني وروسته نو ښادي کوټې (کوټه) ته ځي ، له هغې خوا چه راځي، پر لاري اونږدي د خپلي محبوبې ګلی ته مري، بیبو او د ښادي خپلوان چه په خبریږي راځي ښادي مړ وېني، د لته پښتنه مینه د خپلي مینې او رښتینې عشق وفاداري ترسره کوي، راځي پر مین باندي لګه یو راکږي او ځان پر اچوي خوله پر خوله ور ایږدي او مري . د ښادي او بیبو خپلوان چه راځي ، ګوري چه بیبو هم ځان تر ښادي قربان کړي او د عشق په لمبو کې ستړ شوی د ه. وایې چه تر مرګ وروسته د وي د واړه یو ځای ښخوي، د دي د وو رښتینو مینو قبر ونه تر اوسه په دلارام کښې پر یوه لوړه غونډۍ موجود دی او خلق ئې په مینه زیارت کوي د وي د واړه په یوه قبر کې ښخ دي. بیبو یوه پتیا لې پښتنه وه او د خپل مین سره د اسې وفادار ه وه ، چه تر مرګ وروسته ئې ځان پر مین باندي واری کړ ، د ښادي خان په نقل کښې بیبو خورا د اوره ړکی ناري لري ، چه لاندي ئې د دي د وینا د نخښې په ډول راوړو:

چه ښادي ولاړ ، بیبو د ده په بیلتون وسوځله ، نو ئې پر خپلې مور داسې د ویرنار ه وکړه :

مورکې ورسه ! با بك خبر كه !

زړه مې .ړه و بیږي ! او ورالګیږي !

ښادي جان ورك سو ! نه راستو نیږي !

چه ښادي نه وي ! ژوند هیڅ نه دی بیبو ته ! (٤٢)

---

(٤٢) پښتانه شعراء ، ۱ ټوك ، له ۱۱۵ تر ۱۱۹ مخه پوري .

بسی بسی

د شیتك په اولا د ه کې د اعظم خان د زوی شا ه بزرگ د گوهر ې ښځې لور وه او سرد ا رجهان خان پوپلزی ته یـی ورکړ ی وه(۴۳) . څنگه چې سر د ار جهان خان د تـیمور شـا ه د زمـا نی (۱۱۸٦ هـ پا چا کیدل) سړی د ی ، نـو د بی بی د ژوند وخت هم د دغو کلونو شا وخوا د ه.

بی بی آیسه

د ستر مؤرخ او لوی مؤلف افضل خان خټك ښځه وه ، محمد علی او محمد حسن د دې زا من د یه(٤٤)

بی بی امیره

د کټې خیلو د مشر لور وه او دې د ستریانی یا ستوریانی د زوی تـري چی کټه اپور یا کټه پور به یـی باله د ښکلا او ښې ځوانۍ آوازه اورید لی وه ، نـه کتلی نه لیدلی پر ی مینه شوې وه ، په پا ی کې د کټه اپور کره ورغله او هغه په نکاح کړه ، د دې د رې زا من وو او یوه لور ، زا من یـی ابراهیم ، حسین اوعمران نومید ل اولور یـی خوبی (خوبۍ) (٤٥) .

بی بی انی غلجی (بی بی انۍ غلجۍ)

د سترعا رف شیخ متی (٦٨٨ هـ م) ښځه وه او شیخ متي له دغی ښځې د وه زامن د رلود ل ، یو خواجی اوبل ما نا(٤٦).

---

(٤٣) حیا ت ، ٦٦٠ مخ .

(٤٤) مرصع ، ٦٠٣ مخ .

(٤٥) خور شید ، ٢٨٠ او ٢٨١ مخ .

(٤٦) د پټې خزانې تعلیقات ، ٢١٤ مخ ، د مخزن افغانی د ٣٠٥ مخ په حوا له.

## بي بي ايمنه

ايمنه (٤٧) د حاجي ابابکر لور وه او د قاضي عبد الله ښځه کيده . ميا روښان د قاضي عبد الله د همدغي ښځې زوی دی (٤٨). مرحوم حبيبي يوځای د دې نوم بيبن او بهبين راوړی او پلار يې محمد امين بولی (٤٩) او بيا په يوه بل ځای کې د دې نوم " بيبن امينه " یاد وي او پلار يې حاجي ابوبکر . (٥٠)

په "روښانيان د مغولو تاريکيان " کې د روښان د مور نوم بي بي ايمنه او آمنه راغلی دی (٥١). په " بايزيد روښان " کې د غه نوم " بنين " ليکل شوی او وايي چې د محمدامين لور وه (٥٢). د " د يوان کريمداد " په د يباچه کې بي د " حالنامې " ايمنه راا خيستې دی او په لمنه کې يې ورته راوړی دي چې په ځينو نورو کتابو کې بيبن ليکل شوی دی ، کيد ی شي چې دا يې عرف وی (٥٣)

دا خبره څه نوره څېړنه هم غواړی ترڅو باوری شي چې د ميا روښان د مور نوم بيبن د ی که ايمنه (امينه ، آمنه) ؟ يا يې نوم ايمنه (امينه ، آمنه) دی او لقب يې بيبن ؟ او يا بي بي ايمنه (بيبن ايمنه ، امينه ، آمنه) ټول يو نوم دی ؟

د بي بي ايمنې نيکه او د قاضي عبد الله نيکه ورونه کيده (٥٤)، د وی د لود يانو په دوره کې له وزيرستانه هند ته تللي وو او په جالندهر کې اوسيدل (٥٥).

---

(٤٧) ايمنه د امينه مقلوبه بڼه ښکاری چې د وهم او د ريم توری يې سره اوښتی دي.
(٤٨) حالنامه ، ٢ مخ .
(٤٩) د پښتو اد بياتو تاريخ ، ٢ ټوک ، ٢٥٩ مخ ، د مآثر الامراء د ٢٤٣ مخ په بنسټ.
(٥٠) د خيرالبيان سريزه ، ٨ مخ .
(٥١) روښانيان ، ١٧ ، ١٨ مخونه .
(٥٢) بايزيد روښان ، ٤ مخ ؛ اسلامي دائرة المعارف ، ١ ټوک ، ٧١٤ مخ .
(٥٣) د يوان کريمداد (د يباچه) ، ٩ مخ .
(٥٤) حالنامه ، ٢ مخ .
(٥٥) بايزيد روښان ، ٤ مخ .

په "حالنامه" کې راغلي دي چې د روښان نيکه د عبدالله پلار شيخ محمد د وزيرستان په کاڼيګورم کې اوسيده او يو زامن يې وو . شيخ محمد په سوداګرۍ هند ته لاړ ، هلته په جالندهر کې بي بي د ابابکر لور بي بي ايمنه د خپل يوه زوی له پاره وغوښته ، ابابکر په دې شرط خپله لور ورکړه چې زوم به يې په جالندهر کې ورسره اوسي . څه موده وروسته د شيخ محمد دغه زوی مړ شو ، بيا عبدالله جالندهر ته ورغی او د پښتنو له دود سره سم يې خپله ورينداره نکاح وکړله چې بيا بايزيد تری پيدا شو (٥٦) بايزيد لا د څلور پښتو ورځو نه وچې عبدالله بيرته وطن د راتګ ملا وتړله ، ښځې ته يې وويل : غواړې ته هم راسره لاړه شې ؟ هغې ويل مور پلار مې دلته دی ، بل مې د هندوستان عادت اخيستی دی ، ښه به دا وي چې ما د لته پرېږدې او نفقه راکې ، عبدالله هم غسې وکړه ، پخپله وزيرستان ته راغی او د بي بي ايمنې نفقه يې ورکوله . قاضي عبدالله دلته په وزيرستان کې يوه بله ښځه درلوده چې فاطمه نوميده ، له دې يې يو زوی او دري لوڼې (٥٧) ، زوی يې شيخ يعقوب نوميده . (٥٨)
کله چې هندوستان د مغولو لاس ته ورغی ، د مغولو زورزياتي پښتانه په تنګ کړه ، ايمنی ته له پاسه هم څه نه ورتله ، ورځ پر ورځ پري سخته شوه ، دې څه موده خپله ګاڼه خرڅوله او ګوزاره يې پري کوله ، بيا يې ليوره شيخ خداداد مرسته ورسره کوله . (٥٩)
د لته عبدالله سړي ورولېږه چې ورشه خداداد او بي بي ايمنه راوله او که خداداد نه راته ، نوزما کړه خودې راشي (٦٠) . شيخ خداداد ځواب ورکه چې اوس هند د مغولو په لاس کې دی ، هرځای پېرې دي ، درتګ ګران دی ، که کوم کاروان درته ، ورسره به شو . په دې وخت کې يو کاروان دی مخ په پور ته راځي ، نو شيخ خداداد هم له خپلې ورينداري او پنځه کلن وراره سره په دغه کاروان کې مخ پخپل وطن را وخوځيد

---

(٥٦) حالنامه ، ٢ او ٣ مخ .
(٥٧) همدغه اثر ، ٤ او ٧ مخ .
(٥٨) همدغه اثر ، ١٦ مخ .
(٥٩) (٦٠) همدغه اثر ، ٤ مخ .

په لاره کې مغولو يوځای (٦١) قافله ودروله او د بابر زوم بي خبر که چې قافله د پښتنو ده ، هغه امر وکه چې کاروانيان ووژنې او مال يې چور کې (٦٢) . بسيد شيخ خداداد له کاروانه اووه لکه تنګي ټولي کړی او له يوی عريضي سره يې بابر ته وليږلي . بابر کاروان معاف که او په دې توګه دوی کا ښې کوړمته راورسيدل د لته د بي بي ايمني ژوند ښه نه و ، د بنې له ا مله عبد الله ښه چلند نه ورسره کاوه ، بيا خلکو ورته وويل چې يا له بي بي ايمني سره د دې بلې ښځې په څير سمه ګوزاره کوه او يا يې پريږده ، بيا عبد الله بي بي ايمنه پريښوده او دا د خپل پلار کره هندوستان ته لاړه ، په دی وخت کې بايزيد اووه کلن و او ميرې تـه پاتی شو (٦٣) .

که څه هم بي بي ايمنه په ميړه نه وه ګرانه او يا يې په ژوند کې نوری سختي ليدلي دی ، خو د دې په پاکه او سپيڅلې غيږ کې د بايزيد روښان په شان ستر شخصيت روزل شو دی چې ټول پښتون پري وياړی او د تاريخ پاڼې به يې تل په کارنامو ښايسته وی .

<u>بي بي بائي</u>

د نظام خان لوروه او د شيرشاه سوری خورزه کيده ، د دې ايکی يوزوی د رلود ، فيروزخان نوميده . کله چې اسلام شاه مړ شو ، د دربار اميرانو د اسلام شاه دغه د ولس کلن زوی پاچا کړ ، خو مبارزخان ما مايې د خپلې خور مخ هم ونه ما نه او خوريې فيروزخان يې مړ که او په ځای يې خپله پاچا شو او ځان يې سلطان محمد عادل وباله ، مګر خلکو به ترپايه "عـ لی" ورته ويلی .

---

(٦١) د قنوج ښار (حالنامه ، ٥ مخ) .
(٦٢) حالنامه ، ٥ مخ .
(٦٣) همدغه کتاب ، ٦ مخ .

په اسلام شاه باندی د بی بی بائی د گرانښت په باب راغلی دی: " سکه خور د مبارزخان په نکاح کښی د اسلام شاه وه او نوم ئی بی بی بائی وه او اسلام شاه پری ډیر مین او مهربان وه تر هسی حده چی بی د دی له اذنه وبل محل ته نه ته او همیشه د دی په مواصلت خورسند وه. " (٦٤)

بی بی بسو

د میاروښان د زوی شیخ عمر ښځه کیده او احداد د دی زوی دی. د مغول اکبر امراء آصف، قاسم میر بحر او د اسی نور له پوځ سره په تیرا ورغلل. چی جلال الدین وځی، تیراښ محاصره کړه، مغولو وویل چی یا به جلال الدین په لاس راکوئ او یا به د روښان د کورنۍ ښځو ته راسپارئ چی بیرته وکرځو. په هغو یوځو تنوکی چی له ناچاری مغولو ته وسپارل شول، یوه بی بی بسو وه له خپل زوی احداد سره. (٦٥)

بی بی بصری

د ملك قاسم بنگښ حاجی خیل لور وه او د میاروښان د زوی جلال الدین ښځه کیده. الهداد (رشید خان)، هادی داد، الائی بی بی نور خاتون او عالم خاتون د هدی بی بی بصری له نسه دي. (٦٦)

بی بی بیگم

د میاروښان د زوی جلال الدین ښځه وه، میان داد او کریمداد ددې زامن دي. (٦٧)

---

(٦٤) مرصع، ١٨٦ او ١٨٧ مخ.
(٦٥) حالنامه، ٣٣٣، ٣٣٤ مخونه.
(٦٦) (٦٧) حالنامه، ٤٧٠ مخ (وگورئ: لسم نمبر لمنه).

## بی بی پیاری

بی بی پیاری د شیخ سلیمان د انا سروانی لور وه او د لوی عارف او شاعر شیخ متی (٦٨٨ هـ ق) بنځه لیده. یوسف. زهر (ظاهر؟)؛ عمر؛ بهلول، محمد او الـو د شیخ متی د همدغی بنځی زامن دی. (٦٨)

## بی بی تاج

نوم یــی کرم النساء واو تخلص یــی تاج، د حاجی حیات گل لور لیده او د کوټــی د صاحبزاده عبد الحی د کورنۍ او په ختهٔ مومند ه وه. د ا یوه ادیبه هم شاعره او تاریخ پوهه میرمن وه او وایــی چی په قادریه طریقه کی شامله وه. (٦٩)
د وینا بیلگه:

د کوټــی غوث الزمان — پــه قوت کــی پهلوان
پــه بیکسو مـهربـان — مـشهور یـی تر ایران
ستا مرید خلاص له خزان — مدد وکړه! ای سلطان.
شو خبر سـتا له دوران — زار شم زه ستا له دوران
د کوټی شاه مـردان — کـړه نظر راباندی جان
حضرتجی زمو نږه پیـره — د بی کسو دستگیره
شرق ترغربه بی نظیره — ای آفتاب عالمگـیره
خوش الحانه خوش تقریره — مریدانو له اکسیره
زه هم ستا یم د امنگیره — ای زما کامله پـیره
کړه نظر راباندی جـان — د کوټــی شاه مردان (٧٠)

---

(٦٨) د پښتــو خزانی تعلیقات، ۲۱٤ مخ. دلته په تعلیقاتو کی ویل شوی دی چی پیاری شپږ زامن درلودل، خو بیا دا پاس غوندی دا وونوم ونه راوړی.
(٦٩) پښتنی لیکوالی او شاعرانی، ۱٥ مخ (د تیر هیر شاعران په استناد).
(٧٠) همدغه اثر، ۱٦ مخ.

**بي بي حوره**

[illegible] (۷۱)

**بي بي خالا**

د . د شيخ عباس لور وه او د نوميالي عارف شيخ متي خور ، خالا په پښتين كې اوسيده چې له مريني وروسته هم غلته خښه شوې هم ده (۷۲) . ځنگه چې شيخ متي په ٦٢٢ هـ كال زيږيدلى او د شپېتو كالو په عمر مړ دى ، نو د بي بي خالا د ژوند زمانه هم د غو كلونو په شا وخوا كې اټكل كيږي .

**بي بي خداونده**

د مهمند لمسی د مهيار زوی رڅهړ د وه ښځې درلودې ~~يوه مستوره او~~ بله بي بي خداونده ، [illegible] (۷۳)

(۷۱) حيات ، ۲۱۷ مخ .

(۷۲) پټه خزانه ، ۲۲ مخ . د پټې خزانې تعليقات ، [illegible] مخ .

(۷۳) حيات ، ۲۱۷ مخ .

بی بی خیرخاتون

د دی میرمنی نورحال نه دی څرګند او د ومره ښکاره ده چی د خیرالبیان یوه نسخه د دی په سپارښتنه لیکل شوی ده ، نو د اسی بریښی چی خیرخاتونه یوه پوهه او عالمه ښځه وه او له پښتو آثارو سره یی مینه درلوده . بهارتوی د بی بی خیرخاتونی په سپارستنه د خیرالبیان د دغی نسخی کار په ١٠٦١ هـ کال بشپړ کړی دی ۰ (٧٤)

بی بی رابعه

د میرزاخان انصاری د بی بی نورخاتونی ښځی لوروه او الهام الله ته یی ورکړی وه چی د الهداد خان (رشید خان) زوی کیده ، د غه الهام الله ته بیا وروسته اورنګزیب د رشید خان خطاب ورکه ۰ (٧٥)
بی بی رابعه د ومره نیکه ښځه وه چی د خپل وخت رابعه ګڼله کیده (٧٦) او د بی بی نورخاتون له وفاته وروسته ر وښیا نیانو دې ته مخه وکړه او دې به له خپلی وسی سره سم له خلکو سره مرسته کوله ۰ (٧٧)

---

(٧٤) د پښتو ادبیاتو تاریخ د د وهم ټوك په ٣٠٢ مخکی د "بهارتوی" د نامه د وهمه برخه "طوسی او تونی" اټکل شوې ده ، خو په حالنامه کی په یو ځله "توئی" د یوی قبیلی نوم راوړی ، یو ځای وایی : "د رراه قبیله توئی بود ند ، عبدالکریم نام سرد ار قبیله توئی بود ." (حالنامه ، ٢٥٠ مخ) ۰ ګیدی شی چی دغه دې "بهارتوئی" وي ۰

(٧٥) حالنامه ٤٦٠ مخ ۰

(٧٦) حالنامه ، ٤٧٥ مخ ۰

(٧٧) حالنامه ، ٤٧٧ مخ ۰

بي بي د رياخاتون

د احداداو بي بي الائي لور كيده ، د پيرداد زوى محمد زمان تـه يـى وركړى وه ، دغه پيرداد د كمال الدين زوى اود مياروښان لمسى و. د رياخاتونى هم د خپلى مور په شان په صورت او سيرت كى سارى نه درلو د او د وه زامن يى وو ، يو قادرداد او بل مهديداد . (۷۸)

بي بي د ور

په ښكاره د شيرخان ښځښ مور وه (۷۹) اوداسى بريښى چى دا يوه پوه او پرماره او ميره ښځى ښښته وه او په ښځو به يى غټو غټو كسانو ته ميلمستيا وي كولى . افضل خان وايى چى : "د مهابت خان په صوبه دارئ كښى مير يعقوب د يوان باد شاهـى لښكر په تيراه په بعضى آفريدى وركړى چى باغى وو كړ خان (۸۰) ئى هم چى مير يعقوب سره ئى په ډېر اخلاص وه وبالله ، په تيراه په دامهم ورسره وه ، په فتح وبه فيروزى له تيراه د كوهاټ په لار كور ته راغى ، بى بى د ور د شيرخان مور مهمانى كوهاټ كښى ورته كړې وه . " (۸۱)

بي بي د ويه

د ويه د شيخ سليمان دانا سروانى لور كيده ، دا يوه بزرګه ښځه وه خـلكو يى زيات خوارق ليدلى وو . په تاريخ مرصع كى راغلى دى چى : "عصمت پناه بي بي د ويه

---

(۷۸) حالنامه ، ٤٧٦ مخ .

(۷۹) محشى ليكى چى مطلب "ملك ميرى" دى (د تاريخ مرصع نوټونه ، ۱۱۹٦ مخ).

(۸۰) مطلب خوشحال خټك دى.

(۸۱) مرصع ، ۲۸۹ مخ .

لور د شیخ سلیمان دانا خور د شیخ ملهی قتال په عبادت، ریاضت او مجاهده کې ئې [illegible]

لوی شان درلود او د ورځی به روژه په خوله او د شپې به په نمانځه ولاړه وه او دعا به ئی

قبلیدله، د ښو بدو په باب به ئی هر څه چه په ژبه تیر شول په د رنګ ساعت کښی به ښکاره

شول او څرګنی به په عکس ئی شول. عجیبه کرامتونه تری ظاهر شوی دی. (۸۲)

دغلته په لمنه کی لور ته لیکل شوی دی: "کله چه مونږ ۱۳ کاهو په اجمالی ذکر کښی وضاحت

کړی دی بی بی (۸۷) مومند بابا لور و د دانه وه، دغه وضاحت په مخزن افغانی تاریخ خانجهانی

کښی له یوه زیات ځلی شوی دی." (۸۴)

نور هم د "تاریخ مرصع" په متن او حاشیو کی څو ځایه ویل شوی دی چی د [illegible]

[illegible] دانا لور، د ملهی قتال خور او د [illegible] مومند [illegible] (۸۴) [illegible]

غواړی [illegible] ملهی قتال [illegible] مومند [illegible]

[illegible] که [illegible] ؟ [illegible]

"حیات افغانی" د "تاریخ مرصع" په [illegible] سلیمان [illegible] ملهی قتال [illegible]

راوړی (۸۵) خو په [illegible] "پښتانه" کی [illegible] قتال [illegible] سلیمان [illegible]

بلل شوی چی په دی حساب [illegible] ملهی قتال [illegible]

او بی به [illegible] دی ته چی له شاه [illegible] غوری [illegible] (۸۶)

او مومند د خرښبون څلورم نسل دی. شاه او سین او خرښبون خو دیوی زمانی

خلك دی، نو په دی توګه د "بی بی دویه" او "مومند" ترمنځ شپږ نسله تو [illegible]

موضوع نوره څیړنه هم غواړی، زه دا پلټنه بل وخت ته پریږدم.

[illegible]

[illegible]

~~د کجرات د پاچاهی د وزیر عالم خان لودی لور [illegible] خان لودی ښځه کیده.~~

لوړی عالم خان لودی یوه لور وه کوم چی سندعالی دولت [illegible] (۸۷)

~~[illegible]~~ (۶۷)

(۸۲) د تاریخ مرصع ضمیمه، ۱۳۴۴، ۱۳۴۵ مخونه. (۸۳) [illegible] ۱۳۴۶ مخ (۸۰)

(۸۴) مرصع، ۶۰۹، ۶۱۸ مخونه (۸۵) حیات، ۳۰۰ مخ. (۸۶) [illegible] ۳۴۳ مخ.

پښتانه د تاریخ په رڼا کښی، ۱۳۴۳ مخ.

بیا حی هغه مړه شوه نو خپله بله لوریې پلی ورکړه(٨٧)، ددې د ژوند زمانه د ٩٦٠ هـ کال شاوخوا ګڼل کیږي.

**بي بي [illegible]**

[illegible] خواجه یحیی کبیر له کورنۍ او د ویس سرواني ښځه وه، وایي چې د ا یوه مجذوبه میرمن وه. خان ختی هیر وه او د خدای په مینه کې ډوبه وه، د دې په باب د [illegible] اعلی د ی: بي بي راستي چه د خواجه یحیی له نمسیو او د خواجه ویس سرواني کور وداله وه، د وینا میرمن او له خانه ورکه وه او هر وخت (د خدای په مینه کې) لیونۍ او له وبه وه او اکثر به پري حال غالب و او د دنیا په معاملوئي هیڅکله ونه نه وه. (٨٨)

**بي بي زربانو**

د تاج خان نومي ښځه کیدوه [illegible] (٨٩) [illegible]

**بي بي زينب**

بي بي زينب د حاجي میرویس خان لور کیده او دا یوه عالمه او فاضله ښځه وه په ولولو د ديني او ادبي کتابونه یې لوستي وو. وایي دا د ومره خپرکه او هوښیاره میرمن وه چې ورور به یې شاه حسین هوتک د پاچاهۍ په چارو کې له دې سره خوښه کوله او خبره به یې منله. دا یوه پخه شاعره وه او د "ارشاد الفقراء" په نامه یې یو منظوم اثر در لود، د دې شعري قدرت له هغې ویرنې "مرثیې" پوره ښکاریږي چې د خپل بل ورور شاه محمود په مړینه یې [illegible] زمانه د ١٠٤٠ [illegible] د لته د بي [illegible] خزانې یوه [illegible]

---

(٨٧) لودي پښتانه، ٣١٢ مخ.

(٨٨) د تاریخ مرصع ضمیمه، ١٣٤٥ مخ. د بي بي راستي د خوارقو په باب وګورئ: د تاریخ مرصع همدغه ١٣٤٥ او ١٣٤٦ مخ.

(٨٩) حالنامه، ٢٨٠ مخ.

"بي بي زينب د حاجي ميرخان عليين مکان لور ده چه له کوچنيوالي ئي پحرم کي د عصمت او عفت لوست وکا . پس له هغه چه قرآن کريم ئي ولوست، د احکام اسلامي او فقه کتابونه ئي هم ولوستل او د فارسي مشهور کتب ئي ضبط کړل استاد د علومو ئي ملا نور محمد غلجي دی، چه ډير عمر ئي مخدراتو ته د حرم درس لوستی دی هسی روايت کا چي بي بي زينب ډيره هوښياره او پوهه توده امورو عالمه ښځه ده او د پادشاه جمجاه شاه حسين په امورو کی تدبير کا، او هر کله په رای صايب مشکلات د امورو حل کا، او پادشاه د زمان ئي پخبر وعمل کا او نصايح ئي اوری دا د رشهوار د صدف عصمت ښه ښه شعرونه هم وايي او د موزونانو او شاعرانو قدر کا، د واوين د شعراء هر کله لولي او له مضامين شيرين ئي کام شيرين کا .
عمر په عبادت د خداى او تلاوت د قرآن شريف تيروی او مخدراتو د حرم د پادشاه ته درس او کښل او لوستل ورښي . نقل کا چه د شاه محمود جنت مکان د د مرگ حال قندهار ته را ورسيد، نو د پادشاه خاندان عاليشان ټول غمجن سول او مخدراتو د حرم ساندی او غلبلي کا . بي بي زينب چه واقعه د ورور د وفات واوريد له ډيره غمجنه سوه او په تلاوت د قرآن او لمانځه ئي تسکين وکا : د نتلي زړه . او هسی وير نه ئي په وير د خپل ورور مرحوم وويله، چه زه ئي دلته را نقل کوم، خداى تعالی دی ټول خاندان عاليشان د پادشاه ظل الله ژوندی ولری او خوښ

مرثيه د شاه محمود جنت آشيان

ډېغ سو چه ورور تير له دنيا سونا  قندهار واړه په ژړا سونا
زړه مي په وير کي مبتلا سونا  چه شاه محمود له ما جلا سونا
د اروڼ جهان را ته تور تم دينا
زړه د بيلتون په تيغ کړم دينا

PROPERTY OF ACKU 6677
PROPERTY

هوتك غجن په د ى ماتم سونا
د پاچاهى تاج سو برهم د ينا
چه شاه محمود تير له د نيا سونا　　قند هار واره په ژړا سونا
ځوان وسيږه د تورى جنګ ونا
ولاړ د کام په نام ونسنګ ونا
د ښمن له ده په وينو رنګ ونا
پر ميدان شير ويا پلنګ ونا
افسوس چه مرګ د ده په خوا سونا　　قند هار واره په ژړا سونا
محمود ه! نه يوازى خور ژاړى
په مرګ د ى ټول ګلى اوكور ژاړى
خپلوان لا څه پاچادى ورور ژاړى
لښکر سپاه د ى پلى سپور ژاړى
پښتون د ى ټول په واويلا سونا　　قند هار واره په ژړا سونا
اصفهان پاته تاج نسکور عالمه
چه شاه محمود سونن په ګور عالمه
د پښتون لمر سو تياره تور عالمه
راته د ښمن په کا پيغور عالمه
چه پاچا ولاړ پښتون ګدا سونا　　قند هار واره په ژړا سونا
لښکر سو چوړ پښتون ولاړ دى اريان
په خاور و ځاى کا شاه محمود عاليشان
پاته سو تخت وتاج د ټول اصفهان
زړه ئى راسوړ سو کا خوښى د ښمنان
وايى پښتون اوس بى پاچا سونا　　قند هار واره په ژړا سونا

لا هم آسمان له زیاتیسی خپه ستم کاشر کند

لا هم وطن لا پوهه تا چه د پښتنو په پیوند

لا هم اوس هم هغه وایی له دښمن دی بیاز مونږ پوه لیکا خوار پیند هم هغه لا ده

لا هم شیخ شاه محمود پوه پی کا په قبر کی بند

پر کور مو وير شور غوغا مسو تا لب هم لا هم پاتی قیصه ها روا په ژړا سونا

لا هم شو تکوا وا پوهی محمود شاه خه سونا؟

لا هم پښتنو سلامی لوی لیله هم خه سونا ؟

لا هم اوس هم هغه وایی له لیکا صفها نفتیمو هماره خه سونا؟ هم هغه ا

د وایی پاتی چه یو محبت پوهه خه سونا ؟

د پښتنو پر تم فتا غفلتسو ها په تا هم فتنه ها روا په ژړا سونا

د وایی محمود لیا پښتون کوی پاتی ولاړی له ما؟

د وایی له تنستیا پاتی جنه ته پر خپاسوی جلا ؟

لا هم اوس هم هغه وایی له صفها ن ولی په لاسته کلیو لیمو لیه پاتی؟ ن هغه

هغه له سرکوز ی لا انتیا ورته کوه چه خه کړی اعدا؟

د ښمن ولاړ بیا تلا وخوا نخوتا هغه فتنه هار وا په ژړا سونا

هغه ماتا وولم تلم پوهان غم چپه کړینه فریاد

هغه پښتو لا په ځمکه بشاه محمود سو برباد

لا هم اوس هم هغه وایی له ږیږ ونه چه تل لبه پوه ښنا لفظ هغه یا ښکاره په لا په

ن لی ا د لا د شاه تنه وغږ پوهی چنارا وړ ینه ئی باد

ما تم زره پیر و برتا ستو لا په لاس د فتنه ها روا په ژړا سونا

ن لیه ا تا ور وره د تقرندی مثال مولا کی جنت

ن لنپه رپه هغه لا پوهی کا تا ته پسیله مرګه راحت

لا هم اوس هم هغه وایی له هغه   لا هم لیه ږد په ان هغه پسی ا م

روح دې وه ښاد په لويه ورځ د قيامت
مخ دې وه روڼ د خدای په مهر و رحمت

[illegible] (۹۰)

## بي بي ساره

کله چې مخالفانو غوښتل پير روښان له سنګ توی يا سنګ توئی (۹۱) و باسي
[illegible] وي لا وختي له دي
[illegible]
د [illegible] (۹۲) [illegible] چې بي بي ساره يوه
[illegible]

## بي بي ستاره

يو وخت چې ما د کابل د دارالمعلمين په ليسه کې زده کړه کوله
زما د فارسي (دري) معلم محمد حسين بهروز راته وويل چې: [illegible]
اشرف خان هجري يو پر يرنايا بهادر ديوان شته چې احتمالاً د ده په خپل لاس
[illegible] قصيده [illegible] د خپلې لور (بي بي ستاره)
[illegible]
[illegible] په خپلو سترګو ويې ګورم، نو د [illegible]
[illegible] ستاره د اشرف خان هجري لور
[illegible]

---

(۹۰) پټه خزانه ۱۸۶، ۱۸۸، ۱۹۰، ۱۹۲ مخونه.
(۹۱) د دغه ښارګي او کانی ګوړم تر منځ يوه ورځ لاره ده (حالنامه [illegible] مخ)
(۹۲) حالنامه [illegible] مخ.

## بي بي سليم خاتون

د ميرزا خان انصاري لور وه او الهداد خان (رشيد خان) ته يې ورکړې وه .(٩٣)

## بي بي سندو

د مياخيلو د مشر اعظم خان خور وه او په دامان کې اوسيده ، کله چې د تيمورشاه (١١٨٦ هـ ) چاکيدل) وزير او پوځي مشر سردار کريم خان پوپلزی له خپل لښکر سره د راپې ته ورسيد او هلته يې واوريدل ، د بي بي سندو د ښايست او ښکلا آوازه يې ترغوږ شوه ، سړی يې ورولیږل خو اعظم خان ورنکړه او د همدې سندو په سر لوی جنگ ونښت، بيا اعظم خان خپله خور اسماعيل خان بلوچ ته ورکړه خو دا خبره په نورو مياخيلو بده ولگيده او د بي بي سندو په سر بيا جگړه پيښه شوه (٩٤)

## بي بي شاهزاد گله

د. درويش داد و(٩٥)لور کيده ، د پير روښان مريده وه او د تيرا په مستوره کې اوسيده ، دې ميړه نه کاوه ، د ورکزيو رخه کيده ، ورکزيو جلال الدين ته وويل چې کمال خاتون د پير روښان لور ميړه وکه او دا يې نه کوی ، نور ی پيغلی به هم دې ته گوری ، ميړه به نه کا او له دې به يوه بله خبره جوړه شی ، په هر ډول چې کيږی بايد په ميړه شي . جلال ، د درويش ورغوښت ، ور ته وې ويل

---

(٩٣) حالنامه ، ٤٦٠ مخ .

(٩٤) خورشيد ، ٢٩٤ مخ .

(٩٥) د فريد خان زوی دادوچې ورو سته درويش داد و بلل کيده ، د روښان خليفه واو د علي محمد مخلص مور نی نيکه کيده .

چې لوړ دې ورته ! هغه خواب ورکه چې لورمی د خپل نفس وکیله ده ، زه څه زور زیاتی نشم پری کولی .

شاهزادګلی له نراو ښځو مخ پټا وه ، زیاتره به یې مخ د یوال ته اړا وه او کیناسته . یوه ورځ جلال الدین ، رحیمه چې د تیرا وه اوله د رویش سره یې اخلاص د رلود ، ور وغوښته چې ورشه او بی بی شهزاد ګلی ته ووایه چې میړه وکا .

رحیمه ورغله ، ګوری چې شاهزاد ګلی قبا په سر اچولی او مړا قبه ده ، دا ور ته
ښتنی
کیناسته ، ټوله ورځ یې ور ته تیره کړه ، خو د هغې د اسې سام پری ولویدچې د پوښتنی ځواب یې هم ونه که . رحیمه پاڅیده او بیر ته جلال الدین ته راغله ، ویلی چې دا نجلۍ د میړه کولو نه ده ، جلال الدین هم له دې خبری لاس وا خیست .

ور وسته له څه مودې چې جلال بیا له خپلو جنګیالیو سره په مستوره کې ښکته شو ، د ورکزیو مشرانو بیا جلال الدین دې ته اړ که چې شاهزاد ګله په میړه کا ، جلال ناچاره د رویش داد و ور وغوښت او ور ته وی ویل چې د تا لور می بارک ته ورکړه . بارک یو ښه ځوان و ، لږ وړ پیر کتابو نه یې لوستی وو ، له کندهار یانو سره یې ناسته ولاړه د رلوده او ځانته به یې کندهاری ویلی .

په پای کې د رویش داد و ، جلال الدین ته وویل چې نور اختیار ستادی ، خو زور زیاتی په کار نه دی او له شرعې سره سم کار به کوې . ګړ بیرې خبری لاندی باندی شوی ، مګر په جلال د د رویش داد و خبرو څه اغیزه ونکړه او په ځواب کې یې ور ته وویل چې زه سبا ر وا نیږم ، ته په دې لور بارک ته ورواده کې . بس جلال لاړ او د شاهزاد ګلی واده جوړ شو ، خو د واده په شپه چې شاهزاد ګلی سرکیښود د ا آواز یې د زړه په غوږو وا ورید :

ای جلی شاهزاد ګلی مه هیچا به روزی نشی    ته د شاهنشاه یې خپلی

سبا ته چې له خوبه را پاڅیده ، زړه یې ښه شو ، د لوی څښتن په مهر با نیو یې

لا عقيده يې ټينګه شوه ، نو کله يې چې شاهزاده ګلي ته پلار اوده کالي ورواغوستل او
په آس يې سپور کړ ... لته يوه غوره ... د روښان ... او ته په لاس ورغلې ... لخوا
تنه نور هم ور سره شول او ځان يې په نا وي يې ور ور سره ... بارک يې په
توره وواهه ... او د حق له خپلي ګوزارۍ سره ... ته لاړ ، هلته زين خان
صوبدار ته ور غی ... او ور ته ويې ويل چې ... اکبر پاچا ... وګورم ، ته زما
څه ليکل سپارښتنه وکړه . بيا لاهور ته ... اکبر ته ورغی ... اکبر د زين خان په
نا ... ور کړه چې ... د روښان ... او ... زور زيات شي ګولي ، څه مخکه
له ... چې ... خپل ... وکا ...
بيا چې جلال الدين مړ شو ... احداد د روښان ... سره ور ولېږه چې
تير په تير هير په هير ... خپل ځای ته ، ... چې د روښان له خپلې
کورنۍ سره ... په خپل ځای ... مستور ... يې و ... وال .
څه ... ور ... احداد ... سره د روښان ته ورولېږه چې کندهار ...
راضي ... چې ... سره وکړي او خپله بله لور ور کړي ، بيا يې خپله بله لور
ابا بکر ته ورکړه او ... د ابا بکر د علي محمد مخلص پلار دی . (۹۶)
[illegible]

<u>[illegible]</u> [illegible]

[illegible] (۹۷) ... (۹۸) ...
... جلال الدين ... (۹۹) ...
... (۱۰۰) ...
... (۱۰۱)

---

(۹۶) حالنامه ، له ۲۲۶ تر ۲۳۲ مخه پورې .
(۹۷) همدغه کتاب ، ۱۶۱ مخ .
(۹۸) همدغه کتاب ...
(۹۹) همدغه کتاب ، ٤٤ مخ .
(۱۰۰) همدغه کتاب ، ۱۷۰ مخ .
(۱۰۱) همدغه کتاب ، ٦٥ مخ .

بي بي شمسو د غيرت يوه تو ته وه او خداى د ومره لوى زړه ور بخښلى و چې

پرسي ورزامنو شيخ عمر (او ...) دولت (۱۰۲) سرونه او د خير دين لاس پرې کړه او

دې ته يې ورولېږل ، د بي بي شمسو نه سترګې لمدې شوې او نه يې سر او

مخ په خاپېرو وواهه (۱۰۳) بلکه پاڅېده د خير دين لاس او د شيخ عمر او دولت سرونه

يې مچ کړه او وې ويل : " رحمت د خداى دې وي په تاسې باندې چې ثابت قد

پاتې شوئ او له خپل همته وا نوښتئ او خپل ځانونه مو د حق په لاره کې قربان

کړه . " (۱۰٤)

بيا يې خپل مخ دښمن ته وروا او وې ويل : " زما زامن په غلا او زنا کې

نه دي وژل شوي چې سرونه مو پرې کړه او ما ته مو را ولېږل ، زما زامن ميړني

وو او تاسې پرې يې له تېغه تېر کړئ او پخپله هم شهيدان شول ، زه د اتول

د خپل خداى قضا او قدر ګڼم ، که نه تاسې څه شى وئ چې زما زامنو ته مو

بد کتلى واى . " (۱۰٥) د غه نوم په ښېنونو وځانو کې " شمسيه " د غوږ (۱۰٦) ...

بي بي شمسو خاتونه

د ميا روښان د زوى جلال الدين ارتينه وه ، صاحب خاتون يې د همدغى

ښځى لور ده چې د ميرزا خان انصارى زوى خداداد (۱۰٦٢ هـ ق) ته يې

ميړوښکرلى نو ... (۱۰۷)

(۱۰۲) د دولت د ميا روښان د بلې ښځې زوى وچې " توره ادي " بللة کېده . (حالنامه

۳۱۸ مخ) .

---

(۱۰۳) حالنامه ، ۳۱۸ مخ .

(۱۰٤)(۱۰٥) همدغه کتاب ، ۳۱۷ مخ .

(۱۰٦) د پښتو اد بياتو تاريخ ، ۲ ټوک ، ۲۷۲ ، ۲۷۳ مخونه ، ... د بستان مذاهب

په بنسټ .

(۱۰۷) حالنامه ، ٤۷۰ مخ (وګورئ : لسم نمبر لمنه) .

## بي بي شيخزاده

داد خواجه يحيى كبير له كورنيه وه او د مياداود ا(۱۰۸) د زوى ميا ترمان(۱۰۹) نحه كيده. بي بي شيخ زادى يوه په خداى مينه او پرهيزگاره ميرمن تيره شوې ده، په دې باره كې د تاريخ مرصع په ضميمه كې راغلي دي چې: "د خواجه يحيى كبير له نسله او د ميان ترمان ولد ميان د ود اسيداني په نكاح كښي وه. ډيره رسيد لي عبادتگذاره او روژه داره وه او د نيا په معاملو بئى وتنسه نه وه. څښتن بئى ډيره نمانځنه كړه او چه په هغې حال ډير غلبه شو، نـــو ميان ترمان بله ارتينه وكړه او له بي بي ئى پتوله، يوه ورځ ميان ترمـان د بي بي په خدمت كښي ناست و، ورته ئى ووبيل چه ترمانه زه دي ناست ويـنـم ود ره، ميان ترمان بئى له خدمته پاځيده او پلار ميان د ود الره تـللى له بي بي ئى خفگان اوگيله وكړله چه د اشان نامناسبه وينا ئى ز اوكـړله ميان د ود او پوښتلو چې ترمان گوندى بله ارتينه دي كړي ده، ورونئى وويل هو، وئى ويل ښه ونه شول، ډير بد دي وكړل چه بي د بـي بـي د رضا دي هسې چار وكره، څو ورځي پس ترمان هسې ناروغه شوچه د مرگ خواست بئى وكړو، هغه ورو وويل چې ترمانه له خدايه مي غوښتي دي چي سزه د ايمانه كور ته لاړ شي. د پلار له خدمته د بي بي په ملازمت راغى او هغي ته بئى هم وويل چه په حقله يئى دعا وكړى چه خاتمه ئى په خير شي، وئى فرمايل چه خداى تعالى به د ى ايمان روزي كړي، څو ورځې پس ميان ترمان په حق ورسيد." (۱۱۰)

---

(۱۰۸) يوه بله نسخه: داود (د تاريخ مرصع ضميمه، ۱۳٤٦ مخ).

(۱۰۹) ځينى نسخى: تركان او نزمان (همدغه اثر او همدغه مخ).

(۱۱۰) همدغه اثر او همدغه مخ.

بی بی صاحبه

د کامران لور او د شاه محمود هوتك ښځه وه ، دا په ۱۱۷۰ ق کال په کابل کی مړه شوې ده. (۱۱۱)

بی بی صورت

د ملك بستان کاکړ لور وه چې د نوميالی پښتون هيبت خان کاکړ نيکه کيده، دا يوه عالمه او د بر خی څښتنه ميرمن وه او خلکو يې پر خوا رق ليدلی دی ، تاريخ مرصع بی بی صورت په دې ډول معرفی کوی :

«ذکر د دوران د صالحی او د زمانی د ساجدی بی بی صورت لور د ملك بستان کاکړ نيکه د ميان هيبت خان چه د دغه تاريخ د ليکنی باعث دی. هرکله چه بی بی صاحبه د پوهی عمر ته ورسيده نو قرآن او د فقهی څوکتابونه ئې ولوستل او د شرعی مسئلو په علم کښی ئې هغه وخت شال نه و، د هغه وخت ارتينو په ټولی مسئلی له هغی پوښتلی ، اکثر خپلوان به ئې د غوښتو په نيت راتلل خو هرکله چه والدی شريفی به ئې ليدل چه په تلاوت او خپل شغل مشغوله ده نو دی خبر و ته ئې پام نه کړ او خپله لور ئې د چا په نامه نه کوله ، هرکله چه د خپلو خپلوانو غوښتو زور ونيو نو يوه ورځ ئې خپله مور و پوښتله چه د دغه کورد ی ښځی هره ورځ څه لره تا سو کره راځی مور ئې خبره ورښکاره کړه ، وئې فرمايل چه که بی زما له رضا مودغه کار وکړ نو سبا د قيامت په ورځ به زما لاس او ستاسو لمن وی. نو پسته ئې مور پلار هر څوك چه به راتلل سکوت ځواب به ئې ور کاوه او لکه چه له مور زيږيدلی هم هغه شان تر گوره او قدسی عالمه لاړه او هر څوك نا محرم که به د شی د هغوی دعبادتخانی نيت يا د آرام د ځای په خوا تيرېدو ړوند به شو. يوه شپه د خپلوانو يوه يوه ډله په دې

(۱۱۱) پښتنې ليک ، ۱۶۲ مخ.

چه وګوري چه د بي بي حال احوال څه دى ، د هغې د ودېدو ځاى ته راغله او که هر څو يې مرسته وکړه د هغې پلنګ يې چه به پرې ودېده له نظره پټ وه پښيمانه او ملامته خپل کور ته وجا ر وتل . د مور پلار د مړينې نه پس ورته په ميرات کښې بې پر مال حال پاتې شو خو ټول يې د خداى په لاره کښې خرڅ کړو او په پيرى (يا ټولې) روپۍ يې د ساماني ځينو خلقو او صرافانو ځخه پاتې وى ، معامله ترحاکمانو ورسولې شوه او له يوى معاملې او يا زړه سکندرى تنګى ترلاسه ورغلى ، بي بي صاحبې د ساماني د ښهره(۱۱۲) له پرا وتلو تر خپله ځايه او کوره تر رسيدلو پورې ټولې د خداى د پاره په فقيرانو او خوارانو وويشلې او يوه پيسه يې هم کورته يو نه وړه . د عبادت او رياضت په ميدان کښې يې د نسبت کوي له سريو ورځ وه د هغه د ورخلقو به ترى د خپلو حاجتونو د پاره دعا غوښتله او د ميندلپه ... او ټول عمر يوه کړى هم بي تلاوته بى ذکره نه وه او د بصري د رابعې د عدوي(۲) ... پس بله ارتينه د بي بي صورت په ... په سخاوت او د خلقو په غمزا ري کښې يې مثال نه و ر ... (۱۱۳)

**بي بي عائشه**

د ... په ... خپله ... او ... د اعظم خان د زوى شاه بزرګ ... ښځه ... د احمد شاه بابا ... (۱۱۶) ... ده (۱۱۴) ... عائشې ... لوښتو ... کېږى .

**بي بي عائشه**

د مياروښان د زوي جلال الدين د مغلانو سره جګړې لوړو وا و د ايي يوه سيد ته ورکړى وه . (۱۱۵)

---

(۱۱۲) له دې ښکاريږي چي بي بي صورت "ساماني" ته نژدې چيرې اوسيده .

(۱۱۳) د تاريخ مرصع ضميمه ، ۱۳٤٦ ، ۱۳٤۷ ، ۱۳٤۸ مخونه .

(۱۱٤) حيات ، ٦٦۰ مخ .

(۱۱٥) حالنامه ، ٤۷۰ مخ (وګورئ : لسم نمبر حاشيه) .

**بي بي فاطمه**

د میرزا خان انصاري د بي بي نورخاتونې ښځې لور وه او صاحبخان ته بي ورکړې وه . صاحبخان د شیخ علي زوی او د خداداد لمسی کیده ، د غه خداداد د میاروښان کاکا و . ( ١١٦ )

د فاطمې په باب په " حالنامه " کې راغلي دي چې : " بي بي فاطمه بصفت سادهدلي وراستگوئي موصوف است ، سخاوت و همت نیز بمقدار استعداد دارد وعلم لا بدی را بوجه نیکومیداند وخوش قلم است . " ( ١١٧ )

**بي بي شيرخاتون**

را د میرزا خان انصاري لور وه چې د محمد کمال لمسي د وحدت علی زوی میان داد ته یې ورکړې وه . ( ١١٨ )

**بي بي فتحه**

د کالا پهاړ لور او د سلطان ابراهیم لودي ښځه وه . کله چې سلطان ابراهیم په پاني پت کې مغولو شهید که ، بي بي فتحه ملکه د هندوستان ختیځو خواوو ته لاړه ، وروسته بیا په ٩٤٢ هـ کال شیرشاه سوري یو د خداي زر او جواهر تری واخیستل . ( ١١٩ )

---

( ١١٦ ) حالنامه ، ٤٦٠ مخ .

( ١١٧ ) همدغه اثر ، ٤٧٤ مخ .

( ١١٨ ) همدغه اثر ، ٤٦٠ مخ .

( ١١٩ ) همدغه اثر ، ١٧٠ ، ٢٢٦ ، ٢٣٥ مخونه .

## بي بي کمال خاتون

د میا روښان د بي بي شمسو ښځې لور کېده(۱۲۰) او میا روښان حي به مهمند ز یږ و کي و . کمال خاتون یې د همدغه ځای د یوه مشر پایند ه خان زوی علی خان ته ورکړې وه(۱۲۱) ، میرزا خیر الله او میرزا جانی د دې زامن دي . روښان کمال خاتونه زوی بللې وه ، غنیمت به چي روښانیانو ته په لاس ورغی ، پنځه برخي به یې که ، یوه برخه به یې د روښان کورنۍ ته ورکوله ، څلور برخي به د وی په خپلو منځوکي وویشلې ، احداد به میرزا خیر الله او میرزا جانی ته د روښان د کورنۍ له برخي بیا سهم ورکوله چي وروسته د همدی خبري په سر د الهداد خان (رشید خان) او میرزا انصاری له احداد سره وران شوه . ( ۱۲۲ )
کمال خاتونې هم د مغولو له لاسه ناتاروونه لیدلي دي او د مغول اکبر په امر داله د واړه زامنو سره په لاهور کي نظربند وه(۱۲۳) . جلال الدین به وختناوخت ابابکر(۱۲٤) هندوستان ته هم کمال خاتونې د خبر اخیستو له پاره لیږه ، هلته لا میرزا خیر الله او میرزا جانی واړه وو ، یو وخت کمال خاتونې ابابکر ته وویل چي که زامن مې له دې ځایه وباسې او تر جلال الدین پورې یې ورسوې څومره به ښه وی ! ابابکر ته له شپو یوه شپه موقع په لاس ورغله ، د واړه هلکان یې راوویستل او جلال الدین ته یې راوستل . ( ۱۲۵ )

---

(۱۲۰) حالنامه ، ۱۷۰ ، ۲۲٦ ، ۳۳۵ مخونه .
(۱۲۱) همدغه کتاب ، ۲۷٤ مخ .
(۱۲۲) همدغه کتاب ، ۳۹۱ ، ۳۹۲ مخونه .
(۱۲۳) همدغه کتاب ، ٤۲۷ مخ .
(۱۲٤) مطلب د علی محمد مخلص پلار ابابکر دی .
(۱۲۵) حالنامه ، ٤۲۷ مخ .

بي بي گله

دا د پښتو په سیمه کې اوسیده ، په دښتي علوموکې یې لاس درلود او یوه پوهه

میرمن وه . عبد الحلیم اثر په " تیرهیرشاعران " کې بي بي گله او نیك بخته یوه گڼي

ځکه چې دده په نظر د واړو سبکونه بیخی سره یودي ( ١٢٦ ) . خو " پښتني لیکوالي

او شاعراني " د " فرهنگ وزبان اد بیات پښتو " له مخې وایي چې بي بي گله او نیك بخته

بیلی بیلی شاعراني دي ، ولی چې نیك بخته د " پټې خزانې " په استناد د لسی

پیړۍ رده او بي بي گله د د ولسی پیړۍ . ( ١٢٧ )

د وینا بیلگه :

| | |
|---|---|
| ای بنده د پاك رحمانه | پاسه وقت دی د سباح |
| د دیدار جنت جویانه | پاسه وقت دی د سباح |
| لا الــلــه الا الــلــه . | |
| ذکر د اکړه په هر ساه | |
| د ناسوت د ملك پادشاه | پاسه وقت دی د سباح |
| همت پیرکړه په طاعت | |
| درود وایه په حضرت | |
| عمر تیرشه په غــفلــت | پاسه وقت دی د سباح |
| رب چې یې فضل کرم کــا | |
| خاص په وقت د صبحدم کا | |
| کل گناه به ستاعدم کــا | پاسه وقت دی د سباح |

---

( ١٢٦ ) پښتني لیکوالي او شاعراني ، ٢٦ مخ (تیرهیرشاعران ، ٢٩ مخ) .

( ١٢٧ ) همدغه اثر ، ٢٧ مخ .

واوره ای د آدم ځویه
سخته لار ده وړاندی [illegible]
غم یې اوس لا کړی بویه پا سه وقت دی د سباح
که امید کړی له جنته
د ښه خدای له ښه رحمته
ای د پاك رسول امته پا سه وقت دی د سباح
د حضرت په دین قایمه
په بندګی د رب دایمه
ای په درسته شپه نایمه پا سه وقت دی د سباح
چې د رب څه مخلوقات دی
جمادات که حیوانات دی
واړه سر په آدم ذات دی پا سه وقت دی د سباح
که په وقت د سحر خیز کړې
زړه د خدای په یاد و تیز کړې
شیاطین به واړه ریز کړې پا سه وقت دی د سباح
ته په وقت د سحر ګله
کلمه د توحید لوله
د اناری وهې بلبله پا سه وقت دی د سباح
ته له خدا په ویره وکړه
د حضرت په قدم تله کړه
ناروا کار و نه مه کړه پا سه وقت دی د سباح

غلیمان دی نفس شیطان پی
پټ ظاهر ستا په نقصان دی
په داغم کل مومنان دی
پاسه وقت دی د سباح

ستا په تن کی دی ځوځیره
د اعطا له رب عزیزه
واوره ای صاحب تمیزه
پاسه وقت دی د سباح

دواړه غوږ سترګی یاد یږی
خوله په نوم د حق ویښیږی
د رحمت باران وریږی
پاسه وقت دی د سباح

نفس شیطان چی د ز پسی دی
د ز پسی په وسوسی دی
مومنان په تلوسی دی
پاسه وقت دی د سباح

ای په سنګ د خوب سرکوبه
د غه چاره لیونتوبه
ابلیس وکړه په تالوبه
پاسه وقت دی د سباح

پنځه وقته لمونځ اداکړه
حق باطل ځبله جدا کړه
په زاری رب ته ژړا کړه
پاسه وقت دی د سباح

لمونځ له خدایه سره راز دی
ورک له میانه غیر غماز دی
په هر لوری یو آواز دی
پاسه وقت دی د سباح

هر سحر چی بیداریږی
په زاری رب ته ژړیږی
د هغو دعا قبلیږی — پاسه وقت دی د سباح

د خاکی آدم اولاده
غفلت مه کوه نیک زاده
مه اوځه د رب له یاده — پاسه وقت دی د سباح

دا غفلت لویه ورانی ده
دنیا چاره فانی ده
عبادت کوه ځوانی ده — پاسه وقت دی د سباح

چی ویلی پاک سرور دی
یاد ول د حق بهتر دی
ډیر کارونه ستا په سر دی — پاسه وقت دی د سباح

روح بدن چی جدا کیږی
دا ساعت به ارمانیږی
که د لاسه دی څه کیږی — پاسه وقت دی د سباح

چی منکر نکر په سوال شی
بنده پیښ په لوی جنجال شی
خدای خبر چی په څه حال شی — پاسه وقت دی د سباح

د محشر په میدان پاسه
چی حاضر کړه واړه ناسه

د عمل سيري په لاسه — پاسه وقت دی د سباح

نيك او بد چي حسا بيږی
پلا ر او زوی به ويزاريږی
خپل عمل به پلا ريږی — پاسه وقت دی د سباح

د صراط په سرو لاړه
د ګناه پيټی په غاړه
له دی غمه خلاصي غواړه — پاسه وقت دی د سباح

كه له خدای غواړی ديدار
تل نعيم جنت ګلزار
نيك عمل كړه په تلوار — پاسه وقت دی د سباح

"بی بی ګله" خبر داره
له ګل نهی توبه ګاره
په ايمان شكر ګذاره — پاسه وقت دی د سباح (١٢٨)

---

(١٢٨) پښتني ليكوالی اوشاعرانی ، له ٢٧ تر ٣٢ مخه پوری٠

## بي بي ګوهره

د شیتک په اولاده کې د اعظم خان د زوی شاه بزرګ ښځه وه، د دې زامن یو پتل نومیده او بل کشمل. اولونۍ یې بي بي او بدینه. (۱۲۹)

## بي بي لاړو

د کټي خیلو د مشر خان زمان ارتینه کېده، وایي د ډېره ښکلې او هوښیاره ښځه وه، په جرګو او مرکو کې به یې هم برخه اخیسته. د بي بي لاړو د ژوند زمانه د ۱۰۳۷ هـ شاوخوا ده. (۱۳۰)

## بي بي مبارکه

مبارکه د ملک شاه منصور لور وه او شاه منصور د ملک احمد یوسفزي تربور کېده. وایي چې بي بي مبارکې په پوهه او خیرکړ، عفت او پاکړکي ساری نه درلود او یوه رښتیانۍ پښتنه وه، بابر چې دا یوځل له لرې لیدلې وه، پرې مین شوی و، بابر بیا سرې ورولېږل او د ځان له پاره یې وغوښته، لومړی خو د ملک شاه منصور او ملک احمد ځواب دا و چې زمونږ او مغولو څه دی؟ دا کار شونی نه دی، کله چې بابر د دې خبری ته ټینګ شو، بیا یې ورته وویل چې زمونږ له مغولو سره هېڅ مات دی، الغ بیګ وژلی یو (۱۳۱) دا کار نشي کېدای. خو وروسته یې د خپل قوم خبره ومنله، د مصلحت له مخې یې ژبه په هو ورته کېښوده او مبارکه یې ورکړه. څنګه چې دا په بابر ډېره ګرانه وه، نور درباریان ډېر اریده چې که د دې اولاد وشي نو پاچایي به د مغولو له لاسه ووزي او پښتانه به یې و نیسي نو

---

(۱۲۹) حیات، ٦٦٠ مخ.

(۱۳۰) خورشید، ۲۸۳ مخ.

(۱۳۱) الغ بیګ د ۸۷۰ هـ کال په شاوخوا کې د یوسفزیو مشران په کابل کې ووژل.

بي بي مبارکې ته يې داسې دارو ورکړه چې تل شنده پاتې شوه. بابر چې په ۹۳۷ هـ کال مړ شو ، د آګرې په يوه باغ کې يې خښ که ، نه کاله د غلته خښ و ، بيا هـمدې بي بي مبارکې د بابر تابوت له هنده کابل ته ور سا وه او په هغه باغ کې يې خښ کـه چې اوس د بابر باغ بلل کيږي. (۱۳۲)

د بي بي مبارکې ټول عمر په ډير پت او عزت کې تير شوی دی او د اکبر (۹۹۴ هـ پاچا کيدل) په زمانه کې وفات شوې ده (۱۳۳)، ځينې يې نوم "شارقه" راوړی (۱۳٤)

بي بي متو

د متو د بيټ نيکه لور او د شاه اوسين (شاه حسين ؟) غوري ښځه وه ، غلجي او لودي د دې زامن دي ، دا ژوند زمانه يې د ٤٠٠ هـ کال شاوخوا ټاکل کيږي (۱۳٥)

بي بي مراد بخته

دا په خته زمنده وه او د شيخ متي د زوی شيخ يوسف ښځه کيده ، نامتو مؤلف شيخ کته (د ۷۵۰ هـ شاوخوا د ژوند زمانه) د همدغې ښځې زوی دی. (۱۳٦)

بي بي مريمه

د دولت خان مليزي بارکشاه زي خور وه (۱۳۷). په سد وم کې او سيده او سيد علي

---

(۱۳۲) پښتانه ، ٥۳۰ مخ.

(۱۳۳) تواريخ حافظ رحمتخاني ، ۱۰۳ مخ.

(۱۳٤) وګورئ: د تاريخ مرصع نوټونه ، ۱۱٦۹ ، ۱۱۷۰ مخ.

(۱۳٥) مرصع ، ٥۳٥ مخ. خورشيد ۲۰٥، ۲۰٦ ، ۲۰۹ ، ۲۲٤ مخونه. خلاصه ۱۲۷ ، ۱۳۱ ، ۱۳٥ ، ۱۳۷ مخونه.

(۱۳٦) د پټې خزانې تعليقات ، ۲۱٥ مخ (د مخزن افغاني په روايت).

(۱۳۷) د مخزن سريزه ، ی مخ ، تذکرة الابرار ، ۱۳۱ مخ ، بايزيد روښان ، ۹۱ مخ. خو د "روښانيان" په ۱۲۱ مخ او د "پښتانه" په ٦۷۰ مخ کې د "دولت" لور بلل شوې ده.

ترمذی یا پیر بابا (۹۱۱ هـ م) نه یې ورکړی وه او د ومره ښکاره د ه چې یو زوی لوڑ خویې د رلود ل. (۱۳۸)

## بي بي مونده

د ملك قره ښځه او د نومیا لی پښتون خان کجو (۹۰۰ هـ) موروه. د بي بي موندی په باره کې (تواریخ حافظ رحمتخانی) داسې لیکی: "والده ئی (۱۳۹) عاقله مدبره صالحه عفیفه بي بي مونده نامیده چه د ی غونډ ی ښځه بله په افغانستان کښې نه وه تیره شوی." (۱۴۰)

## بي بي نورخاتون

د میاروښان د زوی جلال الدین د بي بي بصری ښځې لور وه (۱٤۱) او د لوی عارف او ساعر میرزاخان انصاری (۱۰٤۱ هـ م) ښځه کیده ، میرزاخان په دا " نوری" بلله (۱٤۲) ، بي بي نورخاتونه یوه پوهه ، عزتی او لاس خلاصې میرمن وه ، ، میرزاخان د یوان یې په یاد کړی و ، د کور دوړ و او غټو له حاله خبره وه ، ټولو د ی احترام کاوه ، الهداد خان (رشید خان) وروریې هم د ی قدر کاوه او خبره یې منله (۱٤۳). عبد الکریم ، عبد الرحمان او عبد السبحان د بي بي نورخاتونې زامن د ی او بي بي فاطمه او بي بي رابعه

---

(۱۳۸) بایزید روښان ، ۹۱ مخ .

(۱۳۹) مطلب د خان کجو مورد ه .

(۱٤۰) تواریخ حافظ رحمتخانی ، ۱٤۱ مخ .

(۱٤۱) حالنامه ، ۳٤٤ ، ٤۷۰ مخ .

(۱٤۲) همد غه کتاب ، ٤٥۷ مخ .

(۱٤۳) همد غه کتاب ، ٤۷٤ مخ .

یسی لورگانی دی . (١٤٤)

بی بی نیکبخته

د شیخ الله داد لور او د شیخ قدم ښځه وه ، لوی ولی شیخ قاسم افغان د مور زوی دی ، دا یوه عالمه او بزرگه ښځه وه او شعری قریحه یې درلوده . محمد هوتک په پټه خزانه کی د نیکبختی په باب داسی راوړی :

" د اعصمت پناه او عارفه د الله د شیخ الله داد لور وه په قوم موزی چه په اشنغر کی کورئی او پلار نیکه د معنوی مرشدان وه . هسی وائی کاتب الحروف محمد چه زما پلار روایت کا ، چه شیخ امام الدین خلیل غوریا خیل پخپل کتاب "اولیای افغان" هسی کښلی دی ؛ چه شیخ الله داد لوی ولی و او لور ئی نیکبخته چه په حقیقت هم نیکبخته عارفه ښځه وه ، علوم دینی ئی ولوستل او په ریاضت او عبادت د خدای عمر تیر کا . په سنه ٩٥١ هجری په حباله د نکاح شرعی د شیخ قدم قدس الله سره راغله چه د خواجه محمد زاهد خلیل متی زی زوی و ، او عارف د خدای و ، په سنه ٩٥٦ ئی له بطنه غوث الزمان قطب دوران شیخ میان قاسم افغان په بدنی کی پیدا سو او دا شیخ په معرفت د خدای شهرت وکا چه په هند او پښتونخوا مشهور سو . نقل کا چه شیخ امام الدین هم د دی عرفا له اولاده دی ، په کتاب د اولیای افغان هسی کا ږی : چه بی بی نیکبخته چه د خدای عارفه او رابعه د زمانی ده ، یو کتاب ئی کښلی دی چه نوم ئی دی "ارشاد الفقرا" او په دی کتاب ئی هسی نصیحتونه په شعر ویلی دی چه فقرا او عبا د الله ته مفید دی ، دا کتاب په

---

(١٤٤) حالنامه ، ١٤٤ مخ .

سنه ۹٦۹ هجری تمام سوی دی او زما پلار ئي نسخه ليدلی وه په بنوکی ، هغه وقت چه دی تللی و په سفر د هغه ځای د غه شعرونه له هغه کتابه زما پلار په یاد وه چه ما د لته ځنی نقل کړل چه کتاب بی په ذکر د عارفه ئی د وران زنګین وی .

مثنوی په نصیحت کښی

په زړه بناد شی ای مومنه! — په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړه — په زړه ټینګ شه له یقینه
شکر صبر پر هر حال کړه — خود نمای مشه خود بینه
شپه وروځ به په ژړا یی — که خبر شی له سجینه
سجین ځای د خود نمایه — د بی نمازو او بی دینه
له هغه ځا امان راکړی — یا الله العالمینه!(١٤٥)

بی بی یانه

بی بی یانه(١٤٦) د شهباز خان بنځه وه او د خوشحال ختك مور کیده(١٤٧) دا په ختیه خلوزی وه(١٤٨) او د ژوند وختیی د ١٠١٤ هـ کال(١٤٩) شاوخوا کیږی . خوشحال په یوه بیت کی د خپلی مور مړینه داسی یادوی:

---

(١٤٥) پته خزانه ، ١٨٢ او ١٨٤ مخ .
(١٤٦) په اصلی متن کی همداسی دی ، وګوری : د مرصع نوټونه ، ١٨٦ مخ ، خو په چاپ کی بی "بی بی اتا" کړی . زما په ګومان به د غه نوم همدا "بی بی یانه" وی او که نه نو بنایی چی "بی بی جانه" به وی .
(١٤٧) مرصع ، ٢٥٨ مخ .
(١٤٨) همدغه کتاب ، ٢٧٣ مخ .
(١٤٩) د غه د جهانګیر د پاچاکید و کال دی .

چه د پلار د مرګ می تیر شو پوره قرن　　د صفری په میاشت ومړه زما مور (۱۵۰)

پسائی

د ا په ختیځینی وه او د ملك اکوړی (۱۵۱) ښځه کیده ، طاؤس خان د دې زوی د ی. (۱۵۲)

پسنجو

پنجو د ملك اکوړی ښځه کیده ، خضرخان او عبد الغفور یا غفور بیګ د دې زامن د ی. (۱۵۳)

پسی پسوه

د سروانی په اولاده کی د یوسف زوی اسماعیل د وه ښځی د رلودی، یوه پسی پسوړ یا پسی پسی چی د هد وه استو (زی) (۱۵٤) او سام مور وه ، بله ما نو د تور (زی) او مچا (زی) مور. (۱۵۵)

تاج الحریر جوهر ملکه

د سلطان علاء الدین جهانسوز لوروه او د سلطان غیاث الدین غوری (۵۵۸—۵۹۹ هـ) ښځه کیده ، ښاییی چی ماه ملکه به ییی د همدغی ښځی لور وی. (۱۵٦)

---

(۱۵۰) ارمغان خوشحال ، ۷۳۲ مخ .
(۱۵۱) مغول اکبر په ۱۵۸٦ ع (۹۹۵ هـ) کی اکوړی ته د پیښور او اټك ترمنځ دلویې لاری ساتنه وروسپارله (پښتانه د تاریخ په رڼا کښی ، ۷٤۸ مخ) .
(۱۵۲)(۱۵۳) مرصع ، ۲۵۷ مخ .
(۱۵٤) په تاریخ مرصع کی د یرځله د اسی شوی دی چی د چا د زامنو نوم اخلی نو په پای کی ییی (زی) هم زیاتوی ، کله بیا سړی شکمن شی چی د غه (زی) د نامه یوه برخه ده که د (خیل) معنا لری.
(۱۵۵) تاریخ خانجهانی ومخزن افغانی ، ۸۰٦ مخ . د تاریخ مرصع نوښتونه، ۱۳۷۲ مخ
(۱۵٦) طبقات ، [illegible] ، د ۳۲۱ او ۲۲۳ مخ ترمنځ جدول ، ۳۵۷ ، ۳٦۹ ترمخونه.

تاج بي بي

د ملك د رويزه لور او د شيخ كبير مشهور په بالا پير ښحه وه ، شيخ امام الدين د همدغي تاج بي بي زوى دى چي په ۱۰۲۰ هـ كال په بدني كي ترى زيږيدلى دى. ( ۱۵۷ )

تاج بي بي

د خوشحال ختك لوركيده ، كتابونه يې لوستي وو او يوه عابده پښتنه وه ، داسې بريښي چي په پيغلتابه كي مړه شوى ده . خوشحال خپله دغه لور په يو ځو لنډو جملو كي داسي معرفي كوي :

" د غربين په غابنى راجګ لوړه راغلم ، په مجرد د راتلو كښل د اشرف خان راغلة په د امضمون چه منصب مي اضافه شة ، وطن ترې بولاقي ئي راكړ ، داخبر چه د اشرف خان راغى خوشوقتي د هرچا پري وشوه ، د موږ كور ونه چه د تخت په كوټ كښي وو د تخت هوا پري مخالفه وه ، د خور موهم ځه حال نخدمت د سلوك نه وة ، اكثر تبژن شوي وو ، په تنگ وو ، مالره ئي وكښل چه مونږ له د ي ځايه وباسه د قادرخان مورلا په جد وه بيماره وه ، لكه چه اور په كلي ولگي عالم ترې ووزي هسي لوى هلك ترى ووتل ، تاج بي بي بيماره وه په د اوتل كښي ومړه ، په موجب د دي د وصيت د فقير (۱۵۸) كره ورووړه شوه ، د نيا د ځنگه ښخه شوه ، نيك بخته لوړي وه ، قرآن خوانه وه ، كتابونه ئي لوستي وو ، په طاعت په عبادت كښي وه حق تعالى ئي وبخښه. " ( ۱۵۹ )

---

(۱۵۷) د پټې خزانې تعليقات ، د قلمي مخزن افغاني او ميانعيم د د يوان په بنسټ.
(۱۵۸) بنا يې مطلب فقير جميل بيگ د خوشحال وروروى.
(۱۵۹) بياض ، د تاريخ مرصع د ۳۱۵ مخ په اساس.

تاروکه

دا په ختیځ میړه خیله وه او د ملک اکوړي ښځه کیده، یحیی خان د دې زوی دی. (۱۶۰)

تانو

د "موسی او ګلمکۍ" د قصې یوه پهلوانه ده چې د ولیجان خور وه، د دې خپل کسات له غلیمه په ډېره میړانه اخیستی دی، تانو یوه توریالۍ او ننګیالۍ پښتنه وه. د دې په باب نوري خبرې د ګلمکۍ په برخه کې ولولئ، د لته د نښې په توګه د تانو څو ناري چې د پښتو ژبې حماسي اشعار ګڼل کیږي، راخلو:

کله چې موسی خان او ولیجان د سهیلي مقابلې ته رهي کیږي، تانو په ولیجان ناره کوي:

ولیجانه! برایسی می، برایسی می خوب لید لی

چه په لاس می د وه باهووي، د غه یو له بله ومبلی یوما تسی

ولیجانه! مخ راستون که، زما جانه په د یدن دې مړه نسوم

ورځئ ورځئ په مخ مو ښه سه، ولیجانه غائبانه سپارمو مله سه.

په پای کې موسی خان او ولیجان مري، یوازې ښځې مقابلې ته پاتې کیږي، تانو سهیلي راغواړي چې زه دې میړه کوم. سهیلي چې راځي تانو او د نورو ښځو سهیلي ته د شې توره او سپر په لاس ورکوي چې راځه او سریسی سره معلومه کړو، د لته تانو په سهیلي داسې ناره کوي:

سهیلیه! سهیلیه! توره واخله ولا ړ یېږه!

د ښځو خیال را باندې مکړه، سهیلیه ښځه نه یم مه شرمیږه.

په دې توګه تانو په میړانه خپل د ښمن وژني. (۱۶۱)

---

(۱۶۰). مرجع، ۲۵۷ مخ.

(۱۶۱). پښتانه شعراء، ۱ ټوک، ۱۴۹ مخ. ملي هنداره، ۱ ټوک، له ۸۴ تر ۱۱۲ پورې.

تره‌کۍ (تره کۍ)

د سیانی په اولاده‌کی د سور زوی یونس یوه‌لور د رلوده او ده زامن لوریسی تره‌کۍ نومیده اوزامن یی محمود او یسین. (١٦٢)

تریۍ

د اپریدی زوی ما بی یا ما بی د ری ښځی د رلودی، یوه تریۍ نومیده بله فاطمه او د ریمه زینه، میتاخیل د تریۍ نبیره دی. (١٦٣). د انوم په "خورشید جهان" کی " ترینه " دی. (١٦٤)

ترینه

د اپریدی د زوی ما بی ښځه (وگوریۍ: تریۍ).

ترکانړی

د سنبل خان لوروه او په باجوړ کی اوسیده او له هغه یی اولاده یی باجوړ ته بلله، د ترکانړ په باب په هاروبهار کی دا سی راغلی دی:

"د سوات د سیمی د الانړ صدرالدین تللی واو د انگریزانو په پوځ کی شامل شوی وچی د خپل فعالیت په اثر د صوبدار بهادر مقام ته رسیدلی و د ډیلی په چورچپاوکی یی ډیر مال او هستی تر لاسه کړی وه د پوځ څخه یی رخصت واخیست یوه هند وستانۍ مسلمانه ښځه یی وکړه او خپل وطن الانړ ته راستون شو.

د صدرالدین د تره زوی صحبت خان چی خبر شو چی تربوریی د مال او ثروت سره راغلی نو وړ ارشو چی د ی به په وطن کی مهم سړی شی د یوځو تنوغلو سره

---

(١٦٢) مرصع، ٦١٥ مخ ،خوږه حیات، ٢٨٤ مخ او خورشید، ٢٢٤ مخ کی زوی کنل شوی.
(١٦٣) مرصع، ٦٢١ مخ.
(١٦٤) خورشید، ٢٣٩ مخ.

یې د ده لاره ونیوله او په خوبکی یې وواژه بیا یې د صدرالدین ښځه له خان سره بوتله او غوښتل یې چې په زوره نکاح ورې وتړي. خو ښځه تری پټه ولاړه خان یې هندوستان ته ورساوه او د خپل میړه له پخوانی قوماندانه یې مرسته وغوښته خو هغه ورسره یوازی د پیسو مرسته وکړای شوه. صحبت خان د ګلی لوی سړی شو میلی چرچی کوی او میلستیا کانی ورکوی خو ښځه یې زړه شوی ده او غواړی چې یوه بله خوا نه ښځه وکړی نو د باجوړ د سیمی سنبل خان لور ترکانۍ غواړی، وا ده تیار یږی او صدرالدین له کابو سره په ښکلو جامو او په ځلوینت ګزه اوږده پټکی کی په هغه لور روانیږی.

د ده لومړی ښځه غواړی خان مړکړی خو یو بل فکر ورپید اکیږی، د صدرالدین یو بل تربور د شیردل خان په نامه هم وچی د صدرالدین له مال ځخه ورته ځه نه وورکړی شوی، د صحبت خان ښځه له هغه سره خبری کوی او ورته وایی: -

صدرالدین خوستا د تره زوی هم وا و صحبت خان د هغه په تول مال قبضه کړی ده او ستا رضا. شیردل خان د صحبت خان لارنیسی ، وژنی یې او د واده جامی یې په وینو رنګوی." (١٦٥)

یوه شاعر د ترکانۍ ناری سوری د اسی یادی کړی دي:

ترکانۍ مورته په ژړا شوه
د سینی ګل می په سحر ورېژید نه

ترکانۍ مورته په ژړا شوه
ځما راغلی ټیك (به) بیا په بیرته ځینه

ترکانۍ سخرته په ژړا شوه
کاکا ځماد بیر کړو مات شو میخونه (١٦٦)

<u>توتیا</u>

د خوشحال ختك له یوی ځلوریزی د اسی بریښی چې د یوی ښځی نوم یې توتیا و او هغه ځلوریزه داده:

---

(١٦٥) د پښتو نخوا د شعر هار و بهار (تشریحات) ، ١٠٣ او ١٠٤ مخ .

(١٦٦) همدغه کتاب ، ١٩٥ مخ .

خوشحال له مه‌یی په زوی والی ویاړه　　　همځنی مهر وفا مه‌غواړه
هرچه زوولی دی د توتیا له نســـه　　　ب پد رکشو په بوی دی واړه (۱٦۷)

توتیا

توتیا(۱٦۸) د بازید خور کیده ، په‌ختیه یوسفزیٔ‌راود سوات‌وه . آدم په‌د رخو مین شوی وخوپلار یـی لا نه‌وخبر او توتیا یی ورته وغوښته ، بازید هوکی‌ورته وویلی ، خووروسته چی خبرشوچی آدم په‌د رخانیٔ مین دی ، ځواب یی ورکه‌چی نه ، نه‌یی د رکوم ، اوس‌نو توتیا د آدم په‌نامه‌وه ، نه‌کول‌یی‌بدنامی وه ، نویوه شپه له‌خپلو ملګرو سره‌ورغی ، په‌زوریی توتیا زاسپره‌کړه اوکورته بی‌راوسته . د لته بازید لښکر برابرکړاود آدم په‌لوری ور‌وخوځید ، سخت‌جنګ یی سره‌وکړ ، بیا خبره د روغی شوه ، بیرته‌سره پخلا شول او توتیا د آدم ښځــه شوه ، میرباش د آدم د همدغی توتیا نومی ښځی زوی دی ، د "آدم‌د رخانیٔ" په‌نقل کی د توتیا ناری هم‌راغلی دی ، یوځای وایی :

خانه‌څه‌کسانه‌دی وکــړه　　　پلار او مورپرتا ما بیګانه‌کړه
پرد رخوباندی‌مین‌سوی　　　د توتیا مینه‌دی څلره ایله‌کړه (۱٦۹)

تورپیکیٔ

دا په‌ختیه اخکزیٔ‌وه ، د ریدی‌خان ښځه کیده اود کند هار ویش ته‌نژدی دکدنی په‌کلی کی اوسیده . تورپیکیٔ د خپل هیواد او خاوری د خپلواکیٔ په‌لاره‌کی‌له‌خپل ښتن سره په‌جګړو‌کی ګډ‌ون د رلود اوبیا د واړه په همدغوجګړو‌کی شهید ان

---

(۱٦۷) ارمغان خوشحال ، ۱۸۲ مخ .
(۱٦۸) حیات ، ۲۱۲ مخ : طوطیا .
(۱٦۹) ملی هنداره ، ۵۲ ، ۵۳ ، ۵٤ ، ۵۸ ، ٦٤ ، ٦۵ ، ۷۰ ، ۷۵ مخونه .

شوی دی . ( ۱۷۰ )

کله چې تور پیکی د جگړې په ډگر کې د خپل ښېښتن میړانه کوري، نو وایي :

ترد ې تیری توری دی جارسم  د غلیم وینی بیوه گرانه مینه

په وینو رنگ تبوره دې راوړه  راسه په سر وشوندو یې زه د ر پاکومه (۱۷۱)

## تبوره

په پښتونخوا کې د هغه مشهور ملا لور کیده چې د کل بشری مین عباس یا طالبجان

پری دېره و، د ابنا یسته نومیده ، خو توره به یې بلله . ( ۱۷۲ )

## توره ادي

توره ادې د میاروښان ښځه وه او د ولت بي د همدغی ارتینی زوی دی (۱۷۳)

د ولت د ولس کلن وچی له د لا زاکو سره په یوه جگړه کې شهید شو. ( ۱۷۴ )

## تبورۍ

د لوانی د وه ارتینی وې ، یوه سیرۍ (۱۷۵) او بله توریۍ (۱۷۶) د توریۍ پنځه زامن

وشول : مما ، میا ، تتور ، شیخ او هود . ( ۱۷۷ )

---

(۱۷۰) په "پښتني میرمنی" کې راغلی دی چې تور پیکی تقریباً ۴ کاله پخوا او سیده او د هغه کال په غزا کې یې برخه درلوده ، خو نه وایی چې کومه غزا او په کوم کال ؟

(۱۷۱) همدغه کتاب ، ۳۶ ، ۳۷ ، ۳۸ مخ ( د طلوع افغان د ۱٤ کال د لومړۍ گڼې له مخی )

(۱۷۲) وگوری : بنا یسته .

(۱۷۳) حالنامه ، ۳۱۰ مخ .

(۱۷٤) همدغه کتاب ، ٤۵۳ مخ .

(۱۷۵) د غه نوم د "حیات" په ۲۸۵ مخ کی ، د "خورشید" په ۲۲۳ مخ کی او د "پښتانه" په ۱۳۳۹ مخ کی "شیرۍ" دی ، د "تاریخ خانجهانی ومخزن افغانی" په ۸۰۵ مخ کی "سری" دی .

(۱۷٦) پښتانه ، ۱۳۳۹ مخ ; توریۍ .

(۱۷۷) مرصع ، ٦۱٦ مخ .

جاریه

د کند په اولاده کي د عمرزوی مند ړ د وه ښځی د رلودي چي یوه یی جاریه وه(۱۷۸).

جمعیت بي بي

د غلجیو په میرزا خیلوکی د نورالدین په اولاده کی د نواب غوث محمد (۱۲٤۲ هـ مړ) لوروه او د هندوستان په (بهوپال) کی اوسیده. (۱۷۹)

حره جلالی

د سلطان بهاءالدین سام لوروه او د سلطان شهاب الدین غوری او سلطان غیاث الدین غوری خورکیده ، د دي بله خوریي ملکه خراسان بلله، د طبقات ناصری مؤلف د ا خویندی ترد وا ړو ورونو پورته گڼي . حره جلالی د بامیانو د واکمن غوث الدین محمد ښځه وه او د دی د ژوند زمانه د ٥٦٠ هـ کال شا وخوا گڼل کیږی. (۱۸۰)

حضرت بي بي

د اشرف خان هجری ښځه وه او د افضل خان ختك مور، افضل خان ختك وایی:
"حضرت بي بي چه والده د مؤلف وه او نهایت سخی او په طاعت په عبادت به د الله تعالی شب وروز مشغوله وه په هر ملك هر بلاد چه څوك ملا د رویش وه همه د دی وظیفه خوار وو ، ډیره فقیرد وسته وه." (۱۸۱)
د حضرت بي بي یوه وریره د افضل خان ختك ښځه وه ، خو اولاد یی نه د رلود(۱۸۲).
خوشحال په خپل یوه شعر کی "بي بي" یاد ه کړی ده، مگر خدا ز ده چي خوشحال د لته

---

(۱۷۸) حیات ، ۱۵۹ مخ .
(۱۷۹) خورشید ، ۲۱۱ . ۲۱۲ مخ .
(۱۸۰) طبقات ، ج ۱ ، ۳۳۸ مخ .
(۱۸۱) مرصع ، ٦۰۳ مخ .
(۱۸۲) مرصع ، عمدغه ٦۰۳ مخ .

همدغه حضرت بي بي یاد وی او که کومه بله بي بي؟ د هغه شعر څو بیتونه داد ی:

راشه کوره د بهرام د نفاق چر | که سنی گه رافضی کهی کافر
...................... | ...................
د خوشحال ختك که سل زویه نشی دی | لالائق د خانی نشته یو پسر (۱۸۳)
د مزریونه خالی نه وی هیڅ د رکه | خدای به بیر پښنی پیداکاشیر نر
د بي بي اولاد همه کید رمید ړ د ی | په افضل په معظم لګی نظر
که طالع ور سره مل شی خان خرکند کا | بیابه هله پتریخ کا د پدر (۱۸٤)

## حلیمه حافظه

په پته خزانه کی راغلی دی چی: "حلیمه د خان علیین مکان خوشحال خان ختك لور وه چه د عبدالقادر خان ختك سکه خور کیده، زما پلار هسی روایت کا چه زه بنوته ولاړم، په هغه وقت د اپښتنه ژوند یه وه او دخپل پلار په ژوند ئی ورجه علوم ولوستل او بیا د شیخ سعدی لاهوری رحمة الله علیه مریده سوه او د خپل ورور عبد القادر خان په لاس ئی بیعت وکا، چه هغه هم د شیخ د وران خلیفه و. روایت کا چی حلیمه بي بي فاضله اوعارفه ښځه ده او په سر اپرده د عصمت ناسته ده او میړه ئی نه دی کړی او د خالق عبادت کا او د خپل ورور عبد القادر خان په کور کی نور و ښځو ته لوستل کا او قرآن عظیم ئی هم په یاد دی. زما پلار وویل چه حلیمه بي بي په پښتو ښه اشعار هم وایی او په خپل عصر سرامد اقران ده او موزونان د پښتوئی اشعار خوښوی، د تصوف او طریقت کتب ئی ټول لوستلی دی او هسی وایی چه مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت امام ربانی قدس سره حل کوی، د حلیمی په اشعارو کی مجازی عشق نه ښکاری بلکه ټول شعر ونه ئی د حقیقت پر لار دی، او د محبوب حقیقی صفت کا، د غه یو ه بد له ئی زما پلار ماته

---

(۱۸۳) د خوشحال ختك کلیات د لومړی ټوك په ٦٢ مخ کی د ا بیت مقطع فرض شوی ده.
(۱۸٤) مرجع، ٤٩٩، ٥٠٠ مخونه.

و ويله جه په خزانه کی د اغلوم رحمة الله عليها

## غزل

د اشنای په فکر خوښه هسی شان شوم    نه پوهيږم چه معتاز که نورجهان شوم
چه ئی کړ مه ستا په سينه سرفرازه    ثنا خوانه په ځور نکه د رحمان شوم
چه مجازمی د ايازولاړی له زړه نه    سربلنده تر محمود غوندی سلطان شوم
وهر چا وته چه گورم واړه دی دی    د جمال په ننداروئی شادمان شوم
غير فکر می له زړه نه را بهر شو    پر خليل و پرعدو باندی يکسان شوم
حليمی د غمازمکرزيات له حد شو    چه دی بيل له ياره نه کاپه گمان شوم"(١٨٥)

## خاتمه بی بی

د شيتك په اولاده کی د شاه بزرگ د زوی شرافتخان لوروه، د نواب صمد خان ښځه وه او د اميردوست محمد خان (١٢٥٠ ه پاچا کيدل) ورينداركيده. (١٨٦)

## خاتونه

د دولتيار د زوی مومند (مهمند) ښځه وه، ميار يا مهيار، کوکو او موسی د مومند د دغی ښځی زامن دی چی په گړه ختوزی بلل کيږی . (١٨٧)

## خانو

د نازوخان لوروه او د اکوړی د زوی يحيی خان ښځه کيده، د اپه ختهه

---

(١٨٥) پټه خزانه ، ١٨٠ ، ١٨٢ مخونه.
(١٨٦) حيات ، ٦٦٠ ، ٦٦١ مخونه.
(١٨٧) مرصع ، ٦٠٩ مخ . د مرصع ضميمی ، ١٣٦٥ ، ١٣٦٦ ، ١٣٦٧ مخونه. خلاصه ١١١ مخ .

بولا قه وه، شریف‌خان او جلال خان د همدی خانوزامن دی. گله‌چی نازو خان په یوه‌جگړه‌کی اکوړي مړکه، لوریی خانو اسیره‌شوه. بیا یحیی خان په نکاح کړه.( ۱۸۸)

## ختوړیه

د اپریدی لمنی د مایی زوی آدم د وه‌ښځی د رلودی، یوه ختوریه(۱۸۹) او بله عائشه ، حسن خیل، ژواك او د نگی د ختوړیه‌زوزات دی.( ۱۹۰)

## خدی (خدیه)

د خښی په‌اولاده‌کی د سهیل زوی عزیز د وه‌ښځی کړي وي‌چی یوه‌یی خدی (خدیه) نومیده‌اوبله ناخه، له خدی لقمان پاتی شواوله ناخه باره‌خیل او احمد خیل. ( ۱۹۱)

## خدیجه

د میا روښان نیکه‌د قاضی عبدالله پلار دری ښځی د رلودي چی یوه‌یی خدیجه نومیده ، اسحاق او خواجه د دی‌زامن دی .(۱۹۲)

## خنجا (؟)

د میا روښان د نیکه‌د شیخ عبدالله د پلار د وه‌نوری ښځی یو عایشه‌وه اوبله خنجا (؟) .( ۱۹۳)

---

(۱۸۸) مرصع ، ۲۵۷ مخ
(۱۸۹) مرصع ، ٦۲۱ مخ : ختوزیٔ .
(۱۹۰) خورشید ، ۲۳۹ مخ .
(۱۹۱) حیات ، ۱۷۲ مخ .
(۱۹۲) حالنامه ، ۳ مخ .
(۱۹۳) حالنامه ، ۳ مخ . دلته متن نیمگړی دی، نه‌ښکاری چی په‌عبدالله ، عبدالرحمان او خداداد کی څوك د عایشی زوی دی او څوك د خنجا (؟)

خوابکانی (خوابکانی)

د ابدالی قبیلی مشرنیکه ابدال خان د وه ښځی د رلوده چی د یوی ښځی نوم یی خوابکانی وو. (١٩٤)

خوّاره مشی

د جلات او محبوبا په نقل کی د خواره مشی نوم راغلی دی او وایی چی دا د محبوبا مینځه وه. (١٩٥)

خوبی

د گنواپور یا گنوه پور د کټی خیلی بی بی امیری ښځی لوروه او جهان خان بابر ته یی ورکړی وه، د خوبی (خوبۍ؟) د وه زامن وو، یو ضحاك او بل سکندر اولاد دی ته یی خوبی زی وایی. (١٩٦)

خیرخاتونه

افضل خان خټك وایی چی بهرام " مالره د خلیل اکوړخیل مور چه خیرخاتونه نومیده په طریق د ایلچی گیری راستوله چه ته خاطرجمع لره، دا لښکر زه د تا وغلیمانو ته کوم، ته قرار په ځای ناست وسه، زه هم د ده له حاله په هر دم خبر د اروم، جاسوسان می پری پوری وو، خیرخاتونی ته می وویل چه آفرین باد د تا په ایلچی گیری، ښه په وخت راغلی. " (١٩٧)

---

(١٩٤) حیات، ١١٧ مخ.

(١٩٥) د قصه خوانۍ گپ، ٨ او ٩ مخ.

(١٩٦) خورشید، ٢٨٠، ٢٨١، ٢٨٢، ٢٨٤ مخونه. حیات، ٤٣٠ او ٤٣٢ مخ. ه د ه او

(١٩٧) مرصع، ٤٨٩ مخ.

د تي (د تيړ)

کله چي پير روښان په مهمندزيو کي و، يوه ښځه يې مريده شوه چي د تي نوميده
او خداي ښه صورت او سيرت د واړه ورکړي وو، ريا ضتونه او د پير روښان
خدمتونه يې په ډير اخلاص وکړه، د روښان ترنظره ښه ور غله، پس په نکاح
يې کړه (۱۹۸) . په "حالنامه" کي نه دی راغلي چي الهداد د ميا روښان د
کومې ښځي زوی دی، خو په "تاريخ مرصع" کي دا نوم "د تي" دی او وايي
چي الهداد د همدې زوی دی . (۱۹۹)

د ختره

د ميا روښان يوه مريده وه . (۲۰۰)

د رخانۍ

د رخانۍ د طاوس خان (۲۰۱) لور او د آدم خان محبوبه وه، په سوات کي اوسيده
او د ژوند زمانه يې له ۹۵۰ هـ کاله (۲۰۲) را ور وسته اټکل کيږي . د آدم د رخانۍ
داستان ډير وکسانو په نظم او نثر ليکلی دی (۲۰۳) او د غه نقل په پښتنو کي ترنورو
ټولو نقلونو لوی نوم لري (۲۰٤). د د رخانۍ نارې نقلچيان په غونډو او مجلسونو
کي په داسي ډول وايي چي زړونه ويلوي.

---

(۱۹۸) حالنامه، ۲۷٤ او ۲۹۲ مخ .
(۱۹۹) د تاريخ مرصع نوټونه، ۱۱۶۹ مخ .
(۲۰۰) حالنامه، ۸۹ مخ .
(۲۰۱) حيات، ۲۱۱ مخ : پيرجوګي خان.
(۲۰۲) پښتانه شعراء، ۱ ټوک، ۱۱۲ مخ .
(۲۰۳) وګورئ: پښتو منظومي قصي، ۱ ټوک، له ۷ تر ۱۵ مخه پوري.
(۲۰٤) د بشپړي پيژندني له پاره وګورئ: پښتانه شعراء، ۱ ټوک، ۱۱۲،۱۱۳،۱۱٤
مخونه. حيات، ۱۱۱،۱۱۲ مخونه. آدم د رخانۍ (يوه څيړنه) .
د صدرخان خټک د "آدم د رخانۍ" سريزه.

یوه ورځ د نحونو ټولی تیرېده ، د آدم کومان پری راغیٔ چی دا به د درخانۍ له وی ، نوآدم د نجونو په ټولی ناره وکړه ، کله چی د درخانۍ د آدم ننیاره واوریده ، دا سی ځواب یی ورکه :

آدمخان د ریدی گل دی قلند رونجونوا یښی پرا وربل دی

برابر راځه آدمه د دی ټول سردار ه زه یم ټول می خپل‌دی

هغه وخت‌چی آدم د درخانی ګورته ورواوښت اوپټ‌پټ‌یی د درخانۍ کټ ته ځان ورورساوه . نوچی په د درخانۍ یی لاس ولګید ، هغه له‌خوبه راویښه شوه اوپوه شوه‌چی آدم دی :

آدمخان می نه‌ګڼلی د رته وایم پایوگی(٢٠٥)می وشمیرلی

په منګول نی ووهلی د واړه لاس‌می دی‌خدای‌وچ کاتوځنګلی .

کله‌چی سهارجرګ آذان وکه ، د رخونار ي کړی :

ای زموږ چرګه کولنګه ستا په ستونی کی دی‌خوږسی ای بد رنګه

سبا نه وتا سبا که د اشاهی آدم دی کوزکه له پلنګه

هغه وخت‌چی پیاوي ، آ.م په‌غیشی وویشت‌اوپه‌کورکی پروت‌و او پیاوی د درخانۍ د ود ولوتکل وکه ، د رخانۍ دا خبرآدم ته ورولیږه :

نن زړګی زماغمجن دی چی شاهی‌آدم ویشتلی برسیرن دی

وآده نن یا به‌سبا وی د د رخوفکرخراب‌اوږ یرکړمن دی .

د ردانه

درردانه د ملك اکوری ښځه وه او ملك یوسف یی د همدغی ښځی زوی دی(٢٠٦).

دری

د خښنی په اولاده‌کی د اتمان زوی سدو د وه‌ښځی درلودی، یوه زلیږاو

(٢٠٥) پلاویسی "د رخانۍ" پایاو نومی ته ورکړی وه .

(٢٠٦) مرصع ، ٢٥٧ مخ .

بله د ري (٢٠٧)، بهزاد (٢٠٨). خضر، محمد او مير احمد د دريځ زامن دي د وی ته په کډه "بريزی" وايي .

### د نيځ

د مياروښان ښځه (وګورئ : د تي) .

### د ويړه

د غوريوالي کورنۍ په حسن خيلوکي پر ظفرخان د زوی مغل خان يوه ښځه يې د ويړه بلله. (٢٠٩)

### د ولتيځ

د ولتيځ د خوشحال د تره عالم خان يا شاه عالم ښځه وه او آصف خان يې د همدغې ښځې زوی، دی. (٢١٠)

### د هرملکه

په غرضزی قبيله کې د واله دين ښځه وه ، اولاده يې د . د هرمه خيل په نامه ياديږي. (٢١١)

### رابعه

د ملك عبدل مغول خيل لور وه (٢١٢) چې ولي نعمته به يې بلله (٢١٣) ، د د ليرخان "جلال خان" (٢١٤) او يوسف خان مورکيده .

(٢٠٧) خلاصه ، ١١٥ مخ .
(٢٠٨) د غه بهزاد د خان کجو نيکه دی (وګورئ : تواريخ حافظ رحمتخاني ، ١٤١ مخ).
(٢٠٩) حيات ، ٦٥٦ مخ .
(٢١٠) مرصع ، ٢٥٧ ، ٢٦٠ ، ٢٧٢ مخونه.
(٢١١) خورشيد ، ٢٧٠ مخ . حيات ، ٥٠٠ مخ .
(٢١٢) د تاريخ مرصع نوټونه ، ١١٥٥ مخ .
(٢١٣) مرصع ، ٢٢٧ مخ .
(٢١٤) د خانجهان او اورنګزيب نوميالی امير واو په ١٠٢٨ هـ کې مړ دی .

## رابعه

د دې پښتنې شاعرې په باب محمد هوتك وايي چې :

"حال د دې شاعرې ما ته نه دی معلوم سوی خو لږ څه چه ښکاره ده هغه هسې ده چې دا شاعره د قندهار وه او په دوران د محمد بابر پادشاه ژوند کا هسې وايي چه اشعار ئې ډېر و دیوان ئې درلود د غه یوه رباعي ماته صدیق او رفیق محمد طاهر جمریانۍ وویله چه زه ئې دلته په خزانه را نقل کوم

رباعي

آدم ئې مځکې وته راستون کا　　　په اور د غم ئې سوی لړمون کا

د وزخ ئې روغ کا پز مخ د مځکې　　　نوم ئې د هغه دلته بیلتون کا" (۲۱۵)

## رابیا

رابیا د کلا بست د پاچا اسلم خان بړیڅ د وزیر لور وه او پلار یې د اسلم خان زوی فتح خان ته ورکړی وه، د وی د واړه یو په بل مین وو، د اسی مینان چې که به ان فتح خان جنګ ته هم ته، رابیا به ور سره وه. وایي کله چې فتح خان له مغولو سره د جنګ له پاره د شپیتو تنو بړیڅو ځوانانو په ملګرتیا هند ته لاړ هم رابیا ور سره وه.

د "رابیا او فتح خان" په نقل کې د رابیا له غیرته ډکې نارې راغلي دي او په دې توګه رابیا د پښتنو یوه ملي شاعره ګڼله کیږي. هغه وخت چې فتح خان له خپلو ملګرو سره د هند لور ته خوځیده، مخ یې رابیا ته وروا ړاوه چې ته را سره ځې او که نه؟ دلته رابیا په خپل مین ناره وکړه:

که ځوړ اندی د کرنګ ورځې ځوړ اندی

فتح ځی د هند ولور ته بغه ګل رابیا مې ځی تر تا دو ړاندی

کومه شپه فتح خان له جنګه ستړی ستومانه راغلی، په خوا ږه خوب ویده ده دی او سهار وختی له خوبه نشو را پاڅید ای، رابیا راځی د فتح خان سر ته د ریږی او

---

(۲۱۵) پټه خزانه، ۱۹۵ او ۱۹٦ مخ.

د اسې ناره کوي:

سر د سره، سره پښنګه لوړ که فتح خانه      رابیا ګلې، ګلې پنده ورته کړه سپره سوه!

د رابیا د ژوند زمانه له زرم هجري کاله مخکې ګڼل کېږي. (۲۱۶)

## رابیا خروټې

د مدو لورو او د ۱۲۴۰ هـ ش کال په شاوخوا کې کټواز ته نژدې د زواکي په کلي کې زېږېدلې ده.

په ځوانۍ کې یې له یوه ځلمي کوچي سره مینه پیدا شوه، دا پټپله مینه کې وځورېده وکړېده، وسوځېده او نتیجه یې ښکلي شعرونه شوه:

یه اوښې اوښې د دامان اوښې      څه دې د رخیر مه په پښه نګوښې
خیالي زړګې دې تر مهار لاندې      لا لیه بیا چیرې له مانه تښې
یه توري توري کیږدیه توري      د غرمې باد ته په پیڅول ښوري
وری د رچا پیر دې او ښان درچولې      ترما خوښه یې لالي خوګوري
یه مینې! مینې! تو ده شه ویني      زما په صورت کښې څه شو موینې
پلو مې وسو سر مې سر تور شو      سترګې مې شولې په ژړا سپینې
یه باده! باده! د خوراسانه      بلا دې واخلم ځه تر دامانه
د پیکي بوی مې د ر سره یوسیه      نخښه مې یوسه یار ته له مانه (۲۱۷)

---

(۲۱۶) پښتانه شعرا، ۱ ټوک، ۱۰۰، ۱۰۱، ۱۰۲ مخونه. ملي هنداره ۱ ټوک، له ۵ تر ۲۶ مخه پورې. د پښتونخوا د شعر هار و بهار په ۱۲۸ مخ کې دا نوم "رابیه" دی.

(۲۱۷) پښتني لیکوالي او شاعراني، ۱۷ او ۱۸ مخ (پښتني لیکوالي او شاعراني دغه برخه د پښتانه شعرا له څلورم ټوکه را اخیستي ده).

## رانیۍ

د خښي په اولاده کي د مندي زوي يوسف پنځه زامن د رلودل: عیسی ، موسی ملی ، اکو ، اوریا (بادی) . اکو د وه ښځي د رلودی ، یوه گوهره (۲۱۸) او بله رانیۍ ، د اکو د رانیۍ ښځي د وه زامن وو ، حلیم او اوتمان . (۲۱۹) څنگه چي دغه اکو د نومیالي مقتن شیخ ملي وروردی ، نو رانیۍ هم د شیخ ملي معاصره گڼله کیږی .

## رائي

رائي د ملك اکوړي د زوي يحيى خان ښځه وه ، محمد خان او ښادی خان د دې زامن دی . (۲۲۰)

## رحمتي (رحمتۍ)

د میاروښان یوه مریده وه . (۲۲۱)

## رحیمه

د تیراوه ، میره یی سلیم نومیده ، بې ته خدای زښته زیات ښایست ورکړی وو . د رحیمي په باب په "حالنامه" کي راغلي دي چي : " شوهرش سرود می نواخت ونقش را دلپسند میگفت و زنش نیز در نقش گفتن با وی رفاقت می کرد وگاه گاهي در مجلس درویش (۲۲۲) هردو با مده نقش میگفتند و هردو پاك دل و پاك اعتقاد

---

(۲۱۸) دا نوم د "خلاصه" په ۱۱۷ مخ کي "گوره" دی چي د "گوهره" ورانه بڼه بریښي .
(۲۱۹) تذکرة الابرار ، ۸۹ مخ . حیات ، ۱۷۱ مخ .
(۲۲۰) مرصع ، ۲۵۷ مخ .
(۲۲۱) حالنامه ، ۸۰ مخ .
(۲۲۲) مطلب د میاروښان خلیفه درویش داد و دی .

بودند. (۲۲۳)

## رضیه سلطانه

د شمس‌الدین التمش لور وه چې نسب یې د غور پښتنو پاچایانو ته رسیده. په کال ٦٣٣ هـ چې شمس‌الدین التمش په ډیلی کې مړ شو، زوی یې رکن‌الدین فیروز شاه په تخت کیناست، خو دی وړوکی وو او هیواد یې نشو اداره کولای، پښتنو امراوو دی هیسته کړ او په ځای یې په ٦٣٤ هـ کال رضیه سلطانه پاچا شوه، دا یوه پوهه او عالمه واکمنه وه او د ملك چارې یې په ښه توګه سرته رسولې رضیه سلطانه په کال ٦٣٨ هـ مړه شوې ده. (٢٢٤)

## روښانې

(وګورئ: بسی خلیله).

## زخه

د ابریدی د لمسی مابی د وه ښځې وې، یوه میمونه او بله زخه، د زخې اولاد ته زخه‌خیل وایی. (٢٢٥)

---

(٢٢٣) حالنامه، ٢٢٦ مخ.

(٢٢٤) طبقات، ١ ټوك، له ٤٥١ تر ٤٦٤ مخه پورې، ج ٢، ٦، ١٣، ١٤، ١٧، ٢١، ٢٤، ٢٥، ٣٠، ٣٦، ٤١، ٤٦، ٥١، ١٦٢٠ مخونه. پښتني میرمنې، ١٦٠، ١٦١، ١٦٢ مخونه.

(٢٢٥) خورشید، ٢٣٩ مخ. مرصع، ٦٢١ مخ. پښتانه، ١٣٥٨ مخ.

## زربخته

د میان خان کمانگر لور وه او په سوات کی د کمانگرو په کلی اوسیده ، کله چی آدم د میان خان په کورکی واوهسی د پله غلطولوله پاره یی له میان خانه پوښتنه وکړه چی خنکه لینده یی دې جوړه کړی ده که نه؟ اوزربختی د دوی سوال ځواب واورید ، نو یی ناره وکړه :

خنا نه آدم خانه — نه پوهیږې د غه زما بابا نادانه
ستاد زړه لینده د رخوده — درته وایم چه یی نوم په درست جهانه (۲۲۶)

## زرغونه

زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه، د سعد الله خان نورزی ښځه کیده او د کندهار په پنجوایی کی یی ژوند کاوه. زرغونی د خپل وخت مروج علوم زده کړی وو او د اشعارو کتابونه یی لوستی وو، دې د سعدی بوستان په پښتو نظم کړی وچی نوم یی و "بوستان د پښتو" او د دی کتاب کار یی په ۹۰۳ هـ پای ته رسولی و. وایی چی زرغونی ډیر ښه خط درلود او خپل شعرونه اوغزلونه به یی په خورا ښه خط لیکل.

حکایت له بوستان د پښتو

اورید لی می قصه ده — چه له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار — بایزید چه و رویدار
له حمامه راوتلی — په کوڅه کښی تیریدلی
ایری خاوری چاله بامه — راچپه کړلی ناپامه
مخ او سرئی سو ککړ — په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښنوسو — د خپل مخ په پاکید وسو

---

(۲۲۶) ملی هنداره ، ۲ توک ، ٦٥ مخ .

چه زه ور یم د بل اور ‌‌ ‌ چه په اورکی سم نسکور
له ایر و به څه پند ورمه ‌ یا به لړشکوه کومه
هو پوهانو خان ایری کړ ‌ له لوینی خان پری کړ
څوك چه خانته کوری تل ‌ خدای ته نسی کړای کتل
لویی تل په گفتار نده ‌ لوخبره پکار نده
تواضع به دی سر لوړ کا ‌ تکبر به دی تل خوړ کا (۲۲۷)

زرغونه ادی

زرغونه په ختیو اشکزی وه، د زمری خان ښځه کیده، د ریدی خان مور وه او د کندهار دکدنی په گلی کی یی ژوند کاوه. زرغونی، زوی یی ریدی خان اونږ وریی تورپیکری ټولو د خپل وخت د آزادی په جگړه کی (۲۲۸) گډون درلود. کله چی ریدی خان غزا ته روانیده، زرغونه هم کورپاتی نشوه:

ټوله به څود جنگ میدان ته ‌ نه چه پیغور د کوم غلیم را پاته شینه

د جگړی په ډگر کی زرغونی ادی ویلی دی:

توری چه نکړی نو به څه کړی ‌ چه موشیدی د پښتنی رود لی دینه (۲۲۹)

زرغونه انا

زرغونه انا د احمد شاه بابا مور کیده او په ختیو الکوزی وه، دا د نیکو او لوړو افکار وخاونده وه او په سلطنتی چارو کی به یی احمد شاه بابا ته مشوره ورکوله او پاچا بی خبره منله. وایی کله چی ستر واکمن احمد شاه بابا (۲۳۰) د کندهار له نوی ښاره د یوالونه راتاوول اوخند قونه یی ایستل، دی ورته وویل:

---

(۲۲۷) پټه خزانه، ۱۰۴، ۱۰۵، ۱۰۶ مخونه.
(۲۲۸) د ۳۶ مخ لومړی نمبر حاشیه ولولئ.
(۲۲۹) پښتنی میرمنی، ۶۷، ۶۸ مخونه (د طلوع افغان د ۱۴ کال د لومړی گڼی له مخی).
(۲۳۰) احمد شاه بابا په ۱۱۶۰ هـ کال پاچا شوی دی.

"زویه! دا خبره تینګه په غوږ کې ونیسه چه پښتون هیڅکله د خاورو د یوالو ته پناه نه وړی او نه په خندقونو کې غلیمه خوندی ګڼی، پښتون د خدای په مرسته او په خپل وچ موټ خان او وطن ساتی، په دی د یوالونو زه اوته او د ښار د ننه اوسید ونکی شاید مدافعه سی، د ښار د باندی هم زموږ ګامسته، ته باید د ومری انتظار و نه باسی چه د ښمن ترښار ه را ورسیږی." ( ۲۳۱ )

د زرغونی انا زیارت د ارغنداو د سیند په غاړه د کوهك په کلی کی د ی.

## زکیه

د لودی زوی نیازی د ری ښځی د رلودی، په د یوه کی یوه زکیه نومیده او په خته پړانګی وه، د نیازی جمال نومی زوی له همدغی ښځی د ی. ( ۲۳۲ )

## زلسو

په خته یوسفزی وه او د لوی روحانی او مؤلف شیخ کټه (۲۳۳) ښځه کید ه، ابراهیم ملك او پاجی یا باجی یی زامن د ی، د شیخ کټه بله ښځه هم زلونومیده (۲۳٤).

## زلومغد ورزیه

دا هم د سترولی او لیکوال شیخ کټه ښځه کید ه او د دی پنځه زامن وو: سلطان ثابت، حاجی، سلیمان، معی. ( ۲۳۵ )

## زلیٔ

د خبنی په اولاد ه کی د اتمان زوی ښند و د وه ښځی د رلودی یوه د ریٔ

---

(۲۳۱) د کندهار مشاهیر، ۱٤۳ او ۱٤٤ مخ.
(۲۳۲) حیات، ۲۸٦ مخ.
(۲۳۳) د پټی خزانی تعلیقات، ۲۱۵ مخ (د مخزن افغانی له مخی).
(۲۳٤) د شیخ کټه د ژوند زمانه د ۷۵۰ هـ شاوخوا د ه.
(۲۳۵) د پټی خزانی تعلیقات، ۲۱۵ مخ.

او بله زلئ ، اما او عمر د زلئ زامن د ی . د وی ته په ګوه زلوزی وایی.(٢٣٦)

## زليخا

د میا روښان د زوی نور الدین ښځه او د میرزا خان انصاری مور وه . کله چی جلال الدین په تیرا کی و د مغول اکبر امراء آصف خان ، قاسم خان میر بحر او څه نور له لوی لښکر سره پری ورغلل او تیرا یې محاصره کړه ، که څه هم اپریدی او ورکزی تکړه او میړنی وو ، خوځنګه چی د ژوند اړتیا وې لکه مالګه ، رخت، سابون له نور وځایونو ، نه ورته رارسید ل ، نو سخت په تنګ شول . مغولو ویل چی هسا جلال الدین په لاس راکړئ یا هغه له د ی ځایه وباسئ او د کورنۍ یوځو کسه یې مونږته وسپارئ چی بیرته وګرځو . ورکزی او اپرید ی کیناسته ، سره جوړه یې کړه چی احدا د به له خپلی مور بی بی بسی سره او د میرزا خان انصاری مور زلیخا به مغولو ته وسپارو او هغه اسی یې هم وکړه. ( ٢٣٧)

جلال الدین له خپلی نوری کورنۍ سره ځان باجوړ ته ورساوه ، هلته یې خور کمال خاتون او یوبل خپل د محمد کمال زوی وحد تعلی و . جلال الدین کهول په باجوړ کی وحد تعلی ته پریښود او پخپله له یوی ډلی ملګرو سره د کابل له لاری مخ په بلخ وخوځید او غوښتل یې چی له عبدالله خان ازبک مرسته وغواړ ی ، بیرته بی بی شمسو د جلال الدین کور په باجوړ په امن کی نه لید ه او پاڅیدل د وزیرو قبیلی ته ورغلل ، د اځای هم بی بی شمسو ته امن و امان نه ښکاریده ، الهداد خان (رشید خان) او د هغه مور بی بی بصری(٢٣٨)او میرزاخان انصاری یې له ځان سره کړه

---

( ٢٣٦) خلاصه ، ١١٥ مخ .

( ٢٣٧) حالنامه ، ٣٢٣ ، ٣٢٤ مخ .

( ٢٣٨) د جلال الدین ښځه .

او مخ په قند هار وخوځید ه .

یوسړی و داده نومید ه ، د روښان د کورنۍ اراد تمن و ، مخ نی شو دوی یی قند هار ته ورسول او هلته د علی محمد مخلص د نیکه کره د یره شوه ، د وی تــر هغوپوری هلته وو ځو جلال الدین بیر ته له بلخه راغی . (٢٣٩)

خوپه "روښانیان د مغلو تاریخیان" کې د میرزا خان انصاری د مورنوم شموی یی راغلی اوواییـی چی دا قند هار ته لاړه او د علی محمد مخلص د نیکه کره یـی واړ ول (٢٤٠)

## زلیخا

د یعقوب نومی لورکید ه ، د میا روښان مریده وه . (٢٤١)

## زینه

د اپریدی زوی مایی د ری اړتینی د رلودی ، یوه تری یا تریمه . له فاطمه او د ربیمه زینه ، د زینی بیا د ری زامن وو : میر ملی ، اولی ، اکا . (٢٤٢)

## سابیره

د میا روښان یوه مرید ه وه . (٢٤٣)

## سباکه

سبا که د ختک ښځه کیده ، دا یوه پوه ځان پاندی ، غښتلی او هوښیاره ښځه وه

---

(٢٣٩) حالنامه ، ٣٣٥ مخ .
(٢٤٠) روښانیان ، ٤٧ مخ .
(٢٤١) حالنامه ، ٨٩ مخ .
(٢٤٢) مرصع ، ٦٢١ مخ .
(٢٤٣) حالنامه ، ٩٥ او ٩٦ مخ .

تورمان او بولاق د دې زامن دي. (۲۴۴)
په "تاریخ مرصع" کې بل ځای راغلي دي چې د خټک د وراره، اپریدي د زوی مایي د فاطمې بښځې اولاده آدم خیل دي، بیا هم غلته وایي چې د آدم خیلو مور سبکه نومیده. (۲۴۵)
د غه موضوع نوره څېړنه غواړي او ما د لته سبکه بیله نه ده نیولې.

<u>سپینه</u>

سپینه د نور محمد خان الکوزي لور وه او د وزیر یار محمد خان الکوزي د حکومت په وخت کې د هرات په ښار وخواکې اوسیده. په ۱۲۵۵ هـ کال چې ایرانیانو هرات کلابند که او پښتنو په مېړانه مقابله ورسره کوله، دا ژوندۍ وه او د پښتنو توري او ننګیالیتوب په ستاینه کې يې شعرونه ویلي دي چې یو څو بیتونه یې د لته راوړم:

غلیم په ښهر بیا هجوم راوړی — مخ تې ولاړ دی یار محمد بیا وړی
زموږ پښتانه لکه زمري جنګیږي — ولې د وینو پر حصار بهیږي
هرات په وینو د پښتون شو ګلرنګ — پښتون زخمي دی د غلیم په خدنګ
یار محمد (۲۴۶) وایي پښتنو زما زمرو — تو لـه را ووزئ وسله دار له کورو
پر غلیم وکړئ یو هجوم ګړندی — هرات له لاسه په ژوندون مه باسی
دا زموږ کور زموږ وطن دینه — دا زموږ تاتوبی زموږ مامن دینه
کفن په غاړه دا وطن وساتئ — زموږ د پلرو ښکلی مدفن وساتئ
د لته پراته دي ننګیالي نیکه ګان — د لته بهیږي وینې تل د افغان
هرات زموږ دی زموږ کور دینه — زموږ نغری دی زموږ ګور دینه

(۲۴۴) مرصع، ۶۲۱ مخ.
(۲۴۵) همدغه اثر او همدغه مخ.
(۲۴۶) په دې جګړه کې د پښتنو مشر یار محمد خان الکوزی و.

د ښمن راغلی تر د یوا له د کور ولاړ شئ دا دی د پښتون لوی پېغور
کامران(۲٤۷) ناری کړی چه پښتو نه قامه توره راباسه مره په ننګه نامه
مه بایله ځان اوسه ولاړ په حصار د پښتانه په ننګه ځان کړه ایثار
بو یه غیرت چه مو ناموس خوندی سی نوم د پښتون نوم د اولس خوندی سی
ځلمو چه واورید ی ناری غلبلی له یار محمد او کامرانه دلی
له کلا و واته ژمریانو په تښر پر د ښمنانو یې ئی جور کر لتپیر (۲٤۸)

## ستاره

د طاوس خان (۲٤۹) ښځه وه، د آدم خان د شهر" د رخانۍ" مور کیده او په سوات کی اوسیده. د غه مطلب صدر خوشحال د (آدم د رخانۍ) په منظوم داستان کی راوړی دی:

ښازدری ځکه نومیږی چه تری بازی پیدا کیږی
ښلکه حوری پکی جونه ښازدری دی جنتونه
په کښینۍ بازدره (۲۵۰) کښی د رخانۍ وه ستاره کښی
د ستاری میرمن پیدا وه په ښائست کښی بی همتا وه (۲۵۱)

## سردار بی بی

د غلجیو د میرزا خیلو په ښځه او د نورالدین په اولاده کی د نواب غوث محمد

---

(۲٤۷) کامران سدوزی په دی جګړه کی د پښتنو یو بل مشر و.
(۲٤۸) پښتانه شعراء ، ۲ ټوک ، ٤۳۸ او ٤٤۲ مخ.
(۲٤۹) وګوری: ۲۰۱ نمبر لمنه.
(۲۵۰) بره بازدره او کوزه بازدره د وا په کلی نن هم د موری د غره په لمنه کښی په تنګه د ره کینی آباد دی ، د دی بیان مطابق د رخانۍ د کوزی بازدری وه (د آدم د رخانۍ د ۱٤۵ مخ حاشیه).
(۲۵۱) آدم د رخانۍ ، ۱٤۵ مخ.

(۱۲۲۲ هـ ق) لوروه او د هندوستان په بهوپال کې اوسیده. (۲۵۲)

سردار بیگم

د میرزاخیلو د نورالدین په اولاده کې د نواب غوث محمد لور وه او په بهوپال کې اوسیده (۲۵۳).

سرور سلطان

د نوی ناب شیر دل خان بارکزی لور کیده، په ۱۲۹٤ هـ کال زیږیدلې او په پنځلس کلنۍ کې یې له امیر حبیب الله خان سره واده وکه، اعلیحضرت امان الله خان د دې زوی دی. (۲۵٤)

سنجته

(وګورئ: سنجره).

سنجره

د روایاتو له مخې کوم سړی و سید اسحاق (۲۵۵) نومیده، د اوش (۲۵٦) له ښاره د وطن شو او کسې غره ته راغی، څنګه چې د غه سړی د ښو خویونو څښتن و، یوه

---

(۲۵۲) خورشید، ۲۱۱ او ۲۱۳ مخ.
(۲۵۳) همدغه اثر او همدغه مخونه.
(۲۵٤) پښتني لیک، ۲۱۲ مخ.
(۲۵۵) د پښتنو د انسابو او کلتور په څیړنه کې پښتني روایات ډیر ارزښت لري او په دې برخه کې له پښتني روایاتو کار اخیستل ضروري دي، ګله به د ځینو شخصیتونو د وخت او زماني په باب سړی په زغرده حکم ونشي کړی، خو د دغو وګړو د وجود کې څه شك نشته او دا ډیری روایات په حقایقو او واقعیتونو ولاړ دي. په دې منځ کې بیا کله راویانو او لیکونکو هم لاس وهلی، څه یې له ځانه پسې زیات کړی، څه یې تری غورځولي او څه یې اړولي دي. دلته په غالب ګومان چې د کوم شیراني لور به سنجره یا سنجته یا سنجتی یا شیخی یا شاه بخته یاشنجنی نومیده او څه نقل به یې تیر شوی وی، خو دا چې اسحاق نومی کوم سید دې د بغداد له شاوخوا د کسې غره ته راغلی وی او د یوه شیرانی لور دې کړی وی، دا ما ته له احتما لا تولری بریښي.
(۲۵٦) د اوش په باب وګورئ: د پښتو اد بیاتو تاریخ، ۲ توك، ۱٤۸ او ۱٤۹ مخ.

شیراني خپله لور سنجره ورکړه ، زوی یې چې پیدا شو ، ابي سعید یې نوم پرې کېښود(۲۵۷) ، د غه نوم په بیلو بیلو منابعو کې د سنجتي(۲۵۸) شیخي(۲۵۹) شاه بختي(۲۶۰) او شجي (۲۶۱) په بڼه کې راغلی دی .

سید بیگم

د رامپور په ریاست کې د نواب معین الدین (بهنبو) لور وه .(۲۶۲)

سیرۍ

(وګورئ : شیرۍ)

شاببینه

(وګورئ : بهوړ د ګلمکو خور) .

شاپاڼه

شاپاڼه د بکوا وه او د خپل تره زوی علیبیک ته یې ورکړې وه ، د دوی د واده و له ورکیني یو له بل سره مینه پیدا شوه او چې لوییدل بیا پاخه مینان وو . د شاپاڼې پلار مړ شو او موریې له علیبیکه ولور غوښت ، د ه بنه وانګیر له چې څه پیسې لرم ، هسند ته به لاړ شم ، ګټه به وکم ، بیرته به راشم . کاروان برابر شو ، علیبیک مخ په هندوستان ورسره وخوځید او په د کنې یې واده ول .

دلته په وطن کې کوم سیټ دی معصوم خان بلل کېږی ، چیری یې شاپاڼه لید لی او

---

(۲۵۷) مرصع ، ۶۲۲ مخ .

(۲۵۸) د تاریخ مرصع نوټونه ، ۱۳۱۴ مخ .(د پوهاوون ، حصه ۲ ، مخ ۵۲۰ په بنسټ) .

(۲۵۹) په ځینو منابعو کې یې پلار سنجر بلل شوی او د اشیخی (وګورئ د مرصع نوټونه ۱۳۱۴ مخ)

(۲۶۰) خورشید ، ۲۷٤ مخ .

(۲۶۱) حیات ، ٤۲٤ مخ .

(۲۶۲) خورشید ، ۱۸۹ مخ .

پوری مین شوی دی، او ... و معصوم خپلی هلی ځلی کوی چی شاپاړو د ځان کا، خو شاپاړو یی په د ې په هغه غولوی چی گوندی په دی منځ کی علیبیگ راشی . شا پا ړو کوم ملنګ پیداکه، هیرخه یی ورته و منل او لیک یی ورکه چی ژ ا به علیبیگ ته رسوی په لیک کی یی داسی ویلی و:

په علیبیگ پسی به وا ستوم حالونه    که په د ې میا شت کی را نغلی
معصوم خان دې په باغ کښیستل مالونه
په علیبیگ پسی به وا ستوم چیغی    که په د ې میا شت کی را نغلی
تور د کن لره به د رسمه بندی

ملنگ دکن ته ورغی او د شاپاړو احوال یی ورو ړ، علیبیگ بس وطن ته د خوځیدو په تیاری کی شو.

دلته معصوم خان د واړه پښی په یوه موزه کی کړی چی "که اینکی که پهن کی د ا پتی به شین کی" هرو مرو به ما کوې. بله چاره نه وه، واده جوړ شو او شاپاړو معصوم واده کړه. شاپاړو لامخکی له مخی له ځانه سره غوته کړی وه چی یی مرگ له معصومه نه خلا صیږم، نو د واده په ړومبی شپه یی یوه ښه تیره توره په کوټه کی له ځانه سره پټه کړی وه، کله چی پخه شومه شوه او معصوم کوټی ته سرورننویست شاپاړو په توره ووا هه او وه خیاری یی که. د خدای کار ونه د ی دهمدغی شپی په سهار علیبیگ را ورسید، د معصوم مړی یی په کومه خار خوړی مار خوړ ید کی وما نړه او د وی د واړه سره یوځای شول. (٢٦٣)

شا ترینه

یو پاچا (٢٦٤) و دوه ښځی یی وې، یوی ښځی یی ا ووه زامن د رلود ه او بلی یو چی خشکیار (خیشکیار ؟ ) نومید ه او په پا چا هم گران و. د پا چا له مړینی ورو سته د

---

(٢٦٣) ملی هند اره، ٢ ټوك، له ٦٥ تر ٧٧ مخه پوری.
(٢٦٤) هغه مهال به هرلوی خان پاچا غوندی و، ښایی دلته مطلب کوم خان وی.

هغه له وصیت سره سم خشکیار په تخت کیناست ، خو ورونو یې پریکړه وکړه چې ژوندی به یې نه پرېږدو . خشکیار چې د ورونو په نیت پوه شو ، نو موریې خبره کړه چې ورونه بې مې یوه ورځ نه یوه ورځ ووژني ، ښه به دا وي چې تخت وتاج دوی ته پرېږدم او خپلې سترګې الونیا کم ، موریې هم خوښه ورکړه ، خپل آس او د پلار توره یې واخیسته او له کوره رهي شو ، ته ته د آدم خان (د درخانۍ مین) په وطن ور برابر شو او له آدم خان سره یې آشنایي او ورورۍ شوه .

خشکیار یوه شپه شاترینه په خوب ولیده ، د ښایست آوازه خویې لا پخوا اوریدلې وه نه لیدلې نه کتلې پرې مین شو . شاترینه هم د یوه غښتلي ترین لور وه او پوره نوم یې درلود . وروسته له دې د خشکیار رنګ او بڼه په ژیړیدو شوه او کښیده ، آدم کلك ونیو چې ولې داسې ژیړ پیږې ؟ ده په شاترینې د مینید ونقل ورته وکه ، آدم ویل څه زه در سره ځم چې رایې ولو ، خشکیار ویل نه ، زه یوازې ورځم ، بس په آس یې پښه واړوله ، مزلونه مزلونه برابر ورغی د شاترینې ځای او کلي ته او هلته د یوې بوډۍ کره دیره شو او بیایې د همدې بوډۍ په لاس شاترینې ته احوال ورکه چې در باندې مین یم ، څنګه کوې ؟ .

خبره یې داسې سره جوړه کړه چې خشکیار به د ملنګ په کالیو کې د شاترینې دروازې ته ورځي او دیدن به یې سره کیږي ، چې ملنګ خشکیار وره ته ورغی ، شاترینه د خیر په پلمه ورغله ، د مینو دیدن دی ، چې هر څه یې ترمنځ رد وبدل شوي وي شوي به وي ، خو شاترینې ورته ویل چې همدانن ده او سیاهي کرم خان نومې ته ورود وی . خبره داسې شوه چې شاترینه به سبا د خپل بابا او انوړ د زیارت په پلمه د کلا شاته اوړي ، خشکیار به ملا ترلې ولاړ وي ، ورسره سپرېږي به او ځي به په خپله مخه .

سباته له هغې خوا د کرم خان ورا بانې راروان دي او دېې دلته د واده کالي اغوستي ، ځان یې جوړ کړی دی ، پلار ته ورننوتی شوه چې پرده یې کورته ځم

خدازده چې بیا به څه پیښېږي ، ښه به داوي چې یو ځل په ولاړو پښو د خپل بابا او انې زیارت ته ورسم ، پلار یې ومنله ، دا له هڅولو او مینځو سره د کلا شنا ته وا وښته ، هلته د کور له څنګه بوټې موټې ولاړ دي ، هار یې پکې ونښت یا یې لاسي پکې ونښلاوه ، مرغلرې یې دانه دانه شوې ، مینځې او هڅولي یې د مرغلرو په راټولولو لګیا شوې او دا له خشکیار سره په آس سپره شوه ، خشکیار آس ته پونده ورکړه ، څه چې ځي . یوې مینځې سر را پورته که ، ګوري چې شاترینه د خشکیار شاته سپره ده او آس باد غوندې الوزي ، مینځې د شاترینې پلار او کرم خان خبر کړه ، کرم خان چاته ونه کاته ، توره یې راواخیسته ، په آس یې ښنه واړوله او په زر خوا ریو یې ځان ور ورساوه او خشکیار یې په لاره کې ګیر که . د لته خشکیار او کرم له آسونو کوز شوه شاترینه یوې خوا ته ګوښه کیناسته او د وی د واړو توری سره وویستې او جنګ ونښت ، د سپینو تورو ځرنګ شو ، دی هغه وهه او هغه دی وهه ، خو چې دا بل وار خشکیار توره ور واچوله ، کرم خان په ځمکه پړ اخ ولوید او غوږ یې هم ونه ښوراوه . شاترینه بیا د خشکیار تر شا په آس سپره شوه او مخ په آدم ور وخوځیدل هله هله ځي ځي د آدم ځای ته ور ورسیدل او آدم ته یې کرد نقل تیر که .

هلته د کرم خان تر برو ړدا سپکاوی نه شو زغملی چې ورکړی ښځه دې په رنښا ورځ څوک ځني بوزي ، بس لښکر یې برابر که ، توري موري یې سره را واخیستې او چې هر څنګه کیده ځان یې د آدم خان سیمې ته را ورسلوه او له کوټګي یې راتا وشول د لته خشکیار ستړی ستومانه پریوتلی او په خوا ږه خوب ویده دی ، داسې چې د دنیا په حال نه دی خبر ، آدم خان دی را ویښ نه که ، پخپله یې له ملګرو سره توری چړی را واخیستې او په د ښمن یې تور غوبل جوړ که ، داسې یې په تورو چړو و وهل چې تو یې یې پړی وویستې ، څوک چې مړه وو مړه وو او څوک چې ژوندی وو نسپیره څټونه او ځوړند غوږونه بیرته وتښتیدل .

د خشکیار او شاترینی په سترو (داستان) کی د شاترینی ناری هم راغلی دی، کله چی شاترینه د خشکیار تر شا په آس سپره شوه، نو په خشکیاریی داسی ناره وکړه:

خشکیاره ته چه زما په غیږ کښی رېږدی ... که لښکر د کرم راغی
خشکیاره ته به تر پلی ما بـه پرېږدی ... ارمان دی ارمان (۲٦٥)

وایی چی خشکیار او شاترینه د کند هار د سیمو و او ځنګه چی په ښکاره له آدم خان سره په یوه زمانه کی اوسیده، نو د ژوند نیټه یی له ۹٥۰ هرا په دی خوا اټکل کیږی.

## شارقه

(وګـوری: بی بی مبارکه)

## شاه بانو

د خوشحال خټك له یوه بیته داسی ښکاری چی یوه لور (؟) به یی شاه بانو نومیده:

چه د پلار د مرګ می تیر شو پوره قرن ... د صفری په میاشت ومړه زما مور
پوره زر اتیا ګلونه د هجـــرت و و ... چه د مور په خوامی ومړ مشرکور
چه د مور ترمرګ می ومړه ورانندی روستو ... یوه لور د (۲٦٦) شاه بانو وه پسی خور (۲٦٧)

## شاه بخته

(وګـوری: سنجره)

## شاه بوړۍ

داد عبدالرحمان عمرخیل لور وه او د رستم عمرخیل ارتینه، دی له وړکی والی نه

---

(۲٦٥) ملی هند اره، ۲ ټوك، له ۳٥ تر ۳۹ مخه پوری.
(۲٦٦) د اضافت دال څه پیچلتیاراوستلی، شاه بانویی د ښځی نوم یالقب هم کیدای شی.
(۲٦٧) ارمغان خوشحال، ۷۳۲ مخ.

نارینه خوی درلود، په ښه آس به سپریده، ملا به یې تړله، غیښی به یې ویشتل او په ښه ویشتو کې یې جوړه نه درلوده، په جرګو مرکو کې به کیناسته او د توری او میړانې وخت به چې راغی د دلازاکو د لښکر په سر کې به ولاړه وه. لومړی یې میړه نه کاوه، وروسته چې په میړه شوه، بیا هم ټوله وسله ورسره وه او د جنګ په ډګر کې به د خپل څښتن په څنګ کې ولاړه وه.

د شاه بوړۍ د توری او میړانې په باب په "تواریخ حافظ رحمتخانی" کې راغلي دي:

"په هغه ورځ چې باد شاه(۲۶۸) د دوی په کلي وخوت رستم د دې څښتن نهایت آزاری وو، لکه چې کلی مات شه د اراغلو رستم ته ئې وویل چې لښکر د مغولو په کلي وخوت کشتن زدن کیږي پاخه وړاندې شه درومه، زه په تاپسې درومم که څوک راپسې راغلل جنګ به ورسره کوم، خاطرجمع لره، د ده ورته ووییل چې زما قابو د حرکت نشته او ته درومه، دې ورته وویل چې ته نه ځې زه به چرته درومم نور کټ د ده واخست په ښپر کښې دننه واچاوه او توره ئې وتړله لینده په لاس واخستله د ښپر په وره کښې کښېناسته او د رستم ئې د غشیو د وړاندې واچوله لکه چې لښکري خلق په دروازه ورننوتل، دې گذارونه پرې د غشیو وکړل، هیڅ غشی خطا لاړ نه شه، هر سړی چې به ئې وویشت، له زغرې له خوله به آزاد ووت وئې وژله، نور مغلو سره آواز وکړ چې په دا ښپرکښې هسې څه عظیمه بلا ده چې عالم ئې ست کړ، را ټول شوي پس له هغه لوره لوره عالم پرې راغی ښپر ئې محاصره کړ ځای په ځای به لاسونو سره وشوکاوه سوری سوری کړ او دائې په غشو له هر طرفه ویشتله سوری سوری کړه پریوتله پس له هغه خلق ورننوت وئې لیدله چې ښځه ده نور خلق واړه متعجب شه.

---

(۲۶۸) دلته هر ځای "باذ شاه" وایي او نوم یې نه اخلي.

له دې حاله ئې په دغه وخت کښې بادشاه خبر کړ ، بادشاه زرسړی واستا وه چه په گوړئ دغه ښځه مه وژنئ ژوندۍ ئې ترما پورې راولئ . بارې لکه چه هغه سړی ورغی د ابیا مړه وه ، دم ئې ختلی وو او ځښتن ئې هم وژل شوی وو . بادشاه چه له مرگه د شاه بوړۍ خبر شه ، ډیر افسوس ارمان وکړ او ملامت وکړ چه دا رنگ ښځه عالم نه وژني ، ژوندۍ به مورا وستلي وه . د وی ورته ووئیل چه دې دا رنگ غشي ویشتل چه ترزغرې نه اړ کیدل مونږ هسې پوهیدلو چه گوندې دا سړی دی ځکه وو ژلله شوله ، بادشاه او واړوا هل لښکر د دې تعریف وکړ او آفرین پرې ووایه ." (۲۶۹)

## شا یسته (ښایسته)

د غوریوا لی کورنۍ په حسن خیلوکي د ظفرخان د زوی مغل خان(۲۷۰) یوه ښځه شایسته نومیده . (۲۷۱)

## شکرخاتون

په "تاریخ مرصع" کي کله چې د بیلو بیلو قبیلو تر منځ د جنگ جگړو خبرې راوړي وا یی چی: "بیاعدا وت د انړوخیل د ساغري سره په یوې ارتینئی چه شکرخاتون نومیده وشه ، کار ئې په قتال په جدال ورسید ، ساغریو لښکر وکړ په انړوخیل ورغلل ، ماتشول ، ډیر ووژل ، پس له یوه مدته ئې صلح مصالحه تر میان وشوه ." (۲۷۲)

---

(۲۶۹) تواریخ حافظ رحمتخانی ، ۱۱۸ ، ۱۱۹ مخونه .
(۲۷۰) کرپه یې مغول خیل بلل کیږي .
(۲۷۱) حیات ، ۶۵۶ مخ .
(۲۷۲) مرصع ، ۲۶۶ مخ .

شمایله

په پښتو کې یوه قصه په دوو نومو راغلې ده، چا "جلاد او محبوبا" بللې ده او چا "جلاد او شمایله". قصه به څکه یوه وي چې تش یو څو ځایه یې توپیر سره لري، نور نقل یو شان دی.

د "سرحد کې رومان" له مخې د قصې نوم "جلاد او محبوبا" دی او وایې چې د غه قصه له کوډ یزي او عبدالکریم پرته، ملا نعمت الله، فدا مظهر او حمید گل هم نظم کړې ده.(۲۷۳)

په "پښتانه شعرا" کې هم د کوډ یزي د منظوم داستان نوم "جلاد او محبوبا" دی(۲۷٤) "د قصه خوانۍ گپ" د نقل ښځه قهرمانه "محبوبا" راوړې او نارینه یې "جلاد" (۲۷۵) "د پښتونخوا د شعر هار او بهار" په منظومه برخه کې د حمید گل د "جلاد او محبوبا" د داستان یوه برخه راغلې او بیا د همدې کتاب په یوه منثوره ټوټه کې د غه نقل ښځه پهلوانه سمالۍ (شمالۍ) راوړې ده.(۲۷٦)

په "ملي هنداره" کې د قصې نوم "جلاد او شمایله" دی(۲۷۷). خو د "ملي هندارې" د غه نقل بیخي د یوې خیالي افسانې بڼه غوره کړې ده، زمري غړېږي او مېږتا نه خبرې کوي. (۲۷۸)

ما ته د "جلاد او شمایلې"(۲۷۹) یا "جلاد او محبوبا" ستره (قصه) پخوانۍ ښکارې او

---

(۲۷۳) پښتو منظومې قصې، ۱ ټوک، ۱۰۱، ۱۰۲ مخونه.
(۲۷٤) پښتانه شعرا، ۲ ټوک، ۱۰٤ مخ.
(۲۷۵) د قصه خوانۍ گپ، له ۱ تر ۱۳ مخه پورې.
(۲۷٦) د پښتونخوا د شعر هار او بهار، له ۱۱۹ تر ۱۲٤ مخه پورې، همدغه شان ۱۳٤، ۱۳۵، ۱۳٦ مخونه.
(۲۷۷) ملي هنداره، ۱ ټوک، له ۱۳٤ تر ۱۵۱ مخه پورې.
(۲۷۸) د بشپړې پرتلې او مقایسې له پاره وگورئ: د همدې مخ په ۲۷۳، ۲۷٤، ۲۷۵، ۲۷٦، ۲۷۷ نمبر لښتوکې یاد شوي آثار.
(۲۷۹) تر اوسه لا په خلکو کې شته چې وایي "د انود شمایلې شرطونه شوه".

ښايي چې د اسلامي دورې په لومړيو وختو پورې اړه ولري. په دې نقلونو کې له يوې خوا د افغانستان د تاريخي ښارونو لکه بلخ او هرات نوم ونه اخيستل کېږي او له بلې خوا د وګړو نوم ونه يې څه زاړه برېښي لکه ابن مسلم يا نامسلم، خونکار او نور. د روايا تو له مخې شمايله د بلخ د پاچا ابن مسلم يا نامسلم لور وه، پلار يې له وړکيني ورته تر مځکې لاندې ارګ جوړ کړی و او د ژوند ټولې اړتياوې يې ورته پکې برابرې کړې وې، د ارګ ور يوازې پخپله پاچا ته ښکاره وه، وزيرته يې او د شمايلې خوسهيليو ته. شمايله د غلته تر مځکې لاندې ارګ کې له خپلو ملګرو سره اوسيده، کله چې پېغلتابه ته ورسيده، پاچا اعلان وکړ، هر چا چې زما لــور ميندە کړه، هغه ته يې ورکوم او هم به يې يوه نيمه ورځ پاچايي د هغه وي. خو که څوك پسې وګرځيده او پيدا يې نه کړه، بس ورمېږ به يې پرې وي. په دې منځ کې د ډير شاهزادګان بلخ ته ورغلل، ولې ټولو سرونه بايلودل، بيا د هرات د پاچا خونکار شهزامن وار په وار د شمايلې د کولو له پاره ورغلل، د وی هم يو بيرته کور ته ستون نشو او ګرد د نيمه خوا شول.

يوه ورځ د پاچا ښځې خپل اووم زوی جلاد ته پيغور ورکه چې شهزادګانو دې خپل سرونه وخوړه، ته لا بيغ او نيغ ګرځې؟ د لته يې جلاد تــه ډېر زور ورکه، په زړه کې يې ويلې، دا څنګه کيدی شي چې شهزادګان دې مړه او زه به لا ژوندی ګرځم، خپل پلار يې ګلك ونيو چې راته وايه، ورونه مې چېرې او د څه له پاره تللي وو او ولې بيرته را نغلل؟ پاچا په نقل ورته تېر کړې وي. بس سبا ته جلاد ملا و تړله او مخ په بلخ وخوځيد، ځي ځي، شپې ورځي، او نــور او مياشتې تيرې شوې، يو ځاي ته ورسيد، ګوري چې يو ملنګ تر وني لاندې ناست دی، له ملنګ سره په خبر وخبر وکې پوه شو چې ورونه يې په همدې ملنګ را پيښ شوي دي؛ بيا چې څنې تللي دي بيرته نه دي راغلي. ملنګ چې د جلاد له تګه خبر شو، خواري يې وکړه چې له خپل عزمه يې واړوي او بيرته په خپله مخه ځي

خو جلاد څوك او د ملنګ خبره منل؟! کله چې ملنګ پوه شو چې نه نه کيږي ، نو يې اراده وکړه چې مرسته ور سره وکا ، څو ورځې يې په هغو ټولو رمزونو پوه که چې جلاد ته په کار وو ، بيا يې په مومندي زرګر باندې چې د ابومسلم پاچا د ارګ په دروازه کې ووخت ور که چې هغه ورسره کومك شي او جلاد شمالي وکړي . جلاد بيا مخ په بلخ رهي شو ، له ډيره مزله وروسته ورور سيد ، جلاد په پوښتنه پوښتنه مومندي زرګر پيدا که ، لومړي خو مومندي سوچ منکر شو چې خداي دې نه کا ، زه په هيڅ هم نه يم خبر ، خو چې جلاد د ملنګ ليك ورو ښود بيا يې ورته ويلې ښه ده څه مې چې له واکه کيږي ، د ريغه نشته. مومندي له خپلې ښځې سره جوړه کړه چې راځه دې شاهزاده ته به د ښځو کالي وروا غوندو ، آوازه به واچوو چې دا مولور ده او په دې شپو ورځو کې د ميړه له کوره راغلې ده.

د مومندي مور يوه ښځه وه چې هره ورځ به يې شمالي ته د تازه ګلانو کېډۍ برابرولې يوه ورځ دا لګيا ده په باغ کې د ګلانو غوټۍ ټولوي چې جلاد پرې راغی ، ده هم څو ګلونه په خپل زړه په کېډه ي کې کېښود ه ، کله چې شمايلي د ګلانوغوټۍ واخيسته ګورې چې بل ډول ده او خوښه يې شوه ، پوښتنه يې وکړه ، بوډۍ ږدې ورته کا چې دا کېډه ي زما يوې ځوانې لور جوړه کړې ده ، شمالي امر وکه چې را يې وله خود پاچا امر و چې څوك نشي ور تلی : نو خبره همدا سې پاتې شوه.

بيا مومندي زرګر د سپينو زرو يو زمري جوړ که چې په چل او هنر سره به خوځېده راخوځيده ، مومندي يوه ورځ جلاد په زمري کې ننويست او زمري يې د پاچا د ربار ته ور وست ، د پاچا خوښ شو او هغه يې خپلې لور ته ور ولېږه ، د شپې جلاد له زمري را ووت او شمايلي ته يې ځان ورښکاره که او د رسته قصه يې ورته تيره کړه. له ورځو يوه ورځ جلاد په يوه ډول نه په يوه ډول د شمايلي له ارګه را ووت او د پاچا حضور ته ورغی ، لور يې ترې وغوښته.

پاچا لنډ ځواب ورکړ، چې د پېښې اثر په سترګو ليدلی شو، جلاد سم سيده د شمايلې د ارګ ور ته ورغی. دلته پاچا بدګومانه شو او امر يې وکړ چې مومندی زرګر او کورنۍ يې له منځه يووړنی، بيا جلاد پاچا ته عرض وکړ چې لومړی ته خپله وعده تر سره کړه او لور دې را کړه، بيا چې له مومندي سره څه کوې کوه يې. پاچا خپله لور شمايله جلاد ته ورکړه او پوی ايښود چې يوه نيمه ورځ پاچا شي، په سبايي شمايلې جلاد ته وويل چې څه ور ته ګورې، وهه پاچا مړ که.. جلاد پاچا مړ کړ، د بلخ پاچايي يې ونيوه او مومندی زرګر يې له مرګه وژغوره.

شمس خاتونه

د سلطان شاه لودي (اسلام خان) لور وه او سلطان بهلول لودي په ۸۳۹ هـ کې واده ور سره وکړ، خواجه بايزيد او مبارك خان د سلطان بهلول لودي د همدې ښځې زامن دي. (۲۸۰)

شمسو

د کړندي لور ګيده، په خټه تره کې وه او د مقر په کلکې نا وه کې اوسيده، شمسو شعر ويلی خو اشعار يې چيرې نه دي ليکل شوي. (۲۸۱)

شمسيه

د مياروښان ښځه (وګورئ: بي بي شمسو).

شمو

د مياروښان د زوی نورالدين ښځه (وګورئ: د ۶۸ مخ زليخا).

---

(۲۸۰) مرصع، ۶۳ مخ. لودي پښتانه، ۵۸، ۱۱۲، ۱۱۴ مخونه.
(۲۸۱) پښتنې ميرمنې، ۸۹، ۹۰ مخونه.

## شـــها

دا د پښتو د یوه ملي نقل اتله ده او اتل یې "ګلان" نومیږي. "شهااوګلان" د پښتو یوه خوږه او په زړه پورې قصه ده چې تر اوسه پورې لا په خلکو کې شته او په کال ١١٢٩ هـ بابوجان بابي په مثنوي نظم کړې ده چې "قصص العاشقین" نومیږي او پښتانه یې په خپلو مجلسو کې وايي. (٢٨٢)

## شهربانو

د میاروښان یوه مرید ه وه. (٢٨٣)

## شـــهري

شهري د خویداد ګګیاني(٢٨٤) لور وه او د شیخ کټه دکړوسي محمدزاهد ښځه ګیده شیخ قدم د همدغې بي بي شهري زوی دی. د دې د ژوند نیټه د ٩٦٠ هـ په شاوخوا کې ګڼل کیږي. (٢٨٥)

---

(٢٨٢) پټه خزانه، ١٣٦ مخ.

(٢٨٣) حالنامه، ٨٩ مخ.

(٢٨٤) ښايي مطلب ګګياني وي.

(٢٨٥) د پټې خزانې تعليقات، ٢١٥ مخ (د مخزن افغاني له مخې).

## شهو

شهو یا شهی د یوسفزیو په سیمه کی د (ټوپۍ) کلی د مشر حیات‌خان لور وه او د چج د لتی د دلي نومی د لاز اك معشوقه . وابی چی دلي او شهی د اکبر مغول (۹۶۳ یا ۹۶٤ — ۱۰۱٤ هـ) په عصر کی ژوند کاوه (۲۸٦) د دې اصلي نوم "گل رو" و (۲۸۷) د (دلي او شهی) په داستان کی د شهی ناری راغلی دی. کله چی دلي د مال او دنیا را وړو له پاره ښکته تللی و . یوه ورځ شهو بام ته وخته او لاری ته ئی کتل ، کـه گوری یو کاروان تیریږی:

په همزولو کښی وم ناسته ، مات می پیزوان شو .

د نور ویاران راغله ، د شهو یاری په کوم لوری روان شو (۲۸۸)

## شیخ زاد یه

د میا روښان یوه مرید ه وه . (۲۸۹)

## شیر با نو

دا د (شیره غونډ) کلی وه او د صوابۍ (سوابۍ؟) سیمی د (تورلاندی) کلی پـه یوسف‌خان باندی چی د شاه محمد زوی کیده مینه وه. یوسف‌خان د ښکار شوقی و او ښکار ته به ته ، یوه ورځ تر برونو څه چل ور ته جوړ که او غو ښتل ئی په غره کی ئی مړ کا ، خو خدای مړ نه که ژوندی پاتی شو . بیا کوم وخت د دغی شیر بانو په وسیله چی شعبه میهان برابری مینه وه خو یوسف‌خان د ومره مینه نه ورسره د رلوده له څه بدې بلا بچ شو ، تر دې ور وسته نو د واړه پا خه مینان شول ، مگر څنگه چی یوسف‌خـان بی کسه و او پر ته له مور او نجل ئی ایکی یوه بندی نومی خور وه ، نو د تـر برو له

---

(۲۸٦) عوامی قیصې ، له ٤ تر ۱٦ مخه پوری .
(۲۸۷) د پوره پیژندنی له پاره ئی وگوری: پښتو منظومی قصی ، له ۳۷ تر ٤۱ مخه پوری .
(۲۸۸) ملی هندارہ ، ۲ ټوك ، له ٤٦ تر ٤۹ مخه پوری .
(۲۸۹) حالنامه ، ۸۹ مخ .

پاره یې وطن پرېښود او هندوستان ته لاړ، هلته یې ښه توره وکړه، بیا اکبر پاچا ته ورو پیژندل شو او هغه لویه رتبه ورکړه .

دلته بیرته یې په بې چاره مور، خور او نجل باندې بده ورځ وه، له وختو یو وخت اکبر پاچا پوښتنه وکړه چې یوسف خانه! څه ارمان لرې؟ ده داد تربرو ظلم او د خپلې مور، خور او نجل نقل ورته وکه، اکبر سړي ورسره کړه، مال د ولت یې ورکه او وطن ته یې را رخصت که. دلته چې راغی، په هغه ی شپه یې د نجلې (شیر بانو) واده و او کوم بل چا ته یې ورود وله، دې خونو او سپوا زې نه و هم یې سړي د رلودل او هم یې دنیا، بس په دښمن یې تاړاکونه پیل کړل، خپله نجل یې را خلاصه کړه او خور موریې کورته را وستل. (۲۹۰)

## شیرۍ

لواڼي د وه ښځې درلودې، یوه تورۍ او بله شیرۍ(۲۹۱). د شیرۍ یو زوی و مروت نومیده، د لواڼي د شیرۍ ښځې نوم په (تاریخ مرصع) کې سیرۍ(۲۹۲) دی.

## شیرینو

شیرینو د پښتو د یوه بل په زړه پوري نقل اتله ده او اتل یې مومن خان نومیږی. د شیرینو د پیژندنې له پاره زه د لته د "پښتانه شعراء" یوه ټوټه کړ را اخلم :

"وایې چه په پخوا زمانو کښې د قندهار په سیمو کښې د وه ورونه وه، چې مشر ورور ئې د خپل قوم مشر هم و، مشر ورور او ه زامن د رلوده، کشر ورور زوی نه د رلود، د زوی د واړو سزه وویل، که مو زوی او لور پیدا شو، یو بل ته به ئې.

---

(۲۹۰) عوامي قیصې، ۲۸ تر ٤۸ مخه پورې.

(۲۹۱) خورشید، ۲۲۳ او ۲۲۵ مخونه. حیات، ۲۸۵ مخ. پښتانه، ۱۲۳۹ مخ.

(۲۹۲) مرصع، ٦۱٦ مخ.

په نکاح سره ورکوو، خو موده وروسته د مشر ورور لور وزیږېده چه "شیرینو" ئې نوم پرکښېښوو او د کشر ورور زوی پیدا شو چه "مومن خان" ئې باله، په کوچنیوالي لا پلار "شیرینو" مومن خان ته ورکړه.

چه څه د واړه مړه شوه، نو د اولس پر مشرتوب جرګې وشوې، په پای کښې نیم اولس د مشر ورور زوی "زبردست خان" چه د شیرینو ورور و، په مشرتوب وټاکه او نیم اولس خپل مشر مومن خان مقرر کې.

د شیرینو ورور زبردست خان ښه سړی نه و، چه مومن خان خپله محبوبه "شیرینو" ځني وغوښتله، نو ئې نه ورکوله او د خپل پلار په ژمنه پښېمان و، مومن خان نه غوښته چه په اولس کښې بدې جوړې کي نو د عشق په سوي اورکښې وطن پرېښو او ولاړ بل هیواد ته.

د مومن خان دا پردېسي ډېره اوږده شوه، د ولس کاله له کوره ورک وا او د بېلتون شپې ورځې په ډېر ویر تیرولې. مومن خان ډېر مېړه پښتون و، هرځای ته چه به تئ، هوری به ئې ډېره مېړانه ښکاره کوله او بې وزلو خلقو ته به ئې نجات ورکاوه. تر د ولس کاله وروسته مومن خان د شیرینو مینې خپل کور ته راووست خو د قضا کارونه دي، دی د شپې راغی، د کور خلقو دی نه و پېژاندا او د پردي سړي خیال ئې پرې وکړ، او زبردست چه د شیرینو ورور و دا ګلالی ئې په نا فهمۍ کښې ووژه، شیرینو د دې د خپل رښتیني مین په مرګ ویرجنه شوه ...

د دې پښتنې عاشقانه لنډۍ په څه قصه کښې خورا ډېرې دي او داسې ښکاریږي چه "شیرینو" یوه رښتینې مینه وه، د دې ځینې لنډۍ لاندې را نقل شوې. چه مومن خان د سفر عزم وکړ نو شیرینو داسې ناره پرې وکړه:

تا د سفر موزې په پښو کړې　　　د ژړو ګلو باغ په چا سپارې مینه
یارمې سپرېږي روانیږي　　　پرنارنجي مخ مې سیلاب اوښکې راځینه

چه د وری خپ خــال مي صحیح که د هند وستان د چټو نسته شنه خالو نه چه مو من خان مړ سو او شیر ینو د خپل ځلمي مین په مرگ وسو له ، نوئي د ار مانه ډکي داسي آخر نۍ ناری وکړی:

ار ما ن ار ما ن لا خا ن مو منه ار ما ن مي د ا د ی خا نه مړ مي کړ ی پخپله
جا نا ن زما پر خولګۍ مړ د ی عا لمه مه ئي لمبوئ چــه شهید سو نه" (۲۹۳)

د "مو من خان او شیر ینو" د قصي په یوه ځای کي راغلي د ی چي د مغولو په عصر کي و او ځنګه چي د مغولو د وره مخکي او ور وسته له زرم هجری کاله ده ، نو د "شیر ینو" د ژوند زمانه د لسمي پېړ ی پای ګڼلي شو . (۲۹٤)

شیر ینه

د باز محمد لور وه او په ښکاره د بلوچستان په کوټه کي اوسید ه ، د ا باز محمد د هغه تاج محمد ورور د ی چي د بیبو مین ښاد ی یي له ځان سره اصفها ن ته بیو لي و .

وایي کله چي د بیبو مین ښاد ی سفر ته ملا وتړ له ، په دلارام کي تاج محمـد نومي هند وستانی کارو ا ن باشي ور سر ه مخامخ شو او هغه له ځان سر ه اصفهان ته بوته، بیا کله چي ښاد ی بیر ته کور ته د راتلو تکل وکړ ، تاج محمد ور ته وویلي چي خي یو ځل به هند وستان ته زما کور ته لاړ شي او پلانی شي به را و رســو ي! ښاد ی ویل ښه د ه، بیا نو ښادی د یولنډ وخت له پاره خپل کور ته راغی ا و پــه ولا ړ و پښویي له بیبو سر ه وکتل او بیا مخ په هند وستان ر هی شو.

په کوټه کي د تاج محمد د ورور باز محمد کورو ، هلته ورغی ، د لته د باز محمد لور شیر ینه په ښادی مینه شوه، شیر ینې په ښادی پ یری خوا ری وکړ ی چي د

(۲۹۳)(۲۹٤) پښتانه شعراء، ۱ ټوک ، له ۱۲۷ تر ۱۳۱ مخه پوری. ملي هنداره، ۱ټوک له ۱۱٤ مخ تر ۱۳۲ مخه پوری. عوا مي قیصې ، له ٤۹ تر ۵۷ مخه پوری.

خا ن.بی کا ، خوښادی چیري او د بیبو د رښتینی مینی بد لول چیري ؟!( ۲۹۵ )
د شیرینی د ژوند زمانه له ۰۰۹ هـ کاله مخکې کښل کیږی . ( ۲۹٦ )

شیرینه

د شیتك په اولاده کې د اعظم خان زوی شاه بزرگ د ری ښځې د رلودی، یوه
شیرینه، بله گوهره او د ربیمه عائشه ، د ریا خان او شرافت خان د شیرینی
زامن د ی.( ۲۹۷ )

شیرینه

د میا روښان د خلیفه علی شیر مورکید ه ، د ا هم د روښان مریده وه.( ۲۹۸ )

ښایسته

ښایسته چی توره بهیی هم بلله د "عباس او گل بشری" په نقل کی یاده شوی ده ،داد
پښتو د هغه زورور ملا لوروه، چی د گل بشری مین عباس یا طالبجا ن
پری د یره واوسبق یی تری ویلی، په دی قصه کی د ښایسته نا ری هم راغلی د ی.
یوه ورځ طالبجان کتاب گوری او په خپله مطالعه کی ډ وب تللی د ی، دا په غـلا
غلا ورته راغله او نا ره یی پری وکړه :

زړه می د استا خبری غواړ ی　　لکه د للی غنم غواړ ی با را نونـه
را شه زمـا د سینی گـل شـه　　چه هر ساعت دې په دیدن تازه کومه

په یوه بل ځای کی بیا ملا عباس ته د اسی وایی :

ځکه می توره توزه بـولی　　زه توره نه یم مـور په نا زبللی یمـه
په تـور وبد مه وا یـه یـاره　　تور خولونگ دی پاچایان یی بویوینه

( ۲۹۵ ) ملی هنداره ، ۱ ټوك ، ۳۹ ، ٤۰ ، ٤۱ ، ٤۲ مخونه .
( ۲۹٦ ) پښتا نه شعراء ، ۱ ټوك ، ۱۱٦ مخ .
( ۲۹۷ ) حیات ، ٦٦۰ مخ .
( ۲۹۸ ) حالنامه ، ٦۸ او ٦۹ مخ .

که تور ه یم تا به ر نخور کم　　　　ز ه غنم ر نگه یم خوا نان ر نخور و مه (۲۹۹)

صا حب جانه

د عبدالرحیم هوتك لور وه ، لومړی یې شاه زمان (۱۲۰۸ هـ — ۱۷۹۳ ع پاچا کید ل) ته ورکړی وه چې د شا هزاد ه قیصر او شا هزاد ه ناصر مور شي ، خو کله چې د شاه زمان او شاه محمود سره وراره شوه او شاه زمان ماتې وکړه غلجیانو سر وا خیست او خپلوا کی ته یې ملا وتړله ، د حاجی رنګو په اولاد ه کې یې د عبدالرحیم هوتك زوی نور الله خپل پاچا که او شهاب الدین توخی یې وزیر شو. د عبد الرحیم هوتك او شهاب الدین په د ی سره جوړه شوه چې عبدالرحیم د شاه زمان ښځه صاحب جانه چې شهاب الدین پر ی مین و ، له کانو جامو او نورو شیانو سره شهاب الدین ته ورکړه. (۳۰۰)

صا حب خا تون

صا حب خاتونه د میا روښان د زوی جلال الدین د شمسی خاتونی ښځې لوروه او د میر زاخان انصاری زوی خداداد (۳۰۱) ته یې ورکړی وه . (۳۰۲)

صا حبزا دی

د کاله باغ په ملکانو کی د سرخ روحان د زوی ملك اعظم یوه ښځه صاحبزادی نومیده ، یا سین خان او عباس خان د د ی زامن د ی. (۳۰۳)

صا حبو عاجزی

د ګل محمد بارکزی لوروه او د کندهار د کورک په کلی کی اوسیده . د دې کونړی بیا یوه لور د رلوده او سید غفور نومی ته یې ورکړی وه . صا حبو عاجزی

---

(۲۹۹) ملی هنداره ، ۲ ټوك ، ۱۹ ، ۲۰ مخونه.
(۳۰۰) خورشید ، ۲۱۸ مخ .
(۳۰۱) حالنامه کښې د غه نوم خداداد راوړی او کله خدا ید اد .
(۳۰۲) حالنامه ، ٤٧۰ مخ (وګوری : ۱۰ نمبر لمنه) .
(۳۰۳) حیات ، ٦٤۹ مخ .

له خپلې دغې لور او زوم سره کابل ته کډه وکړه . د لته سید غفور مرشو او د ې

خپلې لور ته ساندې ېږ وله شعر وویلې :

پرخپل خدای به فریاد کړم عوض غواړم له باری — ننګوم به ګرندی

ما ویلې چلګی (۳۰٤) — زه خوراغلمه دښې

حاجت می دی راوړی بخت خو غواړم پر تندی — ننګوم به ګرندی

دا وینا د اسې پای ته رسیږی :

وخت د نیمې شپې — بیان جوړ کی "عاجزی"

هر سړی چه وایې د ایمان خواست دی کوی — ننګوم به ګرندی (۳۰۵)

## عالم خاتون

د میاروښان د زوی جلال الدین د بی بی بصری ښځې لورکیده او په خوا نورکی مړه شوی وه . (۳۰٦)

## عائشه

د خبنی په اولاد کې د الیاس د زوی مې ښځه وه او کوم یې عائشه خیل بلل کیږی . (۳۰۷)

## عائشه

د اپریدی لسی د مابې زوی آدم د وه ښځې د رلودی ، یوه ختوړ یه او بله عائشه ، کالا خیل ، علی خیل او محمدی خیل د عائشې اولاد ده . (۳۰۸)

---

(۳۰٤) دا یو زیارت دی .

(۳۰۵) پښتنې میرمنې ، ۹۳ ، ۹٤ مخونه .

(۳۰٦) حالنامه ، ٤۷۰ مخ (وګورئ ۱۰ نمبر لمنه) .

(۳۰۷) مرصع ، ۲۳۲ مخ . تذکرة الابرار ، ۸۹ مخ .

(۳۰۸) خورشید ، ۲۳۹ مخ :

عایشه

د میا روښان نیکه د قاضي عبدالله پلار شیخ محمد د ری ښځي د رلوڼی، خدیجه عایشه او خنجا (؟) (۳۰۹)

عایشه

دا د ملا ابراهیم اپریدي ښځه کیده. هغه وخت چي د روښان زوی جلال الدین په تیراکي و، د دې میړه مغولو بندي کړی و. (۳۱۰)

عایشه

د یعقوب‌علي خان لور کیده او په خټه بارکزی وه، د تیمورشاه په زمانه کي په کابل کي اوسیده او شعر به یي ویلی. داسي بریښي چي دا په صرف او نحو، ادبي فنونو او فقه پوهیده، د کلام په علم او احادیثو کي یي معلومات د رلود، دژوند زمانه یي د ۱۲۳۲ ق شاوخوا ګڼل کیږي. (۳۱۱)

عجبه

عجبه (نواګۍ) ته نژدې په یوه کلي کي اوسیده او د همدغه ځای د سید محمد نومي زوی شیرعالم ته یي ورکړی وه، خو شیرعالم د خپل تره خیرمحمد په لور ماموني باندي مین و چي بیا یي دغه ماموني پسي وکړه. څنګه چي د شیرعالم مینه له ماموني سره زیاته وه، د عجبي رخه کیده او خپل وارته یي ګاته، له وختو یي یو وخت په ماموني څه سخت تورولګاوه، شیرعالم ماموني په چړو ووهله او مړه یي کړه. (۳۱۲)

---

(۳۰۹) د غلته متن نیمګړی دی، د خدیجي اولاد معلوم دی، خو نه ده ښکاره چي په عبدالله، عبدالرحمان او خداداد کي کوم یو د عایشي دی او کوم د خنجا؟

(۳۱۰) حالنامه، ۳۳۴ مخ.

(۳۱۱) پیښلیک، ۱۷۸ مخ. پښتني میرمني، ۱۰۲، ۱۰۳ مخونه.

(۳۱۲) عوامي قیصې، له ۱۸ تر ۲۷ مخه پوري.

عزیزبخته

عزیزبخته د شیخ بهادر ښځه وه او د لوی ولی حضرت شیخ رحمکار (۳۱۳) مور کیده . د ایوه عابده او پرهیزکاره ښځه وه او د خدای په مینه کې یې له دنیایی چارو لاس اخیستی و . (۳۱٤)

عزیزه

د ملك اکوړی د زوی عبدالغفور یا غفوربیګ ښځه وه ، اختیار خان او عوض بیګ د دې زامن دی. (۳۱۵)

علائی

د احداد روښانی ښځه (وګوری: الائی) .

عوض بی بی

د غلجیو د میرزا خیلو په ځانګه کې او د نورالدین په کړه کې د نواب غوث محمد (۱۲٤۲ هـ مړینه) لور وه او د هندوستان په (بهوپال) کې اوسیده .(۳۱٦)

عینو

عینو د احمد شاه بابا معاصره وه او یوه ښتیانۍ پښتنه تیره شوی ده. وایې چې د دې میړه عسکر و او د احمد شاه بابا له لښکر سره هندوستان ته تللی و ، کله چې احمد شاه بابا د هندوستان له سفره بیرته راته ، کندهار ته یې نژدی واړول د ده عسکر زړه په کور پسی مینښ مینښ کیده ، طاقت یې ونشو او د شپې په د کندهار ښار ته کور ته راغی .

عینو له خپل ښځینه پوښتنه وکړه چې لښکر څه شو ، احمد شاه بابا څه شو؟ میړه د ې

(۳۱۳) نوم یې کستیرګل و او په شیخ رحمکار ، زیړی کاکا او کاکاصاحب مشهور و ۱۰٦۳ (هـ مړ) .
(۳۱٤) مرجع : ۵۷۵ ، ۵۷٦ مخونه .
(۳۱۵) همدغه اثر ، ۲٦۱ مخ .
(۳۱٦) خورشید ، ۲۱۱ ، ۲۳۱ مخونه .

ورته کاچې پاچا او لښکر له ښاره د باندې اېرولی دي، زما کورته به یې زر په کېده د شپې پټ راغلم، سبا به هغه د وی هم را ورسېږی.

دلته عینو ورته وویل چې پښتون نو د اسې کوی چې خپل پاچا او لښکر پرېږدی او پټ کورته راشي؟ دا د یوه غیرتي پښتانه کار نه دی، که سبا خپل خپلوان پوه شي چې د عینو مېړه احمد شاه بابا او لښکر پرېښی او په پټه کورته راغلی، پزه مو د پرې کېدوده، څه مخه کوه او څنو وټال په کار نه دی!

عسکر چې بیرته ورغی او په پوځ ورګډ شو، سره ویې نیول او احمد شاه بابا ته یې ور وست چې د غه عسکر یې اجازې کورته تللی دی. احمد شاه بابا کورته د تګ او راتګ پوښتنه ځنې وکړه، هغه ټوله قصه ورته وکړه. احمد شاه بابا د غې پښتنې ستاینه وکړه او آفرین یې پرې وویلی، عسکر یې معاف که او یې عینو ته یې یو کاریز وروبانه چې تر اوسه پورې د عینو کاریز په نامه یادېږی. د غه کاریز د کند هار ښار ختیځ پلو ته یو رباط لری پروت دی. ( ۳۱۷ )

غازی ادی

د اد لوګر وه، خود کابل په شاوخوا کې اوسیده. کله چې کابل محاصره شوی او افغانانو د ختیځ له خوا زوره وا چوله، په افغانی لښکر کې ځوښځې هم وې چې د ټپیانو پالنه به یې کوله، په دې وخت کې د پښتنو بیرغچی ولګیداو مړشو، نژدې و چې افغانان مات شي، همدې غازی ادی ور تر پلل، بیرغ یې په اوږه واخیست او ملی مبارزان یې جنګ ته تو د ول، د ښمن ماتې وکړه. ( ۳۱۸ )

فاطمه

د سلطان شاه لور او د ملك احمد یوسفزی خور وه، وا یې چې دا زښته زیاته

(۳۱۷) پښتني میرمنې، ۱۱۵، ۱۱٦ مخونه.
(۳۱۸) همدغه کتاب، ۱۱۹ مخ.

بنا یسته وه او په گلیانوکی یی د شبلی او حسن خپلوا نو ته ورکړې وه، دا د واړه هغه وخت د خپل قوم ملکان وو او د الغ بیګ په دربار کی یی ډیر قدر درلود، د "تواریخ حافظ رحمتخانی" له مخی ابراهیم د ګدای الیاس زی یوسفزی زوی فاطمه و نښتوله او له تا بلهیی کورمی ته بوتله، بیا د همدی فاطمی په سر دګلیانیو او یوسفزیو ترمنځ سخت جنجال را ولاړ شو، د الغ بیګ خوېښتنو ته او په تیره بیا یوسفزیو ته زړه بډ ک و، نو چی د یوسفزیو او ګلیانیو ترمنځ ورانه شوه، د الغ بیګ سخی پخی شوی. (۳۱۹)

## فاطمه

د اپریدی زوی مای د دری ښځی کړې وې، یوه تری یا ترینه، بله فاطمه اود ربیعه زینه، آدم خیل د فاطمی اولاد دی. (۳۲۰)

## فاطمه

د یوسف خان لور او د اکوړی لمسی کیده. له بولا قوسرۍ په یوه نښته کی چی ملک اکوړی او یوسف خان ولګیده، د دی د یره میړانه وښوده چی له پلار سره مرسته وکا، خو دا هم پریوته، مړه شوه. د دی په برخه کی د "تاریخ مرصع" عبارت داسی دی:

"چه ملک اکو او یوسف خان د بولا قود لاسه شهید شول، یحیی خان په ځای د پلار په اتفاق د تری د اولس کښینا ست او نظام خان (۳۲۱) په حیات د پلار په خوانۍ مړ وو او یوسف خان نوی واده کړی و (۳۲۲)، یوه لورئی وه فاطمه نومیده.

---

(۳۱۹) تواریخ حافظ رحمتخانی، ۸، ۱۰ مخونه.
(۳۲۰) خورشید، ۲۳۹ مخ. مرصع، ۶۲۱ مخ.
(۳۲۱) نظام خان د اکوړی د "ننه رګو" ښځی زوی و.
(۳۲۲) که یوسف خان نوی واده کړی و، نو آیا فاطمه یی د کومی بلی ښځی لور وه؟

د ېره تورهئې کړې وه خانئې پلار ته ورساوه اما بختئې یاری ونکړه او کوشش ئې فائده ونهکړه د پلار سرهئې شربت د شهادت وڅیښ." (۳۲۳)

## فاطمه

د قاضي عبد الله ښځه کیده چې د میاروښان میره شی ، شیخ یعقوب د دې زوی دی ، د ې د وه لونیې هم درلود ې. (۳۲٤)

## فاطمه

د میاروښان یوه مریده وه . (۳۲۵)

## فرخنده

د افضلخان خټك په کورنۍ کی د ناصرعلیخان د زوی خوشحال خان ښځه وه او موټیانو بهیې بلله . شیر محمدخان ګنډاپور د دې د پوهې او فراست ستاینه کړې ده. کله چې د غه خوشحال د خپل ورا ره د زوی عباس په وسیله ووژل شو ، فرخنده له خپل بن زی خواجه محمد خان چې په نواب خواجه محمد خان مشهور وه ، پر یدو ته پناه یوړه . فرخنده بیا د ټیری حاکم رسول خان وکړه او فتح جنګ د همدغه رسول خان زوی دی ، د رسول خان له مړینې وروسته فتح جنګ ور وکی و او فرخندې خپل ناسکه زوی د رسول خان په ځای وټاکه . په ۱۲٦٤ هـ (۱۸٤۷ ع) . کابل سلطان محمد بارکزی خواجه محمد خان پیښور ته وغوښت ، چې ورغی هلته یې بندی که او خپل زوی سرورخان یې په ځای د ټیری حاکم وګوماره ، د لته فرخندې د خټکو لښکر راغونډ که او سرورخان یې له ټیری وویست. (۳۲٦)

---

(۳۲۳) مرصع ، ۲۵۷ مخ .

(۳۲٤) حالنامه ، ۷ ، ۸ ، ۱۳ ، ٤۱ ، ۵۱ ، ٦۱ ، ۱۷ ، ۱۸ ، ۱۹ ، ۲۱ مخونه .

(۳۲۵) حالنامه ، ۹۵ او ۹٦ مخ .

(۳۲٦) خورشید ، ۲٤۱ ، ۲٤۵ ، ۲٤٦ مخونه .

فیروز بخته

د سکندر خان لور وه او سکندر خان د میا روښان یو مرید وچی په شال کی اوسیده ، د جلال الدین د خلافت په زمانه کی د سکندر خان لور پیدا شوه او هغه یی خپلی پیر خانی ته نذر کره . چی جلال الدین خبر شو . هغه یی د رشید خان ( ۳۲۷ ) په نامه کره ، بیا چی جلال الدین خپل خپنی پیروان له قندهاره راوغوښتل . په دې کی سکندر خان هم له کډې سره جلال الدین ته راغی ، بیا چی سکندر خان مړ شو . ورور یی سنجر له جلال الدین سره و . کله چی جلال الدین شهید شو سنجر غوښته چی ورینددار او وریره له خپلی کډې سره بیر ته وطن ته بوزی ، دلته بی بی شمسو ورته وویل چی د رشید خان مور نشته ، د سکندر خان ښځه د دې بی بی بصری په ځای کینی ، چی لور یی غټه شوه په نکاح به شی . د سکندر خان ښځی وویل چی نه ، زه می لور لا له اوسه د لته نه پریږدم چی عزت به یی ونشی ، یو ځل وطن ته ځم ، چی لور می غټه شوه بیا به یی په پټ کی درواده کم . بیا نو تول کوربیر ته شال ته لاړه ، هلته چی مخالفان خبر شول ، د قندهار واکوال (حکمران) ته ور غلل چی سنجر خو روښانی دی او خپله وریره یی د جلال الدین زوی ته ورکړی ده . د قندهار واکوال سنجر ور وغوښت ، بندی یی که ، په غاړه کی یی زنځیر ور واچاوه او بیر یی وکړاوه چی د انجلو ما ته راکه ، سنجر ونه منله ، بیا یی هغه د چاخبره جر ما نه ځنی واخیسته او خوشی یی که . سنجر خپله وریره له مخالفینو پټه ساتله او په پای کی یی رشید خان ته خبر ورکه چی راشه خپل امانت بوزه ، بیا رشید خان له پوځ سره د واده په نیت مخ په قندهار رهی شو ، په لاره کی د رشید خان د پوځ او د ښمنو تر منځ سخته نښته وشوه ، په

---

( ۳۲۷ ) د جلال الدین دغه زوی الهداد خان ته جهانگیر د "رشید خان" خطاب ورکړی وچی د ده زوی الهام الله ته بیا اورنگزیب د "رشید خان" خطاب ورکه .

جګړه کې رشید خان بریالی شو ، خوشنا ورانوېسی ورته وویلې چې لا شال لری دی ، نه ویل کېږي په لاره کې له نورو ستونزو سره مخامخ شو ، راځئ بیرته وګرځو او نجلۍ د لته راوغواړو . همدا سی یې وکړه ، بیرته وګرځېدل او خپل ځای ته راغلل ، خو بیا موقع په لاس ور نغله چې نجلۍ را وغواړی . کله چې رشید خان هندته لاړ ، سنجر خپله ورېره فیروزبخته وروسته او په " شمس آباد" کې رشید خان په نکاح کړه ، دا به ټولو " قندهاری" بلله . ( ۳۲۸ )

## فیض بیګم

فیض بیګمه د رامپور په رو ئساووکې د نواب معین الدین ( بهنبو ) لور وه . ( ۳۲۹ )

## قاشی

دا د میاروښان یوه خلیفه وه ( ۳۳۰ ) . اخون د رویزه وایی چې ماله قاشی سره بحثونه وکړه ، خو هغې خپل د لیلونه ویلې او له خپلې لارې وانوښته ( ۳۳۱ ) . له دې ښکاریږي چې بی بی قاشی یوه د پوهې خاونده او میړه مخې ښځه وه چې له اخون د رویزه سره یې دینی اوعلمی بحثونه کول .

## قدسی بیګم

د رامپور په روئساووکې د نواب معین الدین ( بهنبو ) د زوی جلال الدین ( رفیع الدوله حافظ الملک نواب محمد جلال الدین بهادر مظفر جنګ ) ښځه وه . ( ۳۳۲ )

---

( ۳۲۸ ) حالنامه ، ۲۷٦ ، ۲۷۷ مخونه .
( ۳۲۹ ) خورشید ، ۱۸۹ مخ .
( ۳۳۰ ) بایزید روښان ، ۵٤ مخ .
( ۳۳۱ ) تذکرة الابرار ، ۱٤۷ مخ .
( ۳۳۲ ) خورشید ، ۱۸۹ مخ .

قند یفه

قندیفه یا کظیفه د ملك اکوړی د زوی یحیی خان ښځه وه، خودا چی قند یفه د شهبازخان مور وه او که د بهادرخان او عالم‌خان ؟ په دی باب په (تاریخ مرصع) کی د واړه روایتونه راغلی دی. یوځای وایی چی قد یفه د یحیی خان ښځـه وه بهادرخان اوعالم‌خان د دی زامن دی (۳۳۳)،بیا وایی: "خان‌علیین مکان(۳۳۴) کورته راغی، وخت د تیرماه و، تبه ئی شوه بیا د خسرکره په واده ورنغی ناوی کظیفی نیا راوسته." (۳۳۵)
د "تاریخ مرصع" په اسماء الرجال کی دی نامه ته لیکل شوی دی چی د شهبازخان مور او د خوشحال خان نیا وه. (۳۳۶)

قراری

قراری د نازوخان لور، د گدای ښځه او د اخون درویزه مور وه، دا یوه ډیره پاکه او عابده ښځه وه او وایی چی په خپل ژوند کی یی د تهجد لمونځ نه و قضا کړی. اخون درویزه لیکی: "یوورزچه می سحر د هغی (۳۳۷) مخ ته وکتل، نو ښی سترگه ئی بالکل شنه وه، تپوس می تری اوکړ وچه موری! دا څه دی؟ وی تاته پته ده چه زماپلار زاهد سحرخیز وچه کله نه په نمانځه ولاړه یم هغه سره

---

(۳۳۳) مرصع، ۲۵۷ مخ.
(۳۳۴) مطلب خوشحال بابا دی.
(۳۳۵) مرصع، ۲۷۳ مخ.
(۳۳٦) د "تاریخ مرصع نوټونه"، ۱۸٦! مخ.
(۳۳۷) مطلب د درویزه مور ده.

به مې د تهجد و نمونځ کولو ، بيګا مې ستا لور په غيږ کښې وه ، چه سحر را پاڅيدم نو هغه په ژړا شوه ، زو رو مې قرار ولړه او سترګي مې پټي کيدلې ، پسه دی حال کښې مې يوه ګوته اوليده او سري مې او نۀ ليدو ، هغه ګوته راغله او په سترګه مې را ننوته او چا اوۍ پا سه! څه سترګي پټي پټي کوی، څلور کاله ژوند دی نور پا تې دی ، څلور کاله پس چې وفات شوه نو سترګه ئې هغسې شنه وه ." ( ۳۳۸ ) دا نه يوازی پخپله پر هيزګاره ښځه وه ، بلکه له لوی ښځنته به يې په شريعت برا بر اولاد هم غوښته . وا يې چه په هر نمانځه پسې به ئې دعا کوله نو ويلی به يې "يا الله زما اولاد د شريعت په لاره اود انسانيت په خوی اوساتې اوکې په وړوکوالی کښې ئې مرګ روزی کړی چه لا ئې ګناه نه وی کړی ." ( ۳۳۹ )

د غه نوم په "با يزيد روښان" کې "فراری" دی ( ۳٤۰ ) او پسه ښکاره دا چاپه تير وتنه ده .

قند هاریه

د الهداد خان "رشيد خان" ښځه ( وګورئ : فيروز بخته ) .

کسانې

( وګورئ : ګلئ ) .

---

( ۳۳۸ ) د مخزن مقدمه ، "د" مخ ( د ارشاد الطالبين له مخې ) .
( ۳۳۹ ) همدغه مقدمه ، "هـ" مخ ( د تذکرة الابرار په حواله ) .
( ۳٤۰ ) با يزيد روښان ، ۷۸ مخ .

کشره انئ

د کمال ښځه (وګورئ: مشره انئ)

لطیفه

د یحیی خان ښځه (وګورئ: قــد یفه)

کــکئ

د کرلانــی پهکورنۍ کې د شیتك مور کــکئ نومیده ۰(۳٤۱)

کــوکې

کوکې د نصیرخان لوانی ښځه وه او نصیرخان لوانی د سلطان سنکند ر لــود ی (۸۹٤ – ۹۲۳ هـ) امیر او د (غازی پور) حاکم و. کوکئ د خپل میړه له مړینــی وروسته شپیته منه سره زر شیر شاه سوری ته وړ اندې کړه ۰(۳٤۲)

ګــګئ

د خټنی د زوی مك لورو ه، خپل شپا نه زیرکی (۳) ته یې ورکړې وه چې ګګیانی یې زوزات د ی(۳٤٤) ۰ د غه نوم په "خلاصة الانساب" کې "کاګئ" راغلی د ی او وایی چې یوه خپل اعتباری سړی ته یې ورکړی وه(۳٤٥) په "حیات افغانی" کې د ګګئ یا ګاګئ په ځای "کانی" دی(۳٤٦) او په "تذکرة الابرار" کې "کاکی"(۳٤۷)

---

(۳٤۱) خورشید، ۲٦٦ مخ ۰
(۳٤۲) لودی پښتانه، ۲۳٤ مخ ۰
(۳٤۳) حیات، ۲۱۲ مخ : بزرګی یا زیرکی ۰
(۳٤٤) مرصع، ۱۳۱ مخ ۰
(۳٤٥) خلاصه، ۱۱۹ مخ ۰
(۳٤٦) حیات، ۱۱۲ مخ ۰
(۳٤۷) تذکرة الابرار، ۸۸ مخ ۰

گل بشره

د اد يوه لوى خان لور وه او د يوه بل سود اگر له زوى عباس سره يې چې وروسته طالبجان شو، په ماجتكى له ملا درس ويلې. د دواړو مينه له وړكينى سره پيدا شوه، بيا چې لوى شول، عباس د درس په تكل د غه ماجت پر يښود او بل ځاى ديره شو. په دى منځ كى په گل بشرى د بيلتانه شپې ورځې سختى تيريدى تر دى پورى چې د عباس له غمه ډيره ناجوړه شوه، مور خو يې پرې پوهيده نو چې پلار يې مور وپوښتيده چې كه ته خبره يې را ته ووايه چې په گل بشرى څه شوي دي؟ هغې ورته ويل چې هو كې، زه خبره يم، گل بشره په عباس يا طالبجان مينه ده او د دى ناروغى د مينى ناروغي ده. پلار يې له گل بشرى پوښتنه وكړه، هغې لنډ په لنډ ځواب وركه چې خداى يو دى، مېړه يو دى، بس له طالبجانه به بل څوك ونه كم.

بيا يې نو طالبجان سره را پيدا كه او گل بشره يې ور واده كړه، د واده په ړومبۍ شپه يو په بل د مينى نارې كوى، په دى منځ كى گل بشرى د ملايي د كتابونو كومه نكته په ناره كى را واخيسته چې طالبجان پكى بند شو، د لته طالبجان ورته وويل چې تازه په سوال ځواب كى ودرولم، زما دى قسم وى چې ځان مې بى پوخ ملا كړى نه وى كه پاتې شم، گل بشرى چې هر څه خوارى د وكړى، ونه دريده بس طالبجان لاړ هندوستان ته، گل بشره بيا ژړه پېره او تار و نار شوه.

طالبجان هلته په يوه ملا ډيره شو او څو ورځى يې سبق وويلې، بيا سودا ور ولويده چې دا سبق خو په وطن هم كيده، ولى راغلم، بيرته را زهى شو، په اټك را پوريووت او پيښور ته راغى. د لته بيا سودا ور ولويده چې په سبق پسى راوتلى وم او سوچې هسى بيرته ځم دا هم ښه نه ده، بس په پيښور كى پاتې شو او او د لته يې له يوه غټ ملا سبق شروع كه. د دي ملا يوه لور وه چې ښايسته نوميده

او توره یې بلله ، د دې هم په طالبجان سترګی سرې کړی ، خو هغه تر پایه پوری مخه ور نکړه او ری یې پکې ونه وا هه . ګلونه ګلونه تیر شول او بله ورځ طالبجان پخپله یوغت ملا شو ، پینبوریې پر پښو د اوځ پخپل کور را وخوځید ، چې خپل ګلی ته را نژدې کیده ، شپه شوه ، یوه ماجت ته ور وګرځید ، د شپې د اسی نار وغه شوچی سبا له ځایه نشوجګیدی ، څو ورځی کهیده ، بله ورځ مړ شو ، د ډې یې لا نه و خبر کړی چی ګلبشره خبره شوه ، بس راوا نه شوه او ځان یې ور ور ساوه . وایی ګلبشری د ملا عباس په جنا زی ډیری کوربلی وکړې ، ډیری ستاینې یې وکړی ، آخر یې په قبر ځان ور وا چا وه او د ا هم مړه شوه .

ګل بشره ډیری د رد ناکی ناری لری چی ټولی د لنډیو په ډول دی ، هغه وخت چې ملا عباس لا مسافر و او سبق یې ویلی ، ګلبشره چا خبره کړه چی طالبجان په پلا نی ځا ی اوکلی کی د یره دی ، دې قلم کاغذ را وا خیستل او د اسې یې ور ته و لیکل :

سلا م سلا م جا نه سلا م د ی
پس له سلا مه ژر وطن لره را د رومه

قلم په لا س غمو نــه کــا ږم
د عا شقۍ لیند ی په زړه ویشتلی یمه

سترګی می ستا په لور کږې شو ې
لکه جنډ ې د شهیدانو په قـبر و نه

چې را په یـا د می شی جا نا نه
سر په با زو کړم او ښکی لاندی تو یو مه

کا غذه بخت د ې مبا رک شــه
زما تش حا ل د ی ته به وکړی دید نو نه (۳٤۸)

## ګل رو (وګوری : شهو)

## ګل غوټۍ

د دی نوم د (جلاد او شمایلی) په داستان کی راغلی دی ، دا د ملامیر لور وه او دې هم په جلاد زړه بایللی و ، خو جلاد مخ ورنه کړ . (۳٤۹)

---

(۳٤۸) ملی هند اره ، ۲ ټوک ، له ٤ تر ۲۱ مخه پورې .

(۳٤۹) همدغه کتاب ، ۱ ټوک ، ۱٤٤ ، ۱٤٥ ، ۱٤٦ مخونه .

گلمکۍ

گلمکۍ د پښتو د یوې پېړۍ خوږې قصې اتله ده او اتل یې موسی خان نومېږي . له نقله داسې برېښي چې د وې د پښتنو او کاکړستان په خوا وو کې اوسېدل او په ختهٔ ترین وو . د غه نقل په "پښتانه شعراء" او "ملي هنداره"(۳۵۰) کې راغلی دی ، د گلمکۍ د پېژندنې له پاره دلته د "پښتانه شعراء" یوه ټوټه راوړه کېږي :

"وايي چه په پخوا زمانو کښې د وه وروڼه وه ، یو فیروز او بل نوروز نومېدل سو د اکري ئې کوله ، د فیروز یوه لور وه چه "بېبو" نومېده او د هغه ځای کالخوا ای او مشر چه "سهیلی" ئې نوم و ، پر دې نجلۍ مین و او په پای کښې ئې له پلار څخه وغوښته .

د فیروز یوه بله لور هم پیدا سوه چه نوم ئې "گلمکۍ" و او د نوروز یو زوی و چه نوم ئې موسی و ، د پلر و په ژوند ون کښې لا په کوچنیوالې گلمکۍ و موسی ته په نکاح ورکړه سوه . وروسته ... سهیلی د موسی خان رقیب سو ، موسی خان هم له وطنه ورک او یو بل ځای ته ولاړ ، هلته ئې (ولي جان) نومی ملگری او رفیق سو . د دې ولیجان یوه خور ادلا وره او مړ نۍ خور وه چه "تانو" نومېده ، تانو هم په دې قصه کښې مهمه برخه لري . وروسته موسی خان او ولیجان راځي د سهیلی سره مقابله کوي ، ځکه چه د موسی خان معشوقه (گلمکۍ) سهیلی په زوره بیولې وه او هغې په مېړانه او پښتونوا له د هغه څخه ځان ساتلی او مقابله یې ورسره کوله نو چه د موسی خان په راتگ خبره سوه ، د دې ئې پټ میلمه کی . سهیلی چه د دې د وو مړو سره په ښکاره مقابله نسوای کولای ، نوئې د یوې بوډۍ په ذریعه موسی خان او ولیجان ته په ډېره ډېره کښې زهر ورکړه ، دا بې وډې خو موسی خان

---

(۳۵۰) ملي هنداره ، ۱ ټوک ، له ۷۲ تر ۱۱۲ مخه پورې .

نه وخوړه ، مګر ولیجان وخوړه په پای کښی موسی خېل مسموم ملګری پر آس وتاړه او خپل کورته ئی راوست ، چه هوری مړ سو . د ولیجان یوزوی و (میر ولی) نومیدی د خپل پلار د انتقام ملا ئی وتړله ، د موسی خان په ملګری راغی ، د سهیلی پر ځای ئی هجوم وکړ او ګلمکۍ ئی ځنی بوتله خپل کورته .

بله ورځ چه موسی خان پر یوه خوا تللی و ، سهیلی خبر سو چه میر ولی یو ازی دی نوئی ددوه پر کلا حمله وکړه ، دوه هم خوواره سخته مقابله ور سره وکړه ، خو بله ورځ آس په یوه کږهل کی ولویدی ، دی هم سخت زخمی سو ، مګر ځان ئی خپل کورته ورساوه ، ټپ ئی وتاړه ، خو میاشتی پر وت و ، بله ورځ بیا سهیلی دده په کور حمله وکړه او ګلمکۍ یې بوتله ، دی په زخمی بدن را پورته سو ، سخته جګړه ئی وکړه ، بیرته ئی ګلمکۍ ځنی را وګرځوله او په دغه وخت کی د زخم له پیروالی څخه مړ سو .

چه د ګلمکۍ دا نجات بخښونکی ځلمی مړ سو ، نو دی له ناچاری ځان سهیلی ته وسپاره او سهیلی بوتله مګر دې په مړوښو قبول نه کی ، په څه چم به ئی ځان ځنی ساتی ، څو عمر ور وسته چی موسی خان له مسافری راغی ، کی کتل دده ملګری نه وه ، میر ولی مړ و ، ښځۍ پر پراګ پاته وې ، ګلمکۍ هم سهیلی بیولی وه .

نو ده بله چاره نه لیدله چه خپله په یوازی سر د سهیلی مقابله وکړی ، نو د ښی د سهیلی کره ور ولویدی ، سهیلی هم دی مړ کی ، چه موسی خان د عشق په لاره کی ځان جار کی نو ګلمکۍ خورا ویرجنه سوه ، سهیلی ته ئی وویل چه اوس نو تاته در پاته سوم او ستا یم مګر یوه هیله لرم چه ما یو وار د موسی خان قبر ته بوزه ، بیا نو ستا مینه کیږم . سهیلی ددې دا هیله ومنله ، بوئی تله ، ګلمکۍ چه د عشق په اور سوی وه د زړه له کومی ئی له خدایه دا وغوښته چه الهی زیات ژوند نه غواړم ، ما هم د رټوله که ! او له دی بی ننګۍ څخه می وژغوره ! لوی خدای هم

د دی د سوی زړه داد ی! نبوله کړه او پر هغه ځای ئی ساوختله." (٣٥١)

د "موسی‌خان او ګلمکۍ" په نقل کی د ګلمکۍ ناری هم راغلی دی، سهیلی ېـ یـری خواری دوکړی چی ګلمکۍ راضی کا، مګر ګلمکۍ د ده ته داسی ځواب ورکاوه:

که توزن دی دا سهیلی ، سهیلی د ووس‌توزن دی
چه موسی جان پر د نیا وینه ، سهیلیه پر ما بل میړه حرام دی.(٣٥٢)

## ګـلنۍ

ګلنۍ د درخانۍ مینځه وه، د "آدم‌خان او درخانۍ" په نقل کی د دی ځینی ناری هم راغلی دی. کله چی پایاوی یا پیاوی د واده په تکل کی شو چی د رخویوسی د رخانۍ خپله مینځه ګلنۍ آدم ته ور ولیږله او هغی په آدم باندی د درخانۍ له خوا داسی ناره وکړه:

| | |
|---|---|
| سـتا د ید ن می ژړ وینه | آدم‌خانه اند یښنی می د رته وړ ینه |
| خـبر ئی کـه خـبر نـه ئی | د پایو وراګی راځی مـاود وینه(٣٥٣) |

## ګوهر بیګم

د غلجیو د میرزا خیلو په پښه کی، د نورالدین په اولاده کی د نواب غوث‌محمد لور ګوهر بیګم په نواب قدسیه بیګم مشهوره وه او نواب‌ګوهربیګم صاحبه قدسیه به‌یی هم بلله. ګوهر بیګمه د نواب‌نظر محمد (١٢٣٥ هـ) ښځه وه او د هـند په (بهوپال) کی اوسیده. کله‌یی چی میړه مړشو، مشرانو او مخورو د (بـهوپال) ریاست واك د دی ته وسپاره او لور یی سکندر بیګمه ولیعهد ه شوه.(٣٥٤)

---

(٣٥١)(٣٥٢) پښتانه شعراء، ١ټوك، له ١٤٠ تر ١٤٩ مخه پوری.
(٣٥٣) ملی هنداره، ٢ټوك، ٧١مخ.
(٣٥٤) خورشید، ١١٢، ١١٣ مخونه.

## گوهره

د یوسف د زوی اکو ارتینه وه چې د نومیالي قانون پوه شیخ ملي ورینداره شي. اکو له دغی ښځې څلورزامن درلودل: خواځو، بازید، ابا، شارك یا شادك. (۳۵۵)

## گیلن یا کیلن (؟)

د درویش داد و نږورکیده (۳۵٦)، د درویش داد و د فرید خان زوی و د تیرا په مستوره کې اوسیده اود میاروښان خلیفه و (۳۵۷) د درویش داد و یو زوی میر محمد د نیایي چاري پریښې وې او واده یې نه کاوه (۳۵۸) او یو بل زوی یې هم معلوم دی چې شاه ولي نومیده (۳۵۹)، خو نه ده ښکاره چې گیلنه یا کیلنه (؟) د همدغه شاه ولي ښځه وه او که یې نور زامن هم درلودل.

## لاړ ملکه

د الوړی د تاج خان لودی ښځه وه، چې کونړه شوه بیا شیرشاه سوري وکړه په دې باب د "تاریخ مرصع" عبارت داسې دی:

" تاج خان نومیده له قبیلی د سلطان سکندر لودی او لوی امرا وه او حفظ او خصمانه د چنار د قلعی حواله په ده وه او هم په دا سبب په میان د تاج خان او د هغو زمنوچه له نسه ئې د بلی ارتینی وو مخالفت پیدا شه ځویوه شپه مشر ځوی ئې

---

(۳۵۵) مرصع، ۲۳۲ مخ. حیات، ۱۷۲ مخ. خورشید، ۱۹۳، ۱۵٤ مخونه. د تذکرة الابرار په ۸۹ مخ کې دغه نوم " شادك " دی.

(۳۵٦) حالنامه، ۲۲۸ مخ.

(۳۵۷) د درویش داد و د علی محمد "مخلص" مورنی نیکه کیده (حالنامه، ۲۲۲ مخ).

(۳۵۸) حالنامه، ۲۲۵ مخ.

(۳۵۹) همدغه اثر، ۲۲۸ مخ.

فرصت بیا موند په توره ئی لاړ ملکه ووهله زخمی ئی کړه؛ شور وشر پیر شه تاج خان هم توره وواخسته خیر په مرګ د فرزند شه ځوی ئی پیش د ستی وکړه تاج خان ئی مړ کړ نور ئی استوګه په کوټ کښی مصلحت نه لیده وتښتید او لاړ ملکی په قدیم د ستور کوټ ساتلی د رله او په کوټ کښی له قومه د پښتنو دری ورونړه وو، نوم د یوه میر احمد د بل میر اسحاق او د دریم میر داد وه چی کار وبار د تاج خان د سپاه او محافظت د قلعی حواله په ده وه . شیر خان له آروید و د دی واقعی و میر احمد ته وکښل چه میر داد وما ته راستوه چه ځو خبری د مصلحت ور ته ووایم هرګاه چه د میر احمد له شیر خانه قدیمه آشنائی په میان کښی وه لـه آرویدو د دی خبر ډیر خوشحال شه او ورونو ته ئی وویل چه خواهنده ددی کوټ ډیر دی او لاړ ملکه که هر ځو تد بیر او عقل لری اما بیا ارتینه ده ساتنه د کوټ له دی ونشی ، لائق دا دی چه کوټ وشیر خان ته پیشکش کړ او ځان دده په حمایت کړو . پس په اتفاق و لاړ ملکی ته وراغلل او حقیقت ئی ور ته بیان کړ ، لاړ ملکی ور ته ووی چه مصلحت د ما د تاسو په لاس دی هرچه صلاح وینئ هغه په عمل راوړئ . پس له هغه میر داد ووی مصلحت دادی چه خپل ځان د شیر خان په نکاح کړی چه لـه خوفه له خلله په امان شی او کوټ د چنار ور ته وسپاری . د لاړ ملکی کل مراد دغه وه په زړه او په ځان ئی دا معنی قبول کړ ، میر داد ئی په ملازمت د شیر خان روان کړ ، میر داد وشیر خان ته وراغی ، پس له ګفتګو یه ئی اصلی مطلب ور ته بیان کـړ شیر خان وفرمائیل . مصرع

د رکار خیر حاجت هیچ استخاره نیست

میر داد په وخت د جار وتلو له شیر خانه مقرر کړ چه زر و قلعی ته را روان شه پس هم هغه زمان چه میر داد له ملازمت د شیر خان رخصت شه شیر خان هم ور پسی روان شه او میر داد پخوا د شیر خان تر وړ تلو خلق د کوټ خبر کړی او د لاسه ئی ورکړی وه ، د کوټ خلق و بیا میر داد روان کړ چه شیر خان ډیر ژر بیا تشریف

وفرمائی او قلعه دِ په خپل تصرف کا چه مبادا چیری زهمن د تاج خان پیش د ستی وکا ، بعضی خلق د کوټ له ځانه مله کا هاله به کار په شدت او عد اوت ورسی ، شیرخان منتظر د اشارت وه لاس په لاس راغی او لاړه ملکه ئی په خپله نکاح کړه . لاړ ملکی له خپله ماله پنخوس زره سره زر له قلعه سره وشیرخان ته پیشکش کړ او ښځ کنجونه چه په اطراف او جوانب دهغه ملك وو په قید د شیرخان راغلل". (۳٦۰)

لاړووی ی

د غلجیو د میرزا خیلو په پښه کی او د نورالدین په کورنۍ کی د نواب غوث محمد (۱۲٤۲ هـ مړینه) لور وه او د هندوستان په (بوپال) کی اوسیده . (۳٦۱)

لویه ادی

د بارکزی کلان خان لور، د پاینده خان ښځه او د وزیر فتح خان مور وه. وایی کله چی د شاه محمود زوی کامران وزیر فتح خان ړوند که او د شاه محمود په ټونګ د غزنی په لاره ټوټی ټوټی شو ، نو چی موریی خبره شوه ، پوښتنه یی وکړه چی د وژلو په وخت وزیر فتح خان ژړا انګولا ، ناری سوری کولی او که نه ؟ چا ورته وویل نه،نو دی وویل اوس می خپلی شودی ور ښښلی دي.ویل کیږی چی د لوی اختر د کیچړی د ود له دی را پاتی دی . (۳٦۲)

لیلو

د آدم خان د ملګری (مریی ؟) بلو ښځه وه او د "آدم درخانی" په قصه کی یی نوم راغلی دی . (۳٦۳)

---

(۳٦۰) مرصع ، ۱۱۹ او ۱۲۰ مخ .

(۳٦۱) خورشید ، ۲۱۱ او ۲۱۲ مخ .

(۳٦۲) پښتنی میرمنی ، ۳۳۷ ، ۳۳۸ ، ۳۳۹ مخونه .

(۳٦۳) ملی هنداره ، ۲ ټوك ، ۷۵ مخ .

ما يې

ما يې د ظريف محبوبه وه ، کله چې ظريف په سوداګرۍ هندوستان ته لاړ ما يې پېرې سختي تيرې کړې او د ظريف د بيلتانه په اور سوه ، کله چې ظريف له هندوستانه له مال آل سره او په سامانه بيرته راغي ، بيا سره ښځه ميړه شول او په خوښۍ يې شپې ورځې تيرولې .

نقلچيان د "ظريف او ما يې" د داستان په منځ منځ کې سوزناکې نارې ور سره يو رته کوي . کله چې ظريف د هندوستان د سفر تيارې نيوه او ما يې خبره شوه ، نو دا ناره يې وکړه :

که ځه ځه ظريفه ځه د هند ولور ته + رازق موخداى دى رزق به رارسي زمونږ کورته
هاى هاى زمونږ کورته .

کله چې کاروان وخوځيد ، ما يې بام ته وخته او ناره يې وکړه :

اوښانو وخورئ د پاوېږدى غاړې ـ د الوى ورنو نه .
يرون بار مال ظريف دلې و ـ نن موتيرکئ تـر ولا تو نه      هاى هاى تر ولاتو نه(۳٦٤)

ما مونۍ

ما مونۍ د خير محمد لور وه او (نواګۍ) ته نژدې په يوه کلي کې اوسيده ، د ې ته خداى ډېر لوى ښايست ورکړى و . په ما مونۍ باندې يې د تره زوى شيرعالم مين و که څه هم شيرعالم بله ښځه (عجبه) درلوده ، خو مينتوب د زړه کار دى نه د لاس په د ې مين شوى و . د شيرعالم نوره ټيکه ونشوه او خپل پلار ته يې ړېر براالا وويل چې بس ماموني به راته کوې ، پلار يې د زوى خوښې ته ګتل ، ماموني يې ور تـــــه

---

(۳٦٤) ملي هنداره ، ۲ ټوك ، له ۲۲ تر ۳۵ مخه پورې . پښتانه شعرا ، ۱ ټوك ، ۱۲۱ او ۱۲٤ مخ .

وغوښته، د مامونۍ پلار هم څه پکې ونه ویلی او مامونۍ یې شیرعالم ته ورکړه. څه موده وروسته یې پسې واده وکړه، مګر څنګه چې شیرعالم له (عجبې) په (مامونۍ) زیاته مینه کوله، د عجبې رخه کیده او وار ته یې کتل.

شیرعالم خپله دوکاندار و او خپله د دوکانداري یې کوله، بله ورځ د دوکان سودا په خلاصید وشوه، نو له خپل کلي نه شبقدر ته د سودا راوړو له پاره لاړ، په دې منځ کې دوه دري ورځې ووتې. یو ماسخوتن چا دروازه وټکوله چې څه شی مې په کار دي، د دوکان را ته خلاص کړه، عجبې د هغه آواز واورید چې سیداجان دی، سیداجان ښځه نه درلوده او هسې به دې خوا ته هغې خوا ته ګرځیده. عجبه خوشره وه، نو چې مامونۍ ته به یې څه ویل هغې به یې خبره منله، عجبې په مامونۍ غږ وکه چې پاڅه د دوکان ورته خلاص که! مامونۍ پاڅیده کیلي یې واخیسته ورغله چې د دوکان ورته خلاص کا، بس چې د سیداجان د دوکان ته پښه ورننوته، بیا عجبه د دوکان په خوله کې ولاړه وه او چیغې یې کړې چې خلکو څه شوې؟ خلک راغلل او په توره شپه کې یې مامونۍ له سیداجان سره په دوکان کې ونیول، مامونۍ که هر څو د خپلې پاکې ناري سورې وکړې، چا اورید ې؟!

بله ورځ شیرعالم په کچره سودا بار کړې ده او خوشحاله خوشحاله کیږې مخ په کور را روان دی، خو کور ته چې را اورسید، بیا هغه خوښې ورته پاتې نشوه، عجبې دا له غمه ډکه قصه په ډېره حیله بازۍ ورته وکړه. دلته په شیرعالم اور بل شو او له ډېره قهره لکه مار اوښته را اوښته. د مامونۍ په پاکه او معصومه بشره که هر څومره اوښکې را تویيدې، په شیرعالم یې تأثیر نه کاوه. شیرعالم چاړه را واخیسته او خپله هغه مینه یې چې له ځانه پرې ګرانه وه په چړو ووهله او ټوټې ټوټې یې کړه.(٣٦٥)
په (عوامي قیصۍ) کې د مامونۍ ناري نه دي راغلې، خو ما په وړکینې هم دغه نقل اوریدلی دی چې ناري یې هم درلودې او زما یې دغه ایکي یو بند په یاد دی:

---

(٣٦٥) عوامي قیصۍ، له ١٧ تر ٢٧ مخه پورې. پښتو منظومې قصې، ٧٧، ٧٨، ٧٩ مخونه.

میمونه ( ۳٦٦ ) شنه سوه په خند اسوه خانه     د کاکا زوی دی ما به نه حلالوینه خانه
د کاکا زوی

## مانو

د سروانی په اولاده کی د یوسف د زوی اسماعیل د وه ښځی وې ، یوه یې یې اوبله مانو ، تورزی او مچازی د مانو اولاد دی . ( ۳٦٧ )

## ماه ملك ( ماه ملکه ؟ )

د سلطان غیاث الدین غوری لوروه ، موریې تاج الحریر جوهر ملك نومیده چی د علاء الدین جهانسوز لورکیده . ماه ملکه د ملك شجاع الدین ابی علی د زوی ملك علاء الدین نجل کیده او د ابه یې جلال الدنیا والدین بلله . دا د قرآن کریم حافظه وه ، کتابونه یې لوستی وو او زښته ښه خطیې درلود . ( ۳٦٨ )

## مبارکه

مبارکه د پیرروښان د خلیفه علی شیر ښځه کیده ، دا هم د روښان مریده وه . ( ۳٦٩ )

## متو

دا د سلطان شاه لودی ( اسلام خان ) ښځه او د قطب خان لودی موروه ، په کال ۸۵٦ هـ چی سلطان بهلول لودی د پنجاب په سیموکی و ، د جونپور لښکری دهلی ته راورسیدی او ښار کلا بند شو ، د جونپور لښکروشا وخوا ورته وا ړول ، د کلا د ساتند ویانو مشری د سلطان بهلول د پښتنی خوا ښي ( ستو بی بی ) چی د اسلام خان

( ۳٦٦ ) ماد غه نوم په خپله سیمه " میدان " کی " میمونه " اوریدلی دی .
( ۳٦٧ ) تاریخ خانجهانی ومخزن افغانی ، ۸۰٦ مخ .
( ۳٦٨ ) طبقات ، ۱ ټوك ، ۳۱۹ ، ۳٦۹ مخونه .
( ۳٦٩ ) حالنامه ، ٦٨ ، ٦۹ مخونه .

کو نی ه او د بهلول د کاکا ښځه وه ، په غا ړه وا خیسته . د د ی له پا ر ه چی دښمن ونه پو هیږ ی چی په کلا کی پو ځو نه نشته . د لود ی کور نی ټولو پښتنو ښځو ته یې د نارینه کالی ور وا غوستل او د کلا سر ته یې وخیژولی او پیر ی یې ور وسپار لی ، په کلا کی د ننه میړ و نه یې وگو ما رل چی په غلیم به غیشی ور و ی .

کله چی یې یې متو د لود ی پو ځو نو له ور رسیدو نا ا میده شوه ، یو ه ا یلچی ته یې د د هلی کیلی ور کړ ه او د سلطان محمود شر قی ا میر د ریا خان لود ی ته یې له د ې پیغام سره ور ولیږ ه چی که د لود یانو ناموس ساتی نو کیلی وا خله ، نو چی دریاخان دغه پیغام وا ورید ، قوم ولی یې په نوکر ی غوره وبلله او کیلی یې بیر ته ور کړه (۳۷۰)

## مـرجا نه

د خر ښبو ن په اولاده کی د ابا د زو ی د ولت ښځه مرجانه نومید ه ، ا وکړه یې قا سم خیل ، مو تی خیل او ابر ا هیم خیل د خپلی مور په نا مه مرجانه خیل یادیږی (۳۷۱)

## مـرجا نه

د کند د زو ی خښی ښځه وه ، مندی او مك (۳۷۲) د د ی له نسه د ی . (۳۷۳)

## مرجانړ ( مرجانه)

د خو شحال خټك له یوه شعر ه چی خپل زا من یې پکی غندلی د ی ښکا ریږ ی چی یـوه ښځه یې مرجانه نومید ه او له مرجانی یې هم سر ټکو لی د ی ، د هغه شعر د سـر او پای څو بیته دا د ی :

نا خلف می حـوا لـه کړ پـه تقد یر نصیحت ور با ند ی نه کا ند ی تـا ثیر

---

(۳۷۰) لود ی پښتا نه ، له ۷۵ تر ۷۸ مخه پور ی .
(۳۷۱) حیا ت ، ۱۶۵ مخ .
(۳۷۲) خور شید ، ۱۹۵ مخ : مند او مك . حیا ت ، ۱۵۹ مخ : مند او مخ یا مك .
(۳۷۳) مرصع ، ۲۳۱ مخ . خور شید ، ۱۹۵ مخ . تذکرة الابرار ، ۸۷ مخ .

................... ...................

تربيت بې ښايه واړه حبطه دي
کشيده د زرونه شي په حصير

زه ئې هيڅ په تربيت نه کړم تقصير
ولې څه کړم نا خلف دي بد ضمير

د نطفې اثر مې لاړ پکښې ضائع شو
واړه بې د مرجانۍ لري تاثير

کلوګې د اور فرزند دي په داخه شو
چه نه تا و نه لکه اور غوندې منير

سرشته د مادچارې هغه خط شوه
چه بې فکره د انشا ښکلې تقرير

په مقدار د خپلې چارې فکر غم کا
په دنيا کښې که غني دي که فقير

در يغه يو يکښې شهباز شوې شوې يا خوشحال
شل پينځه لشرم همه صغير کبير (۳۷٤)

## مرغۍ

مرغۍ يوه نجلۍ وه چې په ښکاره د يوسفزيو په سيمه کې چيرې اوسيده او ميرويس زرگر پرې مين و ، بيا هغه زرگر وتښتوله ، کله چې د مرغۍ ورور خبر شو دواړه يې په توپك وويشته . د "مرغۍ او ميرويس" قصه سليمانشاه شاعر نظم کړې ده . (۳۷۵)

## مريم

د مهيار زوی د دولتشاه د وه ښځې د رلود ې ، يوه يې بي بې حوره او بله مريم ، مريم زی د همدې مريمې زوزات دي . (۳۷٦)

## مريم خاتون

د ميرزا خان انصاري لور وه او سکندرشاه ته يې ورکړې وه ، د غه سکندرشاه د محمدعلي زوی ، د شيخ يعقوب لمسی او د پيرروښان وراره کيده . (۳۷۷)

---

(۳۷٤) ارمغان ، ۴۰ مخ .
(۳۷۵) پښتو منظومې قصې ، ۱ ټوك ، ۱۰۳ مخ .
(۳۷٦) حيات ، ۲۱۷ مخ .
(۳۷۷) حالنامه ، ٤٦٠ مخ .

**ستوره**

د مهیار د زوی رځېړ د وه ښځې وې چې یوه ستوره وه او یله یې یو خداوندده، ستوره زی د ستوری اولاده ده. (۳۷۸)

**ستوره**

ستوره د آدم خان د معبوبې د رخانۍ ترله وه، د ې آدم نه لیدلی نه کتلی وخسو صفتونه یې اوریدلی وو او پرې مینه شوی وه. د خدای کار ونه دی یو وخت آدم په شاه دره راغی او د ستوری کره میلمه شو، دلته ستوری په مور ناره وکړه:

نن زما زړګوتی ښه کړه، د رته وایم د میلمه عزت ښه وکړه
آدم خان زما میلمه دی، ادی موری مهمانی ورلره وکړه

د آدم زړه خو د رخانۍ وړی و، په بل چا یې ګله مینه ما تیده، نو یې ستوری ته پلمه وکړه چې له هغې خوابه د ربا ندی را شم، دلته ستوره خوشحاله شوه او دا ناره یې له خولی ووته:

| | |
|---|---|
| ښه سوه وا ی تماشه ښه سوه | د شاهی آدم وما ته اند یښنه سوه |
| د د رخو په لوری د روی وا | ول شاهی آد مه څه په مخ دی ښه سه (۳۷۹) |

**ستی (ستی)**

د مسود (مسعود؟) د لصی د بهلول د زوی نونو (نانو) ښځه ستی نومیده هیبت خیل او عمر خیل د دغې ښځې اولاد ه ده. (۳۸۰)

---

(۳۷۸) حیات، ۲۱۷ مخ.
(۳۷۹) ملی هنداره، ۲ ټوک، ۵۹ او ٦۰ مخ.
(۳۸۰) حیات، ۳٤۹ مخ. خورشید، ۲۵٦ مخ.

## مسري‌ه

مسري‌ه د احمدگل خټک لور وه چې پښتو فا لنا مه‌یې نظم کړی د ه ، د د ی د ژوند زمانه د ۱۱۲۵ هـ شا وخوا ګڼل کیږی . ( ۳۸۱ )

## مشره انئ

د خښي په ا ولا د ه کی د مند هـ زوی منو د وه زا من د رلود ل ، یو عثمان او بل ا تمان ، د عثمان بیا د وه زا من وو چې یویې ا مان نومیده او بل کمال هـ د کمال د وه ښځې وې چې یوی ته‌یې مشره انئ ویلې او بلې ته کشره انئ ، د مشري انئ اولا ده مشران زی بلل کیږی او د کشري انئ کشران زی . ( ۳۸۲ )

## معصومه بیګم

د نواب علی‌محمد لور او د نجیب‌خان ( نواب نجیب‌الدوله ) د زوی ضابطه‌خان ښځه وه ، د هند وستان په را مپور کی‌اوسیده او غلا م‌قا د ر یې زوی د ی ، د ژوند زمانه‌یې د ۱۱٦۰ هـ شا و خوا ګڼل کیږی . ( ۳۸۳ )

## مغلا نۍ

د پیرروښان د زوی جلا ل الدین ا رتینه وه او عا یشه یې د همد غی ښځې لور د ه . ( ۳۸٤ )

---

( ۳۸۱ ) پښتانه‌ لیک ، ۱٥٤ مخ .
( ۳۸۲ ) خلا صه ، ۱۱۳ مخ .
( ۳۸۳ ) خورشید ، ۱۸۸ مخ .

ملاله

په کال ۱۲۹۷ هـ د پښتنو او انګریزانو ترمنځ جنګ نښتی و او ټول میوند یوه توره سور او ر و ، په ټکنده غرمه کی له یوی خوا کرمی وه او له بلی خوا او به نه وې ، د پښتنو بیرغچی هم ولګید ، نژدی وچی پښتانه مات شی ، د لته پښتنی پیغلی ملالی بیرغ په اوږه که او پښتنو ته یې مخ ور وا ړ اوه چې:

که په میوند کی شهید نسوی زما لالیه بی ننګی ته دی سا تینه

د همدی په وینا پښتانه ځوانان بیرته په جنګ ننوتل او دښمن ته یې ماتی ورکړه . ( ۳۸٤ )

ملکه جبال

د سلطان بها ٔ الدین سام او ملکه ګیلان لور وه او د ملک تاج الدین زنګی مور کیده . ( ۳۸۵ )

ملکه خراسان

د سلطان بها ٔ الدین سام او ملکه ګیلان لور وه ، د ملک قزل ارسلان سلجوقی ښځه کیده او الب غازی د دې زوی د ی . ( ۳۸٦ )

ملکه ګیلان

ملکه ګیلان ( ۳۸۷ ) د ملک بدر الدین ګیلان لور وه او د سلطان بها ٔ الدین سام

---

( ۳۸٤ ) پښتنی میرمنی ، ۱۵۹ ، ۱٦۰ مخونه ( د کابل مجلې د پنځم کال له ۱۲ ګڼې نه )
( ۳۸۵ ) طبقات ، ۱ ټوک ، ۳۳۸ مخ .
( ۳۸٦ ) همدغه اثر او همدغه مخ .
( ۳۸۷ ) محشی ورته لیکی چې د کلکتی چاپ او راوړتی "کیدان" راوړ ی ، خو سم یې "ګیلان" دی چې غزنی ته نژدی د یو ځای نوم شی .

بن حسین ښځه کیده ، د دی نسبی سلسله هم شنسبا نیانو ته رسیده ، د بهاءالدین سام
له دی ښځی د وه زامن وو اود ری لوڼی ، زامن یې یو سلطان غیاث الدین محمد سام
او بل معزالدین محمد سام ، لوڼی یې یوه ملکه جبال وه (۳۸۸) چې د ملک تاج الدین زنگی
مور کیده ، بله ملکه خراسان وه ، د ملك قزل ارسلان سلجوقی ښځه او اود الب غازی
مور ، د ربیبه حره جلالی وه ، د سلطان شمس الدین محمد ښځه او د بهاءالدین سام
مور ۰(۳۸۹)

## ملکه معزیه

ملکه معزیه (۳۹۰) د ملك تاج الدین تمرانی لور وه ، د سلطان غیاث الدین محمود
ښځه وه او د سلطان بهاء الدین سام مورکیده . کله چې سلطان غیاث الدین محمود
شهید کړی شو ، هم دی ملکی سړی وگومارل چې له د ښمنو یې کسات واخلی ۰(۳۹۱)

## موتیا نۍ

(وگوریٔ : فرخنده) ۰

## مولهه

مولهه له ۹٦٤ هـ کاله را ورسته په کیتهل کی پیداشوی ده ، دا یوه مجذوبه او د
خدای په مینه مسته ښځه وه ، بولی خبری یی له عرفان او حقیقت سره برابری وی ، په
دی باب په "تاریخ مرصع" کی راغلی دی چی :
"تل به مجذوبه او مولهه او لیونۍ او بی خوده او بی شعوره وه ، هرکله به چه د

---

(۳۸۸) په لمنه کی ورته راغلی چی راورته یی "ملکه جهان" راوړی ۰
(۳۸۹) طبقات ، ۱ ټوك ، ۳۳۷ ، ۳۳۸ مخونه ۰
(۳۹۰) محشی زیاتوی چی دغه نوم په اصلی متن کی "مغربی" دی ۰
(۳۹۱) طبقات ، ۱ ټوك ، ۳۷۷ مخ ۰

رحمت باران ورېدلو. څلې ستړکې به ئې اسمان ته وازې و نیولې او ترڅلور و پنځو ورځو به حیرانه پې حرانه ولاړه وه او سانه به ئې نه حنبول او له بارانه باده او تند ر به هیڅکله نه ر نځېده او بیا به چه پخپل حال راغله هم هغسې مستانه به گرځېدله او هره خبره به ئې چه کړه عین له عرفان او حقیقته به وه. " ( ۳۹۲ )

## مهتاب بانو

دا د کاله باغ په ملکانوکې د ملك اعظم ارتینه وه ، ملك اللهیار خان او نواب خان د دې زامن دي. ( ۳۹۳ )

## مهر سلطانه

د سلطان ابراهیم لودی لور وه ، په ۹٤۳ هـ کال د شیر شاه سوری زوی جلال خان وغوښته ، خو بې بې فتحي خپله لور ور نکړه ، شیر شاه هم جلال خان منع که ، بیا وروسته یې موږ یوه خپل ته چې سکندر نومېده ورکړه.

د سکندر خو پوری ارتینه ژوندی وه یو تر بله یې عمر تیر اوه ، څنگه چې پېر ناپوهه او نا قابله سړی و ، نو د مهر سلطانې له مړینې وروسته مفلس بیچاره شو او بې نامه بې نښانه ورك شو. ( ۳۹٤ )

## مېهي

مېهي ( ۳۹٥ ) د کاغ ( ۳۹٦ ) لور وه او د شاه اوسینَ ( شاه حسین؟ ) غوری ښځه کېده.

---

( ۳۹۲ ) د تاریخ مرصع ضمیمه ، ۱۳٤۸ مخ.
( ۳۹۳ ) حیات ، ٦٤۹.
( ۳۹٤ ) لودی پښتانه ، ۲۸۸ مخ. مرصع ، ۱۲٤ مخ.
( ۳۹٥ ) د غه نوم د " تاریخ مرصع " په ٦۱٤ مخ کې " مهی " او په ٦۱۷ مخ کې " مستی " دی. د قلمی " تاریخ مرصع " په ۷۸ مخ کې ( مې ) . خلاصة الانساب ، مخ ۱۳۷ ( مې ).
( ۳۹٦ ) له دغه نامه سره په " مرصع " ، مخ ٦۱٤ کې ( د وړې ) راغلی . په " پښتانه " ، مخ ۲۳۳ او " خورشید " ، مخ ۲۰۹ کې ( د وړ ) . په " خلاصه " ، مخ ۱۳۷ کې ( مطرب ) دی. خو ماته د کاغ له نامه سره د ( د وړ ) او ( مطرب ) کلمې تصنعي بریښي ، ځکه ــــــ

د شاه اوسین خور وه ښځی وې ، یوه "متو" د بیټ‌نیکه لور او بله "مسې"

د کاغ لور . په ښکاره د مسې استوګنځی د بیټ‌نیکه په څیر د کسی غره لمنی وې او

د زوند زمانه یې د ۴۰۰ هـ کال شا وخوا اټکل کیږي ، سروانی د همدې "مسې"

زوی دی .

## مسې

په "خورشید جهان" کی کله چی د رامپور د روئساوو شجره راخلی ، نو وایی چی

د خرښبون د لمسی ، د کند د زوی عمر د وه ښځی وې ، یسوه "مسې" او بله

بسو (۳۹۷) خو زما پر ته له (خښی) او (غوریا) د (کند) د دریم زوی‌نوم له‌نظره‌ندی تیر .

## میمونه

د ابرهیدی لمسی د مای زوی اولی د وه ښځی کړې وې ، یوه میمونه نومیده

او بله زخه ، فیروز ، ابابکر ، لنړی او هرمز د میمونی اولاد دی . (۳۹۸)

## مینا

مینا د د رخانی دمین آدم د بلی ښځی تونیا نږور وه او ودا د میرباش ښځه

کید ه . (۳۹۹)

## ناخه

د خښی په اولاده کی د سهیل زوی عزیز د وه ښځی د رلودی چی یوه ناخه وه

او بله خدی (خدی) ، باره خیل او احمد خیل د عزیز د ناخه ښځی کړه ده . (۴۰۰)

---

په خورشید (۲۰۹ مخ) لی وایی چی شاه اوسین بیټ‌نیکه ته وویل چی زما د نسب معلو مولو

له پاره یو اعتباری شړی غور ته ولیږه ، نو زړه ته نه لویږی چی د غدې "ګوړ" یا "مطرب" وی .

(۳۹۷) خورشید ، ۱۸۹ مخ . (۳۹۸) مرصع ، ۶۲۱ مخ . خورشید ، ۲۳۹ مخ .

(۳۹۹) ملی هنداره ، ۲ ټوک ، ۷۵ مخ . حیات ، ۲۷۲ مخ .

(۴۰۰) حیات ، ۱۷۲ مخ .

## نازکو

نازکو د پښتنې شاعرې "صاحبو عاجزه" لور وه . دا يې سيد غفور نومي ته ورکړې وه او په کندهار کې اوسيده . د نازکو پلار مړ و او دې بيا له خپل ميړه او مور سره کابل ته کډه وکړه ، دلته يې ميړه هم مړ شو ، د دې د ژوند زمانه د ١٢٨٠ هـ کال شاوخوا ده . (٤٠١)

## نازو

نازو د درخانۍ د مين آدم خان خور کيده ، دا په قطب خان نومي مينه وه او هغه د دې د مينې په اور جل بلو . نقلچيان د (قطب خان او نازو) د داستان په منځ منځ کې د نازو نارې په ډېر جوش سره پورته کوي .

وايي چې يو وخت د آدم مړيې (ملګرې؟) بلو کوم شرط په ځای کړی و ، بيا آدم له خپل قوله سره سم خپله خور نازو ورکړه . له وختونيو وخت قطب خان او نازو سره يوځای شوي دي ، دلته د نازو دا ناره له خولې راوزي:

که سانډه وي دا بلو مړيې سانډه وي

زما په غيږ کې زمرې پروت دی ، دا بلو مې ايسان نه لري هندو دی . (٤٠٢)

## نازوتوخي

د نازو توخي د پېژندنې له پاره دلته د "پټه خزانه" عبارت کټ مټ راخلم:

"نازو د سلطان ملخي توخي لور وه ، چه تولد ئې په ١٠٦١ سنه هجري هغه ځای و چه تازي نوميږي . سلطان ملخي په هغه وقت د غزني ترجلدکه د اقوامو مشر و او په استقلال ئې حکومت کا ، معارض او ساري ئې نه درلود او نازو په کوچنيوالي له

---

(٤٠١) پښتني ميرمنې ، ٩٣ مخ .

(٤٠٢) ملي هنداره ، ٢ ټوک ، له ٤٠ تر ٦٩ مخه پورې .

میرمنو د پښتنو او سپین ږیرو وعلماوڅخه لوست وکا او میره مخي ارتینه وه چه نارینه ئي میراني او شجاعت او سخاوت ته حیران وو .

روایت دی له ثقه راویانو ، چه سلطان ملخي وسورغره ته نږدی په جنگ کی و مړ او حاجي عادل چه د نازو ورور وو ، د پلار په انتقام جنګ ته ولاړ ، کلا او کورئي نازو ته پریښو ، په هغه وقت نازو توره په ملا کړه او د جنګیالیو ځوانانو سره ئي کور او کلا له تاړاکه د دښمنانو وساتل . ما ته خپل پلار حکایت کا چه نازو انا په میلستیا اوغریبانو سپا فرانو په پالنه معروفه وه او هر وقت چه په ژمی به د مسافرانو قافلی راغلی د نازو پرکلا ئي اړول ، په سوو سوو میلمانه به ئي روز ل او د وی ته ئي ډوډی ورکوله ، چا چه به کالی نه د رلود ، لباس به ئي ورکاوه او د سخاوت نوم ئي له خیبر ترکوسانه خپور سو ، نازو په حباله د ښالم خان هوتك وه چه د کرم خان زوی وو او د هوتکو ښالم خیل چه نن ورځ پاد شاهي د قند هار او اصفهان د د وی ده له دی شجرهٔ طیبه څخه د ی. او نازو څلور زامن درلوده چه مشر ئي حاجی میرخان او نور عبدالعزیزخان او یحیی خان او عبدالقادر خنان دی . هسی روایت کا محمد کاتب الحروف لخپل پلاره چه نازو انا عابده صالحه ښځه وه او خپلو زامنو ته ئي ټول عمر په اودا سه شیدی ورکړی او چه علیین مکان حاجی میرخان تولد سو خوب ئي ولید چه شیخ بیټني رحمة الله علیه ورته وائي " د از وی ښه تربیت که چه لوی سی ، لوی کار ونه به وکا او په زیارت د بیت الله به ځان مشرف کا ، او نسل به ئي پیدا سی پاد شاهان چه دین به رو ښان کا ."

نو چه حاجي میرخان وزیږیدی ، مور ئي په د یانت او عبادت سره لوی کا او د دین فرایض ئي ټول پر اوږو کا ل ورو ښو ل او هر کله به ئي ده ته نصیحت کا "چه زویه ! د شیخ بیټني نیکه قدس الله سره له قوله ستا په مخ کښی دی لوی کارونه ، نو چه لوی شی ، د خدای عبادت او د خلقو خدمت کړه ، ته خدای پیدا کړی ئي د دی د پاره چه لوی کارونه ترسره کړی او خلق الله په خدمت ستا آرام وکا ."

روایت دی چه حاجي میرخان علیین مکان به هر وقت ویل چه : "زما مور ماته دلویو کارو د کولو وصیت وکا، زه باید هسې کارونه وکړم." چه په ۱۱۱۹ سنه هجري ئې قوم د ظالمانو له ظلمه وژغوره ، نوئې سجده د شکر وکړه او وی ویل : "خدایه ! دا هغه کارو چه ماته مور سپارلی واو وصیت ئې کړی و ، دا خو ستا د عبادو او بند کانو خدمت و ، چه ما ترسره کا." زما پلار هسې وویل چه نازو انا علاوه پر سخاوت او شجاعت او عبادت هسې ارتینه وه ، چه د خدای تعالی څخه په مناجات ئې به یر اشعار ویل او یو دیوان ئې در لود چه د وه زره بیتونه پکښي ول او هلته ئې ښه نکات ادا کړی و او داسې ئې ویلی وچه نارینه ئې هم نسي ویلای ، او د غه رباعي چه د نازو انا ده ، ما له خپل پلاره اوریدلی وه ، الحق چه ښه رباعي ده

رباعي

سحر کــه وه ، د نرگس لـیمه لا نـده وه — څاڅکي څاڅکي ئې لـه سترکو څڅیده
ماویل څه دی ، ښکلی گله ولی ژاړې ! — ده ویل ژوندمې دی یوه خوله خندیده (۴۰۳)

نـسرمې

نرمې د آدم د شهی (د رخانی) دایی وه او د رخانی همدغی لویه کړی ده ، د (آدم درخانی) په ستره (داستان) کې د نرمې څینې نارې هم راغلی دي . درخانی خوتراو پرد و د ښه ناسته وه او چا ته بی مخ نه ښکاراوه ، مگر د آدم د رباب ترنکې چې واورید ، را پاڅیده او نژدې وچې سرتوری راووزی ، نو نـسرمې ادم ته مخ وروا ړاوه او دانارې وکړه :

توره ادم توره چنبې رباب دی مه وهه په زوره
چه د استاد رباب غږسی په دروخوې اور لگیږی لور د لوره . (۴۰۴)

---

(۴۰۳) پټه خزانه ، ۱۷۶ ، ۱۷۸ ، ۱۸۰ مخونه . د "خورشید" په ۲۱۷ مخ کی د "نازو" یاد ونه شوی ده .

(۴۰۴) ملی هنداره ، ۲ ټوک ، له ۵۱ تر ۷۷ مخه پوری .

نظام بیگم

نظام بیگمه د نواب علی محمد خان (١١١٢ هـ زیږیدنه) د زوی نواب سعدالله خان لور وه او د عجیب خان (عجیب الدوله) مشهور په ګلو خان ، ښځه وه ، د هندیسه رامپور کی اوسیده. (٤٠٥)

نعمت خاتونه

د ملك سلطان شاه (اسلام خان) لودی نږور او د قطب خان لودی ښځه وه . وایی په ٩١٤ هـ کال چی سکندر لودی د نروړ له کلا له لښکر سره راووت او د (بهار) یا (بهمر) کلی ته راورسید ، د سلطان بهلول لودی زوی جلال خان له خپلی رضاعی مور بی بی نعمتو سره چی د سلطان بهلول لودی داونبی او تربوره (قطب خان) کونډه وه ور ته راغی ، دلته د نعمت خاتونی په سپارښتنه ، جلال خان وبښل شو او کالپه یی په جاګیر کی ورکړه. (٤٠٦)

نندرکو

نندرکو په ختیه بولاقه وه او د ملك اکوړی ښځه کیده ، نظام خان د همدغی نندرکو زوی دی . (٤٠٧)

نواب سکندر بیگم

نواب سکندر بیگمه د میرزا خیلو په پښه او د نور الدین په اولاده کی د نواب نظر محمد لور کیده او په کال ١٢٣٤ هـ په (بوپال) کی پیدا شوی وه . څنګه چی له (نواب ګوهر بیگمی قدسیه صاحبی) ورو سته دا ولیعهده وه ، نو د (بوپال) ریاست دی ته وسپارل

---

(٤٠٥) خورشید ، ١٨٨ مخ .

(٤٠٦) مرصع ، ٨١ مخ . لودی پښتانه ، ١٧١ مخ .

(٤٠٧) مرصع ، ٢٥٧ مخ .

شو . ( ٤۰۸ )

نواب سلطان جهان بیګم

د غلجیو د میرزا خیلو په څانګه کې او د نور الدین په کورنۍ کې د نواب شاهجهان بیګم لوربي نواب سلطان جهان بیګم بلله ، په ښکاره د هندوستان په (بوپال) کې اوسیده نیا یې نواب سکندر بیګمه په ۱۲۲٤ هـ کال زیږیدلې ده . ( ٤۰۹ )

نواب شاهجهان بیګم

د غلجیو د میرزا خیلو په پښه کې او د نور الدین په کهاله کې د نواب نظر محمد ( ۱۲۳۵ هجری مړ ینه ) لمسۍ او د نواب سکندر بیګمې لور وه . کله چې نواب سکندر بیګمه مړه شوه نواب شاهجهان بیګمه د ( بوپال ) رئیسه شوه . ( ٤۱۰ )

نواب قدسیه بیګم

( وګورئ : ګوهر بیګم )

نورۍ

نورۍ د ستر لیکوال او نومیالي قانون پوه شیخ ملي ښځه وه ، ابا او ایسوړی د دې زامن دی . ( ٤۱۱ )

نوري

د میرزا خان انصاري ښځه ( وګورئ : بي بي نور خاتون ) .

---

( ٤۰۸ ) خورشید ، ۲۱۱ ، ۲۱۲ مخونه .
( ٤۰۹ ) همدغه اثر او همدا مخونه .
( ٤۱۰ ) همدغه اثر او همدا مخونه .
( ٤۱۱ ) تذکرة الابرار ، ۸۹ مخ . مرصع ، ۲۳۲ مخ .

## نیا زمنه

د درخانی مین آدم د وه خویندی د رلودی ، یوه نازو او بله نیا زمنه. د (آدم درخانی) په نقل کی د نیازمنی ناری هم راغلی دی. کله چی آدم د درخانی له کتوو روسته مخ په لور راتلیده او پښی یی له رکابه ختلی وی ، نوچی د نیازمنی ستر کی پری ولگیدی ، دا ناره یی وکړه:

په ژړا موتول خپلوان د چیری د لالا (٤١٢) پښی په رکاب کښی اویزان دی

چه لالا دی ژوندی مړ کسه درخانیه تـه هم ومری زما د وړا نـدی (٤١٣)

## نیك زنه

د ملك اکوړی د زوی یحیی خان ښځه وه او فیروزخان د یحیی خان د همدی ښځی زوی دی. وایی دا یی وریندار کیده د یوسف خان ښځه وه ، بیاچی کونډه شوه ده په نکاح کړه . (٤١٤)

## نیك زنه

نیك زنه چی اولاده یی نیك زن خیل بلل کیږی ، د هیبت خان ښځه کیده او هیبت خان د نونو (نانو) زوی ، د بهلول لسی اود مسود (مسعود؟) کړوسی و . (٤١٥)

## وزیر بی بی

د غلجیو د میرزا خیلو په پښه اود نور الدین په اولاده کی د نواب غوث محمد (١٢٤٢ هجری مړینه) لوروه اود هندوستان په (بوپال) کی اوسیده. (٤١٦)

---

(٤١٢) آدم به یی په خپل کور کی "لالا" بالد.

(٤١٣) ملی هنداره ، ٢ ټوك ، ٦٩ ، ٧٠ مخونه.

(٤١٤) مرصع ، ٢٥٧ مخ .

(٤١٥) حیات ، ٣٤٩ مخ . خورشید ، ٢٥٦ مخ .

(٤١٦) خورشید ، ٢١١ ، ٢١٣ مخونه.

وسیلی (وسیلی)

وسیلی د ملک آزاد خان سلیمان خیل ښځه وه ، دا یې بیا کوم مړیې و ښښتو له او کټوا ز ته یې بوتله او په مروتو ننووت (٤۱۷) دلته غلجیان سره ټول شوه او پسری ورغلل ، له هغې خوا مروتو د مړیې ملا وتړله او جنګ ونښت ، د د وا ړ و خواو ډیر سړی ووژل شول ، په پای کې یې مروت له کټوا زه پاخول . (٤۱۸)

ولی النساء بیګم

ولی النساء بیګمه د نواب علی محمد خان (۱۱۱۲ هـ زیږیدنه) ګروسی ، د نواب عبد الله لمسی ، او د نواب نصر الله خان لور وه ، دا یې د علی خان زوی شجاعت خان ته ورکړی وه او د هندوستان په رامپور کې اوسیده . (٤۱۹)

PROPERTY OF ACKU 6677

ولی نعمته

د دلیرخان مور (وګورئ د ٦۰ مخ : رابعه) .

ونی

ونئ (٤۲۰) د ستر قانون پوه او لیکوال شیخ ملی ښځه وه ، د ولت او چغر د شیخ ملی د هغه ی ښځی زامن د ی . (٤۲۱)

---

(٤۱۷) پخوا مروت په کټوا ز پراته وو او اوس د غه سیمه د سلیمان خیلو په لاس کی ده (خورشید ، ۲۲٥ مخ) .

(٤۱۸) خورشید ، ۲۲٥ مخ .

(٤۱۹) هند غه کتاب ، ۱۸۸ مخ .

(٤۲۰) قلمی تاریخ مرصع ، ٥۰۳ مخ : وتۍ . کلید افغانی ، ۲۱۰ مخ : وتۍ . د پښتنو قبیلو شجری ، ٤٦ مخ : ولی .

(٤۲۱) مرصع ، ۲۳۲ مخ .

## مأخذونه


۱– أخون ، درويزه : تذكرة الابرار والاشرار ، ادارهٔ اشاعت سرحد پښاور ، ۱۳۷۹ هـ = ۱۹۶۰ ع .

۲– اخون ، درويزه : مخزن ، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي ، کال ۱۹۶۹ ع.

۳– اکبر ، عبد الاکبرخان : روښانيان د مغلو تاريکيان ، ادارهٔ اشاعت سرحد ، پېښور ، کال ...

٤– بېنوا ، عبد الروف : پښتنې ميرمنې ، کابل ۱۳۲۳ .

٥– پتنګ ، عبد الکريم : پښتو منظومې قصې ، ۱ ټوک ، کابل ۱۳۵۷ .

٦– پير ، معظم شاه : تواريخ حافظ رحمتخاني ، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي کال ۱۹۷۱ ع .

۷– پير ، معظم شاه : تواريخ حافظ رحمتخاني ، د لندن د انډيا آفس (I.O. MSS. P. 2974) قلمي نسخه .

۸– ثابت ، محمد ابراهيم : سلطان شهاب الدين غوري ، کابل ۱۳٤٤ .

۹– جوزجاني ، منهاج سراج : طبقات ناصري ، د پوهاند عبد الحي حبيبي تصحيح ، مقابله ، تحشيه او تعليق ، ۱ او ۲ ټوک ، د تاريخ ټولنه ، کابل ۱۳٤۲–۱۳٤۳ ش .

۱۰– خلمي ، محمد ولي : د کندهار مشاهير ، ... ، کال ۱۳٤۹ .

۱۱– حافظ ، رحمت خان : خلاصة الانساب ، پښتو اکيډيمي ، پېښور ، کال ۱۹۷۳.

۱۲– حبيبي ، پوهاند عبد الحي : پښتانه شعراء ، ۱ ټوک ، کابل ۱۳۲۰ .

۱۳– حبيبي ، پوهاند عبد الحي : د پښتو ادبياتو تاريخ ، ۲ ټوک ، کابل ۱۳٤۲ ع .

۱٤– حبيبي ، پوهاند عبد الحي : د افغانستان پېښليک ، ۱ ټوک ، کابل ۱۹۷٤ ع.

۱٥– حيات خان ، محمد : حيات افغاني ، لاهور ۱۸۶۶ ع .

۱٦- خادم ، قیام الدین : بایزید روښان ، کابل ...

۱۷- خټك ، افضل خان : تاریخ مرصع ، د دوست محمد خان کامل مومند مقابله ، تصحیح او نوټونه ، یونیورسټی بك ایجنسی پېښور ، کابل ...

۱۸- خټك ، افضل خان : تاریخ مرصع ، د لندن د سکول آف اورینټل اینډ افریکن سټډیز (S.O.A.S. MS. 1395) قلمی نسخه .

۱۹- خټك ، حاجی پردل خان : عوامی قیصې ، پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی کابل ۱۹۸۲ ع .

۲۰- خټك ، خوشحال : د خوشحال خټك کلیات ، د افغانستان د علومو اکاډیمی ، کابل ۱۳۵۹ .

۲۱- خټك ، صدرخان : آدم درخانۍ ، تحقیق او حواشی د پروفیسر محمد نواز طائر ، پښتو اکیډیمی پېښور یونیورسټی ، کابل ۱۹۸۹ ع .

۲۲- د پښتو ټولنی له خوا : پښتانه شعراء ، ۳ ټوك ، کابل ۱۳٤۲ ش .

۲۳- ډارمسټېټر ، جیمز : د پښتونخوا د شعرهار و بهار ، امستردام ۱۹۷٤ ع.

۲٤- ډارمسټېټر ، جیمز : د حبیب الله رفیع په اهتمام ، پښتو ټولنه، کابل ۱۳۵٦ .

۲۵- رسا ، سید رسول : ارمغان خوشحال ، یونیورسټی بك ایجنسی پېښور کابل ...

۲٦- رشاد ، پوهاند عبد الشکور : لودی پښتانه ، پښتو ټولنه ، کابل ۱۳۳٦.

۲۷- رښتین ، پوهاند صدیق الله : پښتانه شعراء ، ۲ ټوك ، کابل ۱۳۲۱ .

۲۸- رښتین ، پوهاند صدیق الله : د پښتو د ادب تاریخ ، کابل ۱۳۳۳ .

۲۹- روښان ، بایزید : خیر البیان ، د ادبیاتو او بشری علوموپوهنځی له خوا ، کابل ۱۳۵۳ .

۳۰- سیال ، میراجان : د پښتنو قبیلو شجری ، یونیورسټی بك ایجنسی پېښور کابل ۱۹۸۱ ع .

۳۱- طائر ، پروفیسر محمد نواز : آدم درخانۍ (یوه څیړنه) ، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، کال ۱۹۸۱ ع .

۳۲- ظفر کاکاخیل ، سید بهادر شاه : پښتانه د تاریخ په رڼا کښې ، یونیورسټي بک ایجنسي ، کال ...

۳۳- کاکاخیل ، میان شمس الدین : مناقب د فقیر جمیل بیګ ، د راج ولي شاه خټک تحقیق او ترتیب ، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي . کال ...

۳٤- کریمداد : دیوان کریمداد ، د دیباچه د خیال بخاري ، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، کال ۱۹٦٤ ع .

۳۵- ګنډاپور ، شیر محمد خان : تواریخ خورشید جهان ، لاهور ۱۸۹٤ .

۳٦- مخلص ، علي محمد : حالنامه " قلمي " ، د پښتو اکیډیمي ټایپشوی نقل .

۳۷- مظهری طورو ، کبرا : پښتني لیکوالې اوشاعرانې ، ۱ ټوک ، کابل ۱۳٦٦ .

۳۸- منشي ، احمد جان : د قصه خوانۍ ګپ ، پېښور ، کال ...

۳۹- نوري ، ګل محمد : ملي هنداره ، ۱ او ۲ ټوک په یوه وقایه کې ، رحمن ګل پبلشرز قصه خوانی پشاور ، کال ... ، ۲ ټوک ، د کابل چاپ ، کال ...

٤۰- هروي ، نعمت الله : تاریخ خانجهانی ومخزن افغانی ، د ډاکټر محمد شفیع حسین اردو ترجمه ، لاهور ۱۹۸٦ ع .

٤۱- هوتک ، محمد : پټه خزانه ، د پوهاند عبدالحی حبیبي تحشیه او تعلیق تهران ۱۳۳۹ ش .

٤۲- هیوز ، ت . پ : کلید افغانی ، لاهور ۱۸۷۲ ع .

# P A Ṣ̌ T A N É̄

von

Dr. Bismillah Amir

WIEN

(April 1991)

Download from; aghalibrary.com